# د وطن معماران

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د وطن معماران

لیکوالان: شاه محمود میاخېل، څېړنوال عبدالقیوم مشواڼی

کمپوز: مشواڼی

خپرندوی: د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت (USIP)

برېښنالیک: mashwanay۲@gmail.com

د پښتۍ ډیزاین:

چاپ شمېر: ۲۰۰۰ټوکه

چاپ نېټه : ۱۳۹۴ل

چاپځی : حبیب الله حسیب مطبعه- کابل، افغانستان

## د ترلاسه کولو پتې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

ټولو هغو مؤمنو ملتپالو او هېوادپالو ته، چې په هېوادنۍ رغاونه يې ملت ته هوساينه او آرامي بخښلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ

۱. سریزه .......................الف ـ ح
۲. محمد داؤد خان.......................................۱
۳. ډاکتر محمد یوسف...................................۱۹
۴. ډاکتر عبدالظاهر....................................۳۰
۵. محمد موسی شفیق .................................۳۸
۶. شمس الدین مجروح...................................۵۹
۷. عبدالمجید زابلی.......................................۶۶
۸. عبدالملک عبدالرحیمزی.............................. ۷۵
۹. عبدالله ملکیار........................................۸۳
۱۰.عبدالستار سیرت.....................................۹۵
۱۱.خوازک زلمی..........................................۹۹
۱۲.ډاکتر عبدالوکیل.....................................۱۰۸
۱۳.عبدالقیوم وردګ.....................................۱۱۸
۱۴.غلام صدیق محبي...................................۱۲۲
۱۵.عبدالرحمن پژواک..................................۱۳۵

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۶.عبدالهادي داوی ............ ۱۴۲

۱۷.شېرخان ناشر ................................ ۱۴۹

۱۸.فیض محمد خان .................................. ۱۵۷

۱۹.محمدگل خان مومند ........................... ۱۷۴

۲۰.غلام رسول پرماچ ................................ ۱۸۵

۲۱.گل پاچا الفت ...................................... ۲۰۵

۲۲.احمد علي کهزاد .................................. ۲۱۴

۲۳.حسن خان گردېزی ................................. ۲۲۷

۲٤.غلام محمد فرهاد .................................. ۲۴۶

۲٥.سیدجگړن هزاره .................................. ۲۵۵

۲٦.ډگروال جمال الدین ............................... ۲۶۰

۲۷.ماخذونه ........................................... ۲۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه:

زما پـلار ارواښـاد سـید محمـود"حســرت" چـې د محمـدظاهر او محمد داؤدخان په دورو کې یې د افغانستان په حکومت کې تقریباً درې لسیزې په بېلابېلو ولایتونو کې دنـده اجـرا کـړې وه او د هېـواد لـه ډېـرو دولتي چارواکوسره یې له نږدې نه پېژندل، همېشه بـه یـې راتـه د هغـوی کیسې کولې، چې چا ښه کار کـړی دی او چـا نـه دی کـړی. یـو وخـت راغی چې زه هم د کورنیو چارو وزارت معین شوم، خدای بخښلی پـلار مې دفتر ته راغی، راته ویې ویل معین شوی یې؛ خو دا هم یاد لره چـې د وظیفې نه به یوه ورځ تبدیلېږې او یا ځې؛ خو چې نه ځان بد نام کـړې او نه د قانون خلاف کار وکړې.

پلار مې راته د کورنیو چارو وزارت د دوه پخوانیو معینانو کیسې وکـړې، چې یو یې په کار نه پوهېده، خلک به یې توهینـول؛ خـو زیـاترو مـامورینو بـه غیرقانوني کارونه هم په هغه تېرول او ټول مامورین او مراجعین بـه تـرې خفـه هم وو. دا بل معین په کار پوهېده، هیڅ‌چا ته یې غیرقانوني کار نه کاوه؛ خـو لـه هرچا سره یې ښه سلوک کاوه؛ نو ځکه به ترې ټول مامورین خوشاله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پلار دا دوه خبرې مې همېشه په ذهن کې وې او د پخوانیو لوړ پوړو چارواکو هغه کیسې مې هم زیاتره یادې دي، چې هغه راته کړې وې.

په دې وروستیو وختونو کې په دولت کې او هم له دولت نه بهر، چې فساد مخ په زیاتېدو دی؛ زموږ ځوان کهول چې د تېرو څو لسیزو جنګونو له امله یې ژوند خراب شوی او تل یې د هېواد په اړه منفي شیان لیدلي او اورېدلي دي، نو ځینو ته خو په دولت کې کارکول هم جرم ښکاري.

له همدې امله مې په فکر کې راوګرځېده، چې په دولت کې کار کول جرم نه دی او د دې معنی هم نه لري، چې ګوندې چا په دولت کې کار کړی هغه ټول بد کسان دي. په دې اساس مې دا وپتېیله چې د هېواد د یو شمېر هغو لوړ پوړو چارواکو د خدمتونو کارنامې راټولې او د تذکرې په بڼه یې چاپ کړم، چې زموږ د وطن خدمتګاران تېرشوي دي او نومونه یې اوس هم په ولسونوکې په ډېره درنه یادېږي او یا له ولسونو سره ژوندي پاتې دي. په دې سره به مو له یوې خوا د دوی د خدمتونو د ستاینې پور ادا کړی وي او له بله پلوه به مو ځوان نسل ته دا ښودلې وي، چې په دې وطن کې ښه خادمان هم تېرشوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي لوستونکيو سره دا پوښتنه راولاړه شي، چې داسې تذکرې ډېرې ترتيب او ليکل شوي دي؛ نو د دې اړتيا څه وه؟ له نورو سره يې توپير څه دی؟ يا دا چې په دې کې د بېلابېلو قومونو، ځايونو او مسلکونو کسان معرفي شوي دي؛ نو دا د کټگورۍ له مخې څه ډول تذکره ده؟ يا دا چې دا کسان د کوم تړاو له مخې په يوه تذکره کې معرفي شوي دي؟

همدغو پوښتنو ته ځواب ويل په حقيقت کې د دې تذکرې اهميت او موخه په گوته کوي.

د دې تذکرې د ليکلو اړتيا دا وه:

ځوان نسل چې څومره وپوښتل شي زياتره وايي: د دې هېواد د حکومتي سيستم بنسټ پر خيانت، غدر، غصب، تربگنۍ، قومي، ژبنې او سيمه ييز تبعيض ايښودل شوی دی.

که له احساساتي پرېکړو تېر شو، ښايي حقيقت بل ډول ومومو. په دې هېواد کې رښتيني خداپپال، ملتپال، غريبپال او انسانپال مشران او چارواکي هم تېر شوي دي؛ خو وروستيو کورنيو جنگونو او جلاوطنيو په ځانگړي ډول زموږ ځوان کول له ځان او هېواد څخه پردي کړ، د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد تاريخ او د ځينو مشرانو کارنامې او کړنې يې ترې هېرې او ورکې کړې.

له بله پلوه رښتيا دا ده چې اوسمهال په زياترو چارواکو کې هغه ديانت نشته، چې دوی ترې تمه لري؛ نو اوس دوی د خپل ټول تاريخ په اړه له منفي ذهنيت پرته نور څه نه لري.

په دې تذکره کې يو شمېر هغه افغان چارواکي او مشران معرفي شوي دي، چې تر ډېره بريده يې هغه معيارونه پوره کړي وي، چې ځوان نسل يې د چارواکيتابه لپاره شرط ګڼي. د دې چارواکو له کړنو او کارنامو په خبرېدو سره ښايي له يوې خوا د دې نسل د قضاوت لوری بدل شي، په پايله کې د منفي ذهنيت پرځای مثبت ذهنيت خپل او له نهيلۍ راووځي او له بلې خوا ښايي چارواکي هم له دې الهام واخلي او د خپل ښه نامه پاتې کولو لپاره د ملت هوساينې، پرمختګ او عزت ته مخه کړي.

له نورو تذکرو سره د دې تذکرې توپير دا دی، چې د نوميالیو چارواکو تذکره ده، ملي تذکره ده او د ملي ارمانونو پر بنسټ ترتيب او کښل شوې ده. قومي، ژبنۍ، سيمه ييزې، مذهبي او ګوندي منفي

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېوالتیاوې پکې مردودې ګڼل شوي او یوازې ملت او ملي ګټې په پام کې نیول شوې دي.

په تذکره کې د معرفي شویو کسانو پخپلو کې تراو یوازې د ملي توب، صداقت، خدمت او دیانت د توکو شتون دی. دا هغه معنوي او ارزښتناک توکي دي، چې انسان ته همېشنی ښکلا بخښي، داسې ښکلا چې بیا یې هیڅ آفت نه شي زایلولای.

دغه ډول چارواکي پر ملت حق لري، چې یاد یې ژوندي وساتي، د هغوی لاره ونیسي او هغه پراو ته پرې ځانونه ورسوي، چې د نړۍ پرمختللي ملتونه ورته رسېدلي دي.

د داسې کتاب لیکلو پر مادي ستونزو سربېره نورې ستونزې هم درلودلې. د کوم دور نه پیل وکړو او کوم اشخاص انتخاب کړو؟ ایا د دې چارواکو په اړه کافي معلومات شته دي او که نه؟ له کومې منبع نه د دوی په اړه معلومات حاصل کړو. ځینو ولایتونو ته د سفرونو کولو اړتیا هم وه او داسې نورې ستونزې هم وې.

دا مفکوره مې د ښېرنوال عبدالقیوم مشواني او ځینې نورو دوستانو سره شریکه کړه، ټولو راته دا مشوره راکړه، چې دا به ډېر ښه ابتکار وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د وطن د معمارانو په نامه د ظاهرشاه او داؤدخان د دورو د يو شمېر لوړ پوړو چارواکو د کارونو بېلګې راټولې او په کتابي بڼه يې چاپ کړو.

د دې چارواکو په لست مو کار وکړ؛ بالاخره مشواڼي صاحب ته مې دا مسوولیت وسپاره، چې له سیمو څخه د دوی په اړه معلومات راټول او ځینې ولایتونو ته سفرونه وکړي.

د وطن د معمارانو دا ټولګه یوه بېلګه ده، ډېر نور داسې چارواکې هم تېر شوي، چې دې وطن ته یې خدمت کړی دی؛ نو امېد دی چې په راتلونکې کې دا سلسله همداسې دوام وکړي. موږ یوازې د ظاهرشاه او داؤدخان په دورو کې د ځینو چارواکو په اړه څېړنه وکړه، ځکه د دوی نه د مخکې او وروستو دورو د اشخاصو انتخاب یو څه سیاسي ستونزې درلودې؛ نو یوازې مو په دې دوه دورو اکتفا وکړه.

ښايي دې چارواکو په خپل وخت کې څه اشتباګانې هم کړې وي؛ خو د دوی د کارونو مثبت اړخونه تر منفي اړخونو زیات دي او وايي، چې کار کوي؛ نو هرومرو به اشتباه هم کوي. د دې کتاب له لوستونکو څخه زما هیله دا ده، چې د دې کتاب په مثبتو اړخونو زیات فکر وکړي نه په منفي اړخونو باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اخره کې زه د متحده ایالاتو د سولې له انستیتوت نه مننه کوم، چې د دې کتاب مصارف یې ورکړل. همدارنګه له ښاغلو عبدالقیوم مشواڼي او محمدپاچا څخه مننه کوم، چې د دې کتاب په لیکلو او اهتمام کې یې زیات زیار ګاللی او ولایتونو ته یې سفرونه کړي دي.

همدارنګه له خپلو همکارانو، اسدالله ساحل او ثناالله تسل نه مننه کوم، چې د دې کتاب د لیکلو په وخت کې یې مرسته او د چاپ همکاري کړې ده.

له ټولو هغو چارواکو او دوستانو هم د زړه له کومي مننه کوو، چې په بېلابېلو ولایتونو او سیمو کې یې له موږ سره مرسته کړې او نومونه یې په مرکو کې راغلي دي.

د پکتیا د اطلاعاتو او کولتور له رئیس محمدشفا مشفق، سرڅېړونکي نعمت الله اندړ، څېړندویې راضیې نوري، له ځوانو کادرونو امان الله امان، روان نورزي، بوستان ولیزي، عزیزالله مبارز، استاد اورنګزېب اسحاقزي، د لغمان له سکتوري رئیس سنک عبدالرحیمزي، فضل امین امیني، ذبیح الله احساس او نورو هغو ملګرو څخه ډېره ډېره مننه، چې په خپلو مرستو یې دا هڅه د کتابګوټي تر بریده ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې هیله چې دا تذکره به د اوسنیو چارواکو لپاره د الهام اخیستنې او په پایله کې افغان ولس ته د هوساینې یو لامل وګرځي.

شاه محمود میاخېل

په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو د سولې انستیتوت رئیس

۲۰۱۵ م. د مارچ درویشتمه

وزیر اکبرخان مېنه، کابل- افغانستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لیکلړ


١. سریزه .........................الف ـ ح

٢. محمد داؤد خان.................................١

٣. ډاکتر محمد یوسف.............................١٩

٤. ډاکتر عبدالظاهر...............................٣٠

٥. محمد موسی شفیق ..............................٣٨

٦. شمس الدین مجروح.............................٥٩

٧. عبدالمجید زابلی.................................٦۶

٨. عبدالملک عبدالرحیمزی.......................... ٧٥

٩. عبدالله ملکیار..................................٨٣

١٠.عبدالستار سیرت................................٩٥

١١.خوازک زلمی...................................٩٩

١٢.ډاکتر عبدالوکیل...............................١٠٨

١٣.عبدالقیوم وردگ..............................١١٨

١٤.غلام صدیق محبي..............................١٢٢

١٥.عبدالرحمن پژواک.............................١٣٥

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱٦.عبدالهادي داوی ............ ۱۴۲
۱۷.شېرخان ناشر ............................ ۱۴۹
۱۸.فیض محمد خان ................................ ۱۵۷
۱۹.محمدگل خان مومند ................................ ۱۷۴
۲۰.غلام رسول پرماچ ................................ ۱۸۵
۲۱.گل پاچا الفت ................................ ۲۰۵
۲۲.احمد علي کهزاد ................................ ۲۱۴
۲۳.حسن خان گردېزی ................................ ۲۲۷
۲٤.غلام محمد فرهاد ................................ ۲۴۶
۲٥.سیدجګړن هزاره ................................ ۲۵۵
۲٦.ډګروال جمال الدین ................................ ۲۶۰
۲۷.ماخذونه ................................ ۲۶۰

(c) ketabton.com: The Digital Library





# محمد داؤد خان

محمد داؤد خان د محمد عزیـز خـان زوی پـر **۱۲۸۷**ل= **۸** جـولای **۱۹۰۹**م. په کابل ښار کې زیږېدلی دی.

زده کړې یې تر منځني ښوونځي پورې د کابل ښار په استقلال لیسه (د هغه مهال امانیه) کې وکـړې. پـه **۱۳۰۰**ل. کـې د نـورو زده کـړو لپـاره فرانسې ته لاړ او هلته یې د انجینرۍ په څانګه کې زده کړو ته دوام ورکړ. تر زده کړو او راستنېدا وروسته لومړی په بهرنیو چارو وزارت کې په دنده وګومارل شو؛ خو وروسته یې بیا په پلې نظامي برخه کې په زده کړو پیـل وکړ. د دې دورې په بشپړولو سره په**۱۳۱۰**ل. کې د هغه وخـت پـه حربیـه وزارت کې شامل شو.

پر رسمي زده کړو سربېره یې کاکا محمدهاشم خان د هغه په روزنـه کې پوخ لاس درلود او د هغه تر مستقیمې پاملرنې لاندې وروزل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





داؤد خان د مور په غېږه کې

په۱۳۱۱ل. کې د ختیځ( ننگرهار، کونړ، لغمان) د عسکري قومانـدان او په ۱۳۱۲ل. کې د ختیځې حوزې د نایب الحکومه په توگه هـم وټاکـل شو. په همدې کال یې د محمد ظاهر پاچا له خور"زینب" سره واده وکـړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۱۴**ل. کې نایب الحکومه او د کندهار، ارزگان، زابل، هلمند، فراه او نیمروز ولایتونو عسکري قوماندان وټاکل شـو. پـه **۱۳۱۷**ل. کـې بیـا پـه ختیځو ولایتونو کې د ځواکونو د عمومي قوماندان او تنظیمیه رئـیس پـه توګه مقرر شـو. د **۱۳۱۸**ل. پـه زمـري کـې د مرکـزي ځواکونـو او حـربي ښوونځي د قوماندان په توګه وټاکل شو. د شاه محمودخان د صدارت په دوره **۱۳۲۵**ل. کې د **۳۸** کالو په عمر دفاع وزیر وټاکل شـو. د **۱۳۲۶**ل. پـه غوایي= **۱۹۴۸**م. کې په پاریس کـې د افغانسـتان د لـوی سـفیر پـه توګـه وټاکل شو او د **۱۳۲۸**ل. تر لړم= **۱۹۵۳**م. پورې په همدې دنده پاتې شو.

د **۱۳۳۲**ل. کـال پـه وږي = **۶**سـپتمبر **۱۹۵۳**م. کـې د افغانسـتان د صدراعظم په توګه اعلان شو او خپله کابینه یې په لاندې ډول اعلان کړه:

علي محمد خان د صدارت لومړی مرستیال.

محمد نعیم د صدارت دویم مرستیال او د بهرنیو چارو وزیر.

جنرال محمد عارف د دفاع وزیر.

سید عبدالله د عدلیې وزیر.

محمد داؤد د کورنیو چارو وزیر.

عبدالملک عبدالرحیمزی د مالیې وزیر، وروسته عبدالله ملکیار.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرؤف حیـدر د سـوداګرۍ وزیـر، وروسـته عبـدالرحیمزی، عبـدالله ملکیار، غلام محمد شېرزاد.

ډاکټر عبدالحمید د پوهنې وزیر، وروسته ډاکټر علي احمد پوپل.

عبدالحکیم شاه عالمي د فوایدعامې وزیر، وروسته محمد کبیر خان.

ډاکټر غلام فاروق د روغتیا وزیر، وروسته ډاکټر عبدالظاهر.

محمد مرید خان د مخابراتو وزیر.

میر محمد یوسف خان د زراعت وزیر، وروسته غلام حیدر عدالت.

احمد علي سلېمان د دربار وزیر.

ډاکټر محمد یوسف د کانو او صنایعو وزیر.

صلاح الدین سلجوقي د مطبوعاتو مستقل رئیس، وروسته محمد هاشـم میوندوال، سید قاسم رښتیا، محمد آصف سهیل.

محمد داؤد د پلان وزیر.

عبدالحی عزیز د پلان وزارت مرستیال د کابینې له غړیتوب سره.

عبدالرشید خان د ملي شورای رئـیس، وروسـته محمـد نـوروز او ډاکټـر عبدالظاهر.

حافظ نور محمد کهگدای د صدارت سرمنشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د صدراعظم په توګه د محمـد داؤد خـان ټاکنـه پـه حقيقـت کـې د افغانستان لپاره د نوې دورې پيل ګڼل کېږي. د محمد داؤد خان حکومت د تېرو حکومتونو په پرتله تر کورني اړ و دوړ ( ۱۳۰۸ل) وروسته يو ډول



مجروح، پوپل، عبدالرحيمزی او د محمد داؤد خان د کابينې نور غړي

د اوښتون او بدلون حکومـت ګڼـل کېـده، چـې د اقتصـادي او ټـولنيزو فعاليتونو له پلوه د اماني دورې ادامه يا تجديد راپـه زړه کـوي. ځکـه لـه يوې خوا د کابينې په ترکيب کې په بې سارې توګه، چې په معمـول ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ځینې کسان تبدیل او پرځای به یې نور تاکل کېدل، دا ځل له علي محمد خان پرته چې د صدارت لومړی مرستیال پاتې شو، تقریباً د کابینې ټول غړي نوي وو. د کابینې غړي هم ځوان او تعلیم یافته کسان ټاکل شوي وو، لکه ډاکټر محمد یوسف، ډاکټر علي احمد پوپل، ډاکټر عبدالرؤف حیدر، ډاکټر عبدالمجید، عبدالله ملکیار او نور.

له بلې خوا د حکومت پروګرامونو هم نوې بڼه او طریقه غوره کړې وه، چې په خپل ذات کې یې مخینه نه درلوده.

محمد داؤد خان د کابینې له جوړولو سره سم له مشورې او نظرغوښتنې پرته د هېواد په عصري کولو پیل وکړ. د هغه د حکومت تګلاره د پوځ پیاوړي کولو، د پښتونستان مسألې حلولو، د قبایلو د خپلواکۍ کمولو او د هېواد د اقتصادي پرمختیا لپاره له بهرنیو مرستو ګټې اخیستلو جوړوله. د محمد داؤد خان د حکومت بهرنۍ سیاست د هغه ورور محمد نعیم خان حل و فصل کاوه او اقتصادي او مالي چارې یې د نږدې ملګري "عبدالرحیمزي" په وسیله مخکې وړل کېدې، چې د مالیې او سوداګرۍ وزیر و.

د افغانستان پوځ د محمد داؤد خان تر صدارت دمخه د جنګي چمتووالي له مخې ناتوانه ښکارېده.څرنګه چې محمد داؤد خان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاکستان پر وړاندې د مقابلې دعوه درلوده او د پښتونستان د داعيې خبرې يې کولې؛ نو اړ و، چې د څرنګوالي او شومره والي له مخې په لنډه موده کې په پوځ کې ډېر او مثبت تغييرات راولي.



محمد داؤدخان او پښتون قومي مشر عبدالغفارخان

د افغانستان پوځ د **۱۳۳۷**ل= **۱۹۵۸**م. کال په پيل کې په لومړي پړاو کې له روسانو څخه دا تخنيک او وسلې تر لاسه کړې: کرابين ټوپک، په. په. شې. ماشيندارې، ګرينوف ماشيندارې، کلاشينکوف، سپک لاسي راکټونه، د ټانک ضد منځني او درانده راکټونه او بيا پي. کا. ماشيندارې، د پليو جز و تامونو لپاره **۸۲** م.م. هاوانونه، د مېکانيزه قطعاتو لپاره بي. ټي. آر. **۴۰**او بي. ټي. آر. **۱۰۲**

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرهپوشــــونه، تــــي. **۳۴** ټانکونــــه، ام. **۳۰** او ډي. **۳۰** توپونــــه، **۱۰۷**م.م. هاوانونــه، د ټانــک ضــد **۷۵** م. م. او د الــوتکې ضــد**۳۷**م.م. توپونــه، د محاربوي او دافع هوا قطعو لپاره ثقلـور میلـه ماشـینداري، د پیـاوړي او قوي هوايي ځواک لپاره سو **۷**، مېګ **۱۷**او مېګ**۱۹**محـاربوي الـوتکې او ټرانسپورټي هلیکوپټرې. زیاتره دا تخنیک او وسلې په دویم نړیوال جنـګ کې کارېدلې وې.

د محمد داؤد خان د صدارت په دوره کې حـربي ښـوونځي، حـربي پوهنتون ته ارتقاء وکړه او پلی، توپچي، دافع هوا، مخـابره، اسـتحکام او لوژستیک پوهنځي پکې رامنځ ته شول.

په **۱۳۳۸**ل=**۱۹۵۹**م. کال کې د شینډنډ هوايي ډګـر د جوړولـو کـار پیل شو، چې د راکټ، ټانک، زرهدارو **۴** او **۱۵**لواګانې او مهمې او اړینې ودانۍ لکه د تخنیک او الوتکو ورکشاپونه او نورې پکې د نـوي تخنیـک او پوځي غوښتنو پر بنسټ یو پر بل پسې جوړې شوې.

محمد داؤد خان ډېره هڅه وکړه چې د پخواني سیستم پوځ پـه نویـو معیارونو، تخنیک او وسلو سره سمبال کړي او د جنګي احضاراتو درجه یې ورلوړه کړي. په همدې دوره کې پـه پـوځ کـې نـوي جـز و تامونـه او قطعات رامنځ ته او تعلیم یافته افسران پکې زیـات شـول. هغـه پخپلـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوځ د چارو او څرنګوالي او څومره والي څارنه کوله او د خپل حکومت کلک پام یې دې لور ته رااړولی و.

محمد داؤد خان کورنی سیاست ځوان او لوستي پوړ تـه د پـاملرنې پر محور څرخاوه. هغه د سوداګرۍ په برخه کې یـې د "پرانیسـتو دروازو رهبري شوی سیاست" اعلام کړ. هغو پانګوالو او ځمکوالو ته یې په ښـه سترګه نه کتـل، چـې ځـانګړي دربارونـه یـې درلـودل او د پـانګوالۍ او فیوډالیزم ښودنه یې کوله. د هغه په حکومت کې د فیوډالېزم ستنې تقریبـاً ولړزېدې.

محمد داؤد خان په داسې حال کې چې پخپله پښتون او له پاچـاهي کورنۍ څخه و؛ خو هیڅکله یې خپل قوم او قبیلـې تـه تـر نـورو زیـات امتیاز ورکول روا نه ګڼل. هر ډول قبیلوي، سمتي، مذهبي او ژبنی امتیاز یـې مـردود ګڼـه او ویـل یـې چـې د زده کـړو درجـه، پـاک نفسـي او وطندوستي تر ټولو لوړ معیارونه دي.

وایي چې د شاهي مشروطه نظام وړاندیز هم محمد ظاهر پاچا ته د هغه له خوا شوی و. دغه نوی اساسي قـانون د **۱۳۴۳**ل. د تلـې پـه ۹مـه تصویب شو. په دې نوي اساسي قانون کـې افغـاني دودونـه او د عصـر غوښتنې څنګ په څنګ په پام کې نیول شوي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه **۱۳۳۳**ل= **۱۹۵۴**م. کـې آریانـا هـوایي شرکـت د پـان امـریکن، د زیمـنس مـالونو د خـرڅلاو شرکـت او فـرانکلین مطبعـې، د جاپـان او لویدیځ المان په ګډې پانګې په فعالیت پیل وکړ.




د "کرنې د پراختیا بانک" او "پښتنی تجارتی بانک" د هغه د صـدارت په دوره کې (**۱۳۳۳**ل= **۱۹۵۴**م) رامنځ ته شول، چې فعالیتونه یې د دولت په کنټرول کې وو. همدارنګه "بانک رهنی و تعمیراتی" د افغانستان بانک څخه د پورونو په اخیستو سهامي شرکتونـو، سـوداګرو او پـانګوالو تـه د کریډټونو په ویشنه کې خپل مهم رول لوباوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کندوز کې د جاپاني پانګې د شرکت پـه ونـډې د چینـي جوړولـو فابریکه جوړه شوه.



پـه همـدې دوره کـې د هلمند نـاوې پـروژه تـر کـار لانــدې وه او امریکـا خپـل پورونـــه افغانســـتان تـــه وبخښل. پـه همـدې کـال د افغانستان او شوروي اتحاد تر منځ تړون لاسلیک شو، چې لـه هغـه سره شـــوروي اتحـــاد د مرکز د سیلو او قـیر فابریکې د جوړولـو کریډټ ورکولـو تـه چمتو شو.



د مرکز(کابل) سیلو

لــومړنی پنځـه کلن پلان د (**۱۳۳۵-۱۳۴۰ل=۱۹۵۶- ۱۹۶۱م**) کلــونـو لپـاره تـرتیب شـــو. د دې پـلان د تـطبیـق لپـاره تـولـې (**۶،۱۰**)میلیارده افغـانـۍ پانګـه اټکـل شوې وه. د لومړني پنځه کلن پلان د بنسټیزو موخو په پلې کېدو کـې، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوروي اتحاد پر اقتصادي مرستو ډېره لګېده. د دې مرستو حجم د ټولو بهرنيو مرستو په سلو کې**۷۰** ته رسېده، چې د هغو په ترڅ کې د ننغلو د برېښنا فابريکه د سل زرو کيلو واټو په ظرفيت، د جنګلک کارخونه، د ننګرهار ناوه او د سالنګ شېرخان بندر لويه لاره جوړه شوه. په لومړني پنځه کلن پلان کې ځانګړې پام زراعت ته اړول شوی و، چې د هېواد تقريباً **۹۰** سلنه وګړي پرې بوخت وو.

څرنګه چې په لومړني پنځه کلن پلان کې لګښت د پلان له مخې تر حقيقي لګښت کم سنجول شوی و او د ځينو پروژو د ترسره کېدو موده هم خوشبينانه په پام کې نيول شوې وه؛ نو د لومړني پلان يو شمېر پروژې دويم پلان ته ولېږدېدې.

په دويم پنځه کلن پلان (**۱۳۴۱- ۱۳۴۶**ل= **۱۹۶۲- ۱۹۶۷**م) کې د اقتصاد بنسټيزو ساحو لکه: صنايعو، کانونو راويستنې، انرژۍ او د ټرانسپورټ انکشاف ته ځانګړی پام شوی و. د دويم پنځه کلن پلان ټوله پانګونه (**۲۵**) ميلیارده افغانۍ جوړېده. د دې پلان ترسره کېدل هم د بهرنيو اقتصادي او تخنيکي مرستو په تر لاسه کولو پورې تړلي وو، چې **۱۸**ميلیارده افغانۍ يا د پلان د ټولې پانګونې په سلو کې **۷۵** يې جوړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دویـــــم پنځه کلـن پـلان تر پـای پـورې د کابل، کندهار او شو نـور لـوی او کــوچني هــوايي ډگرونـــه بشـــپړ شول. همدارنگه د کابل-جلال آبـاد، کابـل- کنـدهار، سـپین بولـدک- کنـدهار، کوشـک-هرات، کندهار- کابل او کابل- شېرخان بندر سرکونه ورغېدل.

د یادولو وړ ده، چې د محمد داؤد خان د صدارت په پیل کې په ټول افغانستان کې۱۱ کیلومتره ډمبر سرک موجود و، خو د هغـه د اسـتعفا پـر مهال ۲۰۰۰ کیلومتره ډمبر او ۱۰۰۰ کیلومتره ډمبر ته چمتو سرک موجـود و. همدارنگه د کابل پوهنتون د محصـلینو شـمېر ۴۰۰ کسـه و، چـې پـه څلورو پوهنځیو کې یې زده کړې کولې؛ خو د هغه د اسـتعفا پـر مهـال د محصلینو شمېر ۴۰۰۰ کسه و او په لسو پوهنځیو کې یې زده کړې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې دوره کې د پلخمري او ګرشک پروژو پــه تولیـد پیـل وکـړ. د غوري د سمنټو فابریکــه پــه کـال کــې د۱۴۰ زره ټنـو او د کـور جوړولـو فابریکه د ۳۵ زره متره مربع په ظرفیت ګټې اخیستنې ته وړاندې شــوې. د هغه د صدارت پر مهال د افغانیو ارزښت هم د بهرنیو اسعارو پر وړانــدې پورته شو، آن چې یو امریکایي ډالر۳۸ افغانیو ته راکښته شو.

محمــد داؤد خــان لــه( ۱۳۳۵- ۱۳۴۲ل= ۱۹۵۶- ۱۹۶۳م) څلــور ځلــه پخواني شوروي اتحاد او یو ځــل پــه ۱۳۳۷ل= ۱۹۵۸م. کــې امریکــا تــه سفر وکړ. د ۱۳۳۲ل= ۱۹۵۳م. پــه مــارچ کــې یــې د افغانســتان د رســمي استازي په توګه د سټالین د ښخولو په مراسمو کې هم ونډه واخیسته.

محمد داؤد خان د (۱۳۴۱ل د کب پــه ۱۱مــه=۱۹۶۳م) د صــدارت لــه مقامه استعفا وکړه. د محمد داؤد خان د صدارت په لس کلنه دوره کې په رښتینې توګه د پرمختګ نغاره په چټکۍ سره او پرلپسې وډنګېــده. همــدا لامل و، چې د نوې نړۍ بېلابېلې نخښې راڅرګنــدې شــوې. پــه همــدې دوره کې افغانستان ته د نړیوالو پام راواوښت. د نړۍ له هېوادونو سره پــه اقتصادي، سیاسي، فرهنګي او ډیپلوماتیکو ډګرونــو کــې د اړیکــو دایــره پراخه شوه او افغانستان له سیاسي ګوښه توب څخه راووت. داسې چــې پخپله محمد داؤد خــان د خپــل صــدارت پــه دوره کــې امریکــا، ترکیــې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چکوسلواکیا، مصـر، پولېنـډ، شـوروي اتحـاد، اتـرېش، برتانیـا، ایـران، پاکستان، ایټالیا او یوګوسلاویا ته رسمي او دوسـتانه سـفرونه وکـړل او د دوه اړخیزو اړیکو په پراختیا کې یې هڅې وکـړې. د محمـد داؤد خـان د حکومت بهرنی سیاست په ناپېیلتوب ولاړ و. په کورني سیاست کې یـې تر سیاسي اصلاحاتو، اقتصادي او ټولنیزو ته زیاته ترجیح ورکړه.

محمد داؤد خان د ګاونډیو هېوادونو او نورې نـړۍ د ټکنـالوجۍ، اقتصاد او ټولنیزو نویو تحولاتو سره د بلدتیا له امله کړېده؛ نـو هڅـه یـې کوله، چې په یوه بې سارې چټکتیا سره افغانسـتان د پرمختللیـو صـنعتي هېوادونو په کتار کې ودروي. له همدې امله یـې د هغـو کسـانو سـخت مخالفت کاوه، چې د هغه دې هیلې ته په رسېدو کې یې چل ول، سستي او لټي کوله. سره له دې چې د شهید محمد داؤد خان د شخصیت پـه اړه په سیاسي سطحه نظریات بېلابېل دي؛ خو له دې ټولو سره سره ارواښـاد محمد داؤد خان له هغو مشرانو څخه یو و، چـې د نـاپېیلو هېوادونـو پـه لیکه کې یې ځانګړی ځای خپل کړی و. هغـه کـولای شـول د ختـیځ او لوېدیځ په سیالۍ کې افغانستان له ګوښه توب څخـه د پرمختیـا لـور تـه وخوځوي او د خپلواکو او ناپېیلو هېوادونو په کتار کې یې تثبیت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داؤد خان پاک اخلاقه، جدي، تندخویه، په ټوله معنی نظامي، وطندوست او زیارکښ انسان و، چې تر خپلې مشرۍ لاندې یې د هېواد له چټک پرمختګ سره کلکه مینه درلوده. له کار پرته یې د هیڅ په اړه فکر نه کاوه. هره ورځ یې آن تر ۱۶ساعتو کار کاوه. د هېواد د اقتصادي پرمختګ او هوساینې پر وړاندې یې نور کارونه هیڅ ګڼل. ساعتتېرۍ او مزې چړچې یې نه خوښولې، شخصي ژوند یې ډېر ساده او بې سینګاره و. یوازې په سګرټو روږدی و، چې هغه یې هم په وروستیو کې د ډاکټرانو په سپارښتنه پرېښودل.



شهید محمد داؤد خان له ځانښودنې او ریا پرته له خپل هېواد افغانستان او افغان ملت سره د زړه له تله مینه درلوده. د دې ولس د فرهنګي او مدني ژوندانه په لوړولو پورې یې سخت زړه تړلی و. د ملي ګټو پلوی و، د خپل هېواد د پرمختګ او ګټو لپاره یې ژوند کاوه. د سپېڅلې او پاکې اسلامي ګروهې څښتن و او له خپل خالق سره یې ټینګه اړیکه درلوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغان ولس هم د هغه په دغې مينې او خلوص پوه شـوی؛ نـو چـې اوسمهال هر چېرته د پخوانيو واکمنو په اړه خبرې اترې کېـږي، خلـک د محمد داؤد خان نوم ډېر په درنښت يادوي، دعا ورته کوي او په وحشيانه وژل کېدو يې ډېر خواشيني دي.

د محمد داؤد خان د جسد ښخولو ځای تر **۱۳۸۷**ل. پورې معلوم نـه و؛ د همدې کال پـه لينـدۍ کـې د "حامـد کـرزي" حکومـت د اروابښـاد محمد داؤد خان د جسد موندلو لپاره يو کمېسيون و ګوماره او له اعـلان سره سمې يې پلټنې پيل کړې. تر ډېرو پلټنو وروسته هم څـه ونـه مونـدل شول. بيا له پکتيا څخه د څلورمې زغره والې لوا پخواني افسـر پاچامير د ټيليفون له لارې وويل، چې ځای يې ما ته معلوم دی؛ خو هغه هم يوازې ساحه په ګوته کړه او دقيق ځای ترې هېر و. بيا د "ده سبز" يوه کس چـې "مولاګل" نومېده هغه ځای سم ور په ګوته کړ او په دوو قبرونو کـې يـې **۲۹** مړي وروښودل، چې په يوه کې **۱۳** او پـه بـل کـې **۱۹** کسـه ښـخ وو. وايي، چې د شهيد داؤد خان په جيب کې د الله کلام هماغسې پروت و.

جسد يې د ډېرو پرتمينو مراسمو پـه تـرڅ کـې د کـب پـه(**۲۷**مـه) د دارالامان لوېديځ ته په هغه غونډۍ باندې خاورو ته وسپارل شو، چـې د داؤدخان په نامه ونومول شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د هېواد په تاریخ کې یې په لومړي ځل جمهوري دولت رامنځ ته کړ.
- ✓ د هېواد زیاتره لویې اقتصادي پروژې د ارواښاد محمد داؤد خـان د صدارت او یا جمهوري ریاست په دورو پورې اړه لري.
- ✓ د هغه د صدارت او جمهوري ریاست پـه دورو کـې پـوهنې بـې ساري وده وکړه.
- ✓ د هېواد لوی برېښنا بندونه او لویې لارې زیاتره د هغه د صدارت او یا جمهوري ریاست په دوره کې جوړ شوي دي.
- ✓ په کورني او بهرني سیاست کې یې داسې نوښتونه رامنځ ته کړ ل چې په افغانستان کې یې مخینه نه درلوده.
- ✓ تر ټولو ستره کارنامه یې دا چې له دین او هېواده یې سر ځار کړ؛ خو افغاني او اسلامي پت یې وساته.

لوی فکرونه وکړئ، چې لوی انسانان شئ، واړه فکرونه انسان کوچنی کوي.

***   ***   ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ډاکټر محمد یوسف

ډاکټر محمد یوسف د محمد حسن خان زوی پر ۱۲۹۲ل. کال په کابل کې وزیږید. لومړنۍ زده کړې یې په نجات لیسه کې وکړې. تر دویم نړیوال جنګ دمخه د لوړو زده کړو لپاره المان ته ولیږل شو او د "کوتینګن"پوهنتون په فزیک څانګې کې یې تر ډاکټرۍ پورې خپلې زده کړې بشپړې کړې.

ډاکټر محمد یوسف پر دري او پښتو سربېره په جرمني او انګلیسي ژبو ښه پوهېده؛ خو له فرانسوي او عربي ژبو څخه یې هم ګټه اخیستلای شوه. هېواد ته تر راستنېدو وروسته د کابل پوهنتون په ساینس پوهنځي کې د استاد په توګه مقرر شو. په۱۳۲۲ل. کې د ساینس پوهنځي مرستیال شو؛ خو د مرستیالۍ تر څنګ یې تدریس هم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۲۶**ل. کې د پوهنې وزارت د مسلکي تدریساتو رئیس مقرر شو. په **۱۳۲۸**ل. کې د پوهنې وزارت تدریسي معین مقرر شو. په**۱۳۳۱**ل. کې په اروپا کې د افغانستان د کولتوري او عرفاني برخې رئیس مقرر شو.

په **۱۳۳۲**ل. کې د محمد داؤد خان په صدارت کې د کانونو او صنایعو وزارت د کفیل په توګه مقرر شو. په **۱۳۳۴**ل. کې د کانونو او صنایعو وزیر مقرر شو.

د**۱۳۴۱**ل. په کب کې د محمد ظاهر پاچا له خوا د افغانستان د صدراعظم په توګه وګومارل شو او خپله کابینه یې په دې ډول اعلان کړه:

محمد یوسف صدراعظم.

عبدالله ملکیار د صدارت لومړی مرستیال او د مالیې وزیر.

ډاکټر علي احمد پوپل د صدارت دویم مرستیال او د پوهنې وزیر.

نوراحمد اعتمادي د بهرنیو چارو وزیر.

ډګر جنرال خان محمد د ملي دفاع وزیر.

ډاکټر عبدالقیوم د کورنیو چارو وزیر.

شمس الدین مجروح د عدلیې وزیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر سلطان احمد پوپل د کانو او صنايعو وزير.

عبدالحی عزيز د پلان وزير.

انجينر محمد حسين مسا د مخابراتو وزير.

ډاکټر عبدالرحيم د عامې روغتيا وزير.

بريد جنرال محمد عظيم د فوايد عامې وزير.

محمد ناصر کشاورز د کرنې وزير.

محمد سرور عمر د سوداګرۍ وزير.

سيد قاسم رښتيا د مشرانو جرګې او مطبوعاتو مستقل رئيس.

ګل پاچا الفت د قبايلو مستقل رئيس.

ډاکټر محمد عثمان انوري د کابل پوهنتون رئيس.

سلطان محمود غازي ملکي هوايي رئيس.

ډاکټر محمد يوسف د محمد داؤد خـان د حکومـت تـر ټولـو لايـق غړی او باانرژي کس و. د صدراعظم په توګه د مقررېدو پر مهال **۴۹** کلن و او د (**۱۳۴۲**ل= مارچ په **۱۳**مه **۱۹۶۳**م) يې تر محمد داؤد خان وروسته د حکومـت واګـې پـه لاس کـې واخيسـتې. پاچـا محمـد ظـاهر خـان او محمد داؤد خان دواړو هغه د راتلونکي صدراعظم په توګه غوره کړی و؛

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو وروسته بيا پيښنو او حالاتو محمد داؤد خان او هغه يو د بل پر ضد کړل.

د ډاکټريوسف د حکومت دېره پاملرنه د هېواد سياسي او ټولنيزو اصلاحاتو ته وه، هغه له پاکستان سره د پښتونستان د مسألې معقول او سوله ييز حل غوښت، ځکه خو د پاکستان پر ضد د رسنيو له لارې هيڅ نه ويل کېدل او د هغه پر وړاندې يې نرمښت ښوده.
ډاکټر يوسف د يوه داسې حکومت مشر شو، چې تر ټولو مهمه دنده يې د نوي اساسي قانون تسويد و. د ډاکټر محمد يوسف د حکومت تر تشکيل يوازې دوه اونۍ وروسته د دې قانون د مسودې لپاره اوه کسيز کمېسيون مقرر شو. دا اوه کسيز کمېسيون"د اساسي قانون د مطالعې کمېټه" نومېده. سيد شمس الدين مجروح د عدليې وزير يې رئيس، د مطبوعاتو مستقل رئيس سيد قاسم رښتيا يې مرستيال او مير نجم الدين انصاري، ډاکټر عبدالصمد حامد، پوهنوال حميدالله آدينه، محمد صديق فرهنگ او محمد موسى شفيق يې غړي وو.

ځرنگه چې رئيس او مرستيال دمخه مقرر شوي وو؛ نو په لومړۍ غونډه کې محمد موسى شفيق د رايو په اتفاق د منشي په توگه وټاکل شو. د (**۱۹۶۴**م. کال په اکتوبر= **۱۳۴۳**ل) کې د دې قانون تر انفاذ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته ډاکټر محمد یوسف یو ځل بیا د انتقالي حکومت مشر مقرر شو. دې حکومت دنده درلوده، چې د ټاکنو، د دولت د اساسي تشکیلاتو او د مطبوعاتو او قضایه قوې د تشکیلاتو او صلاحیتونو، گوندونو او شورا گانو اړوند قوانین تسوید کړي.

همدارنگه انتقالي حکومت دنده درلوده، چې د قوانینو د پلي کېدو لپاره د لارو هوارولو په لازمو تدابیرو هم غور وکړي.

د اساسي قانون د مسودې د ټولو چمتووالو او امنیتي تدابیرو تر بشپړېدو وروسته د(**۱۳۴۳**ل. کال د تلې په لومړۍ نېټه= سپتمبر **۲۳**مه **۱۹۶۴**) د اساسي قانون لویه جرگه د ارگ د سلامخانې په تالار کې جوړه شوه. په پای کې دا قانون د( **۱۳۴۳**ل. د تلې په اوومه= اکتوبر **۱۷**مه **۱۹۶۴**) د جرگې د غړیو له خوا تصویب شو.

که څه هم په پیل کې د ډاکټر محمد یوسف په حکومت کې د محمد داؤد نږدې ملگري پر مهمو دندو گومارل شوي وو، چې دا پخپله د محمد داؤد او ډاکټر یوسف د ښو او نږدې اړیکو استازولي کوي؛ خو وروسته حالاتو تغییر وکړ او د محمد داؤد خان ملگري ورو ورو یو په بل پسې له میدانه ووتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د افغانستان د سیاسي رژیمونو په تاریخ کې د ډیموکراسۍ د لسیزې لومړۍ څېره ډاکټر محمد یوسف دی، چې د هغه په حکومت کې شاهي مشروطه نظام ته لاره هواره شوه. داسې نظام چې پر پارلماني ډیموکراسۍ ولاړ وي، پارلمان موجود وي، ګوندونه، رسنۍ او مطبوعات آزاد وي.

د ډاکټر یوسف په صدارت کې له پاکستان سره خړپړ شوي اړیکي په نسبي ډول بېرته ښه شول. د پاکستان ولسمشر محمدایوب خان او د بهرنیو چارو وزیر یې ذوالفقار علي بوټو د خپلو مسافرتونو پر لاره په کابل کې لنډ تم شول.

همدا رنګه له چین سره د افغانستان اړیکي هم پراخ شول او په**۱۳۴۳**ل= **۱۹۶۴**م. کې د دواړو هېوادو بریدپوله په نخښه شوه. چین چمتو شو، چې د افغانستان د پرمختیا په پروګرامونو کې ونډه واخلي. له همدې امله یې افغانستان ته د **۲۵** کالو په بې ربحې قسطونو **۴۰** میلیونه ډالره پور ورکړ. همدا رنګه یې په بګرامیو کې د نساجي فابریکه جوړه کړه. د دې فابریکې کار د **۱۳۴۶**ل.په تله کې پیل او د **۱۳۴۸**ل.په وروستي کې پای ته ورسېد او په ازمایښتي تولید یې پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له همدې مدرکه په راوروسته کلونو کې د پروان د خړوبولو او د درونټې د کب روزنې پروژې تکمیل شوې او د کندهار دوه سوه بستریز روغتون د چین هېواد په تخنیکي او مالي مرسته جوړ شو.

د ډاکټر محمد یوسف په صدارت کې د نړیوالو سیاستونو انډول ته پاملرنه وشوه او له ختیځ او لوېدیځ سره د اړیکو توازن رامنځ ته شو. له همدې امله محمد ظاهر پاچا د **۱۹۶۳**م په اګست=**۱۳۴۲**ل. کې المان، د **۱۹۶۴**م. په اکتوبر=**۱۳۴۳**ل. کې چین او د **۱۹۶۵**م. په مـی=**۱۳۴۴**ل. کې فرانسې ته سفرونه وکړل؛ خو تر ټولو مهم سفر یې د ۱۹٦۳م. په سپټمبر=**۱۳۴۲**ل. کې د امریکا متحده ایالتونو ته و؛ ځکه د پاچاهۍ له پیله یې ۳۰ کاله تېرېده؛ خو امریکا ته یې سفر نه و کړی.

په**۱۳۴۴**ل= **۱۹۶۵**م. کال کې پخواني شوروي اتحاد هم د خپل پور لومړی قسط پنځه کاله وځنډاوه، یوه اندازه غوړي یې مرسته وکړه او د پولیتخنیک ودانۍ هم په**۱۳۴۶**ل. کې بشپړه شوه.

په دې دوره کې امریکا هم افغانستان ته یوه اندازه غنم او غوړي ورکړل.

له هند سره هم د افغانستان سوداګریز اړیکي پراخ شول. هند هم د یو شمېر کوچنیو پروژو په بشپړولو کې مرسته وکړه، لکه په کابل کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندراگاندي روغتون جوړول، د باميانو د بوتـانو ترميمـول او د غوربنـد د برېښنا بند جوړول.

جاپان ته د افغانستان د صادراتو لاره هوارول، د جاپان په توکيو کـې د سوداګريز بانـک نماينـده ګـي پرانيسـتل او جاپـان اوږدمهالـه پوروـنـو ورکولو ته چمتوکېدل، د دې حکومت يوه بريا وه.

له المان سره سوداګريز اړيکي نور هم پياوړي کېدل، د سپلوګانو او نفتي توکيو د زېرمو د ټـانکو او د مـاهيپر د برېښـنا فـابريکې د توربينونـو بدلولو لپاره اتيا ٨٠ ميليونه مارکه ورکول، د دې حکومت يوه بله بريا وه.

ارواښاد ډاکټر يوسف د صدارت پر مهال غوښـتل چـې لـه ولسـونو سره نږدې اړيکي ولري؛ په ١٣۴۴ل. کـې يـې د بغـلان، کنـدوز او تخـار ولايتونو دوره وکړه، له ولسونو او ان له بزګرانو سره يـې پـه کرونـدو کـې وليدل. هغه ولسونو ته ويل: حکومت د ولس خدمتګار دی، نه د ولسونو بادار! زه له تاسو څخه يو کس يم او ستاسو په درد پوهېدلای شم.

ورپسې يې په نورو وختونو کې کندهار، هلمند، ننګرهـار او ځينـو نـورو ولايتونو ته سفرونه وکړل او په ټولو ولايتونو کې يې همدغه ډول وينـاوې کولې. موخه يې دا وه چې د ولس او د حکومت د رئـيس تـرمنځ نېـغ پـه نېغه اړيکي موجود وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۴۳**ل=**۱۹۶۴**م. کې یې په قاهره کې د ناپییلو هېوادونو په سرمـشریزه کې ګډون وکړ. په**۱۳۴۴**ل= **۱۹۶۵**م. کې یې مسکو ته سفر وکړ او د همدې کال په فبرورۍ کې یې هند ته سفر وکړ. ډاکټر یوسف تر صدارت دمخه له خلکو سره ډېر اړیکي نه ساتل؛ نو د اساسي قـانون تـر تصویب وروسته کمېسیون د شخصي غوښتنو او فکري اختلافاتو له امله امله تس و نس او صدراعظم یوازې پاتې شو، چې په یوازې ځان ورتـه د دومره درونـد پېټي پورته کول ستونزمن څه چې ناشونی کار و.

د **۱۳۴۴**ل= **۱۹۶۵**م. په اکتوبر کې پاچا یـو ځـل بیـا ډاکتـر یوسـف د صدارت مقام ته ونوماوه. د نوي اساسي قانون پر بنسټ یې بایـد د بـاور رایه اخیستې وای؛ خو د هغه د رایې اخیستو پـر مهـال د **۱۳۴۴**ل. کـال د لړم په **۲۳**مه د لاریون کوونکو او امنیتي ځواکونو ترمنځ سخت اخ و ډېب رامنځ ته شو. لاریون کوونکـو غوښـتل چـې د رای اخیسـتو غونـډه دې علني جوړه او هغوی ته دې پکې د ګډون اجازه ورکړی شي. په دې اخ و ډېب کې درې کسه مړه او ځیني نور بندیان شول؛ چې په دې ډول د هېواد سـیاسي فضـا کړکېچنـه شـوه او پـه پایلـه کـې ډاکتـر محمـد یوسـف د **۱۳۴۴**ل=**۱۹۶۵**م. کال د اکتوبر په **۲۹**مه استعفا ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر استعفا وروسته په بن کې د افغانستان سفير مقرر شو، چې له(**۱۳۴۵-۱۳۵۲**ل=**۱۹۶۶- ۱۹۷۳**م) پورې په دې دندې پاتې و. د غوايي تر کودتا وروسته يې په المان کې پناه واخيسته.

ډاکټر يوسف د **۱۹۹۸** م. کال د جنورى په **۲۳**مه نېټه په جرمني کې ومړ.



له ښي لوري ډاکټرمحمديوسف،... او ډاکټرعلي احمد پوپل

فکر د پوهې دروازه ده، که غواړئ د پوهې ښار ته ننوځئ، د فکر دروازو ته کولپونه مه اچوئ.

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ تر اوږد زماني واټن وروسته له پاچاهي کورنۍ پرته صدراعظم و.
- ✓ د شاهي مشروطه نظام لپاره د لارې پـه هوارولـو کـې یـې فعالـه ونډه واخیسته.
- ✓ د ده حکومت د درې ګونو قواو تفکیک رامنځ ته کړ.
- ✓ په لومړي ځل د ټاکنو له لارې ولس خپل استازي وټاکل.
- ✓ د نړیوالو سیاستونو انډول ته پاملرنه وشوه او له ختیځ او لویدیځ سره د اړیکو توازن رامنځ ته شو.

کله ګومان کوئ، چې عزت په شتو کې دی، نو خطا شوي یاست، ډیر شتمن شته چې یو مثقال عزت هم نه لري او ډیر بې شتو شته چې د عزت او وقار شملې یې هسکې دي، عزت د خالق هغه ورکړه ده، چې په شتو او دولت پورې تړاو لري.

***    ***    ***
***    ***    ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ډاکټر عبدالظاهر

ډاکټرعبدالظاهر د میرزا عبدالقادر ابـراهیم خېـل زوی پـه ۱۲۸۹ل. د لغمان د مرکز په ده بغلک کې زېږېدلی دی. میرزا عبدالقادر دوه دورې د افغانستان د ولسي جرګې غړی و.

ډاکټر عبدالظاهر لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د کابل د عـلي آبـاد پـه طبي ښوونځي کې کړې دي. منځنۍ زده کړې یې د بکلوریـا تـر درجـې پورې په۱۳۱۰ل. کې پای ته رسولي دي. په ۱۳۱۴ل. کې یې د "کولمبیا" له پوهنتون څخه په ټولنیزو علومو کې لسانس تر لاسه کړی دی. په ۱۳۱۸ل. کې یې له همدې پوهنتون څخه د ډاکټرۍ او په ۱۳۲۱ل. کې یـې تـرې د داخله ناروغیو په برخه کې د تخصص ډیپلومونه تر لاسه کړي دي.

هېواد ته تر راستنېدو وروسته یې له ۱۳۲۲- د ۱۳۲۹ل. تر لـړم پـورې په روغتونونو کې د سرطبیب په توګه کار وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له **۱۳۲۹- ۱۳۳۳**ل. پورې د عامې روغتیا وزارت معین و.

له **۱۳۳۳- ۱۳۳۴**ل. پورې یې په "بالتیمور" کې د امریکا د متحده ایالتونو په (جانزهاپکینز پوهنتون Johns HopkinsUniversity) کې د ادارې او احصایې په برخه کې یو ځل بیا زده کړې وکړې او ډیپلوم یې تر لاسه کړ.

په **۱۳۳۴**ل. کې د روغتیا وزارت کفیل و.

په **۱۳۳۶**ل. کې په کراچۍ کې د افغانستان لوی سفیر وټاکل شو او د دې تر څنګ یې په کولمبیا کې د پاچا د مختار وزیر په توګه هم دنده ترسره کوله.

په **۱۳۴۰**ل. کې یې د لوی سفارت له دندې استعفا وکړه او په همدغه کال د لغمان د خلکو له خوا د ملي شورا په یوولسمه دوره کې د وکیل په توګه او د وکیلانو له خوا د ملي شورا د رئیس په توګه هم وټاکل شو.

په **۱۳۴۳**ل. کې د نوي اساسي قانون د تصویب لپاره د لویې جرګې د نایب په توګه وټاکل شو.

په **۱۳۴۳**ل. کې د ډاکټر محمد یوسف په کابینه کې د صدارت مرستیال او د عامې روغتیا وزیر وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **۱۳۴۴**ل. کال په اوړي کې يې د صدارت له مرستيالۍ او د عامې روغتيا له وزارت څخه استعفا وکړه او د لغمان ولايت له مرکزه د ولسي جرګې وکالت ته نوماند شو. د وکيل په توګه ټاکل کېدو وروسته د ولسي جرګې د دولسمې دورې د رئيس په توګه وټاکل شو او د دغې دورې تر پای پورې په همدغه دنده پاتې و.

په **۱۳۴۸**ل. کې په روم کې د افغانستان د لوی سفير په توګه وټاکل شو او د **۱۳۵۰**ل. کال د غبرګولي تر **۱۳**مې نېټې پورې يې دغه دنده ترسره کړه.

ډاکټر عبدالظاهر په هېواد او بهر کې تر بېلابېلو دندو وروسته هغه مهال، چې نوراحمد اعتمادي استعفا ورکړه د(**۱۳۵۰**ل. د غوايي پر**۲۶**مه= د **۱۹۷۱**م جون **۸**مه) د محمد ظاهر پاچا له خوا د کابينې پر جوړولو وګومارل شو. تر ټاکلو پړاوونو او مقرراتو بشپړولو وروسته يې ولسي جرګې ته خپله کړنلاره په پښتو او دري ژبو ولوسته او د نوي صدراعظم په توګه يې د اعتماد رايه تر لاسه کړه.

د ډاکټر عبدالظاهر په کابينه کې لاندېني کسان شامل وو:

ډاکټر عبدالظاهر صدراعظم.

ډاکټر عبدالصمد حامد د صدارت لومړی مرستيال.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستر جنرال خان محمد د دفاع وزیر.

محمد موسی شفیق د بهرنیو چارو وزیر.

امان الله منصوري د کورنیو چارو وزیر.

پوهنوال محمد انور ارغندیوال د عدلیې وزیر.

ډاکټر غلام حیدر داور د مالیې وزیر.

حمیدالله عنایت سراج د پوهنې وزیر.

پوهنوال محمد عارف غوثي د سوداګرۍ وزیر.

خوازک زلمی د فواید عامې وزیر.

محمد ابراهیم عباسي د اطلاعاتو او کولتور وزیر.

انجینر نصرت الله ملکیار د مخابراتو وزیر.

پوهاند ډاکټر ابراهیم مجید سراج د عامې روغتیا وزیر.

انجینر محمد یعقوب لعلی د کانونو او صنایعو وزیر.

عبدالحکیم  د زراعت وزیر.

پوهاند عبدالواحد سرابي د پلان وزیر

مېرمن شفیقه ضیایي مشاوره وزیره.

ډاکټر عبدالوکیل مشاور وزیر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت په څوارلس میاشتنۍ دوره کې (۱۳۵۰د غبرګولي ۱۸مه -۱۳۵۱ل. د لیندۍ ۱۴= جون ۸مه ۱۹۷۱م- سپتمبر ۱۴مه ۱۹۷۲م) افغانستان، په ځانګړي ډول د هېواد شمالي او سوېلي سیمې له سختې وچکالۍ او قحطۍ سره مخامخ شوې. وایي صدراعظم وکیلانو ته خوراکي مواد برابر کړل، چې ولسونو ته یې ورسوي؛ خو هغوی په لوړ قیمت وپلورل او خلکو ته یې ونه رسول.

د ده په دوره کې یوه بله ستونزه دا وه، چې د پوهنتون استادانو او محصلینو له حکومت څخه د نویو قوانینو د انفاذ غوښتنه کوله، چې دا ستونزه د صدراعظم اعتمادي له دوره عبدالظاهر ته راپاتې وه.

همدا رنګه ویل کېږي، چې د ده حکومت په اوسنۍ اصطلاح عبوري حکومت ته ورته و، ځکه ډېر صلاحیتونه د صدارت د مرستیال ډاکټر عبدالصمد "حامد" او د بهرنیو چارو د وزیر محمد موسی "شفیق" په لاس کې وو.

په ۱۳۳۱، ۱۳۳۳ او ۱۳۳۴ل. کلونو کې یې د ژنیو او مکسیکو په غونډو کې د افغان پلاوي د رئیس په توګه ګډون کړی دی. په ۱۳۳۵ل. کې د افغاني روغتیایي پلاوي د رئیس په توګه پخواني شوروي اتحاد ته سفر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۴۰، ۱۳۴۲** او **۱۳۴۳**ل. کلونو کې د افغانستان د پارلماني پلاوي د رئیس په توگه پخواني شوروي اتحاد، د امریکا متحدو ایالتونو، بلغاریا، یوگوسلاویا او هند ته رسمي سفرونه کړي دي.

په **۱۳۳۶**ل. کې د محمد ظاهرخان له لوري "د سردار عالي نښان" ورکړی شوی دی.

ډاکتر عبدالظاهر یو مؤدب، خوش طبیعته او حاضرجوابه شخص و. وایي هغه مهال چې د ولسی جرگې رئیس و، صدارعظم ډاکتر یوسف له خپلې کابینې سره د شورا عمومي غونډې ته ورغی. په غونډه کې د پلخمري وکیل عبدالرشید خان چې د مارشال شاه ولي خان نږدې دوست و، د محمد داؤد خان د حکومت پر وزیرانو زیاتې نیوکې وکړې او غونډه کړکېچنه شوه. د شورا رئیس ډاکتر عبدالظاهر د شلو دقیقو لپاره تفریح ورکړه. د تفریح پر مهال د حاضرې کابینې یوه وزیر چې جنرال و، ډاکتر عبدالظاهر ته وویل:

(( ډاکتر صاحب! ستاسې شورا ډېره بې نظمه ده))

هغه چې ظریف او حاضرجوابه شخص و، په جواب کې یې ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



((بلى جنرال صاحب! په رښتيا چې هيڅ عسکري قشله داسې بې نظمه نه وي))

ډاکټر عبدالظاهر سياستمدار او له بدو بېزاره انسان و؛ خو د هغه مهال پېښو دومره گنگس کړی و، چې د خپلې دورې په وروستيو کې يې د لېونو غوندې خبرې کولې. کله چې يې خپله استعفا پاچا ته وړاندې کړه، هغه سمدواره ونه منله. يو ځل بيا يې د دسمبر په مياشت کې خپله استعفا وړاندې کړه او پاچا ومنله. تر دې وروسته د خپلو اعصابو د ارامولو لپاره بهر ته لاړ.

کهٔ مو د ځان د مدحې او ستاينې الفاظ لهٔ خولې ووتل، پوه شئ چې د حماقت او لېونتوب پهٔ نارو غۍ اختهٔ ياست، ځان هېر کړئ او د نورو د ښو او صافو د خپلو لو پهٔ هڅهٔ کې شئ.

*** *** ***
*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- ✓ مؤدب او حلیم شخص و، په بهر کې یې د افغانستان ښه استازولي کړې ده.
- ✓ د پرمختللی اساسي قانون په تدوین او تصویب کې یې ښه ونډه درلودلې ده.
- ✓ د چوکۍ او مقام پلوي شخص نه و، ځکه خو یې حالاتو ته په کتلو د صدارت له څوکۍ هم استعفا ورکړه.

کهٔ تاسې د عقیدې لهٔ مخې د انسانیت رښتیني خدمت تهٔ ملا وتړئ او د حق غږ پورتهٔ کړئ، نو ستر خالق بهٔ مو د مکې د څو کمزورو پهٔ څېر د اسونو پهٔ پښو کې د قیصر او کسرا ماڼۍ دل کړي او کهٔ لهٔ عقیدې سره تړاو نهٔ لرئ او دا کار مو وکړ، نو د مهاتما ګاندي پهٔ څېر بهٔ مو میلیونونهٔ انسانان پر اوږو ګرځولو تهٔ تیار شي.

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# محمد موسی شفیق

محمد موسی شفیق د محمدابراهیم کاموي زوی، د عبدالحمید اخندزاده لمسی له آره د ننگرهار ولایت د کامې ولسوالۍ د زرشوی اوسېدونکی دی؛ خو هغه مهال چې پلار یې په کابل کې دنده درلوده، د ۱۳۰۸ل. د جوزا پر پنځمه د کابل په شهرآرا کې زېږېدلی دی.

د شفیق په تربیه کې لومړی د هغه د پلار مثبتو افکارو پر هغه تاثیر کړی دی. تر هغه وروسته د پښتو ځینو نومیالیو ادیبانو د هغه په تربیه کې برخه اخیستې ده. په دار العلوم کې د هغه په فکر باندې د مولوي غلام نبي کاموي اثر د ځانگړې یادونې وړ دی. همدارنگه یې په مصر کې ښاغلي داوي هم مستقیمه روزنه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسمي زده کړې يې لومړی د کامې او کابل په مکتبونـو کـې سرتـه رسولي دي او بيا د پلار په خوښه د ننګرهار په نجم المدارس کې شـامل شوی دی. د بکلوريا معادل بريليک يې د کابل له عربي دارالعلوم څخـه تر لاسه کړی دی. بيا د څه وخت لپاره په شاهي دارالتحرير کې پـه دنـده ګومارل شوی او وروسته د پوهنې وزارت له خـوا د نـورو زده کـړو لپـاره مصر ته ليږل شوی دی. د لسانس بريليک او هم يې په عدلي چارو کې د ماسترۍ بريليک له مصرڅخه تر لاسه کړي دي.

تر لسانس او ماسترۍ وروسته د نورو لـوړو او ښـو زده کـړو لپـاره امريکا ته لاړ او له (هـارورډHarvard) پوهنتـون څخـه يـې پـه مقايسـوي حقوقو کې د ماسترۍ ډيپلوم واخيست.

له امريکا څخـه هېـواد تـه تـر راسـتنېدو ورسـته د عـدليې وزارت د قوانينو د اداري لوی مدير وټاکل شو. د دې دندې تر څنګ يـې پـه کابـل پوهنتون کې د حقوقـو او سـياسي علومـو پـه پـوهنځی کـې د ځـانګړو نړيوالو او مقايسوي حقوقو په تدريس هم پيل وکړ.

په قاهره، بېروت، خرطوم او اګرا کې يـې د پاچـا د سـفير پـه توګـه دندې ترسره کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډاکټر عبدالظاهر پـه کابینـه کـې د بهرنیـو چـارو وزیـر و، خـو د وزارت د دندې تر څنگ یې په کابل پوهنتـون کـې تـدریس تـه هـم دوام ورکړ. په ۱۳۴۴ل. کې یې د "بین الـدول خصـوصي حقـوق" تـر سرلیـک لاندې درسي کتاب ولیکه.

شفیق په ۱۳۳۸ل. د ادبیاتو پوهنځي د "وږمه" مجلې کتونکی غـړی او قلمي همکار او په ۱۳۴۱ل. کې د حقوقو پوهنځي د "حقوق" مجلـې د کتنپلاوي غړی او قلمي همکـار و. د عـدلیې وزارت د قوانینـو د لـوی مدیریت په وخت یې زیاتره لیکنې د قانوني او حقـوقي مسـایلو پـه ډگـر کې کړي دي، چې په "نیاو" مجله او نورو خپرونو کې چـاپ شـوي او د نړیوالو حقوقي پرمختیاو او د هغو د مقایسوي اړخونو څرگندونه، څېړنـه او څېرنه پکې شوې ده.

اروابناد شفیق په دې توگه په هېواد کې د قـانون جـوړونې معـاصر بهیر ته د موادو، مندرجاتو او لارو چارو مخه پرانیستې ده.

شفیق د عدلیې وزارت د قوانینو د عمومي مدیر په توگه د ماموریـت په پیلولو سره د هېواد د قانون جوړونې په بهیر کې لوړ مقـام خپـل او د تقنین د رئیس په توگه یې دغه بهیر د وخت او عصر له نویـو غوښـتنو او مېتودونو سره برابر کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفیق د قوي استدلال او منطق څښتن او تر څنګ یې مؤدب شخص هم و، په دې اړه میر محمدامین فرهنګ وایي:

یوه بله ډېره مهمه مباحثه د قضا د مسألې په اړه وشوه او دلته ډېره په زړه پورې ده، هغه دا چې د پلار او زوی یعنې د ارواښاد محمد موسی شفیق او د هغه د پلار مولوي محمدابراهیم کاموي تر منځ ډېر سخته مباحثه وشوه. شفیق وکړی شول د پلرني درناوي په ساتلو سره، خپل پلار ته قناعت ورکړي چې ضرور نه ده، سل په سلو کې دې په هر قانون کې وویل شي چې له حنفي شریعت سره سم، بلکې همدا چې په اساسي قانون کې ویل شوي چې په افغانستان کې هیڅ قانون د حنفي شریعت پر خلاف نه شي رامنځ ته کېدای، همدا پوره ده او په هره ماده کې یې موږ باید یادونه ونه کړو. په داسې حال کې چې مولوي کاموي ویل دا باید په هره ماده کې راشي. دا د همدې لویې جرګې یو ډېر په زړه پورې بحث و.

هغه په یونان کې د حقوقپوهانو په نړیوال کنفرانس او په لاهور کې د مستشرقینو په کنفرانس کې په برخې اخیستو سره په نړیوال حقوقي غورځنګ کې د خپل هېواد استازیتوب وکړ. د ذروي وسلو نه لرونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادونو کنفرانس د مشرتابه پر مهال يې په علمي ډګر کې د خپل هېواد شمله لوړه کړه.

د اساسي قانون تر انفاذ وروسته يې د بهرنيو چارو په وزارت کې د مشاور په توګه خپل سياسي فهم، بصيرت او وړتيا څرګنده کړه او په نړيواله کچه يې ځان ته د سياسي او ډيپلوماتيکو کړيو پام راوګرځاوه.

شفيق په "جارجتون" کې د ناپيلو هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په کنفرانس کې د افغاني پلاوي د مشر په توګه پخپله وينا کې د ناپيلتوب غورځنګ د لوري په څرګندولو سره د ټولو پام ځانته راوګرځاوه. په جده کې د اسلامي هېوادونو د بهرنيو چارو د وزيرانو په غونډه کې يې اسلامي نړۍ ته د ورپېښو ربړو او ګواښونو په اړه په زړه پورې وينا وکړه.

شفيق د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې د اوه ويشتمې غونډې مشري پر غاړه درلوده او د دريمې نړۍ هېوادونو د حقوقو په ننګه يې انقلابي وينا وکړه.

شفيق د **۱۳۵۱**ل. کال د ليندۍ په **۱۶= ۱۹۷۲**م. د دسمبر ۷مه د ډاکټر عبدالظاهر تر استعفا وروسته د کابل راډيو له لارې د صدراعظم په توګه اعلان شو او خپله کابينه يې په دې ډول اعلان کړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد موسی شفیق صدراعظم.

ستر جنرال خان محمد د دفاع وزیر.

نعمت الله پژواک د کورنیو چارو وزیر.

نصرت الله ملکیار د مخابراتو وزیر.

محمد خان جلالر د فوایدعامې وزیر.

غلام دستگیر عزیزي د کانونو او صنایعو وزیر.

عبدالواحد سرابی د پلان وزیر.

صباح الدین کشککي د اطلاعاتو او کولتور وزیر.

ډاکټر عبدالوکیل د زراعت وزیر.

محمد یاسین عظیم د پوهنې وزیر.

موسی شفیق تر بل هر صدراعظم له ملي شورا سره ښه اړیکي درلودل، ان د شورا په ماڼۍ کې یې ځان ته دفتر جوړ او د پارلماني چارو وزیر یې هم مقرر کړی و؛ خو موده یې لنډه وه، اوه میاشتې او لس ورځې یې دوام وکړ.

فاطمې "گیلاني" چې د دې دورې پېښې څارلي او له پاچا سره یې د شفیق او د هغه د حکومت په اړه خبرې کړي دي، په دې اړه وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( ما له ظاهرشاه څخه پوښتنه وکړه، چې د شفيق توپير له نورو صدراعظمانو سره څه و؟ ويې ويل: داسې کسان وو لکه داؤدخان چې زياتره به يې سړي ته سرته رسېدلی کار ورښووده، يا تر هغه وروسته داسې کسان وو، چې هيڅ نه راتلل او هيڅ وړانديز يې نه درلود. بايد هغو ته ويل شوي وای چې څه لاړ شه دا او يا هغه کار وکړه. يعنې د صدراعظمۍ دنده ورته بايد ويل شوې وای. د دې لپاره چې د هماغه حرکت اجازه يې اخيستې وي، شفيق لومړنی صدراعظم و، چې را دمخه کېده، نظريه يې درلوده، نظريه يې مطرح کوله او بحث يې پرې کاوه. يعنې د يوه پاچا او صدراعظم تر منځ د لومړي ځل لپاره يوه همکاري رامنځ ته شوه)).



د موسى شفيق د حکومت سياست په داخل کې د نظم راوستلو او په بهر کې د شوروي او لوېديځ د اړيکو انډول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتلو ته متوجه و. د دې کار لپاره یې خپل پام د ایران او عربي هېوادونـو د مرستو راجلبولو ته واړاوه.

محمد موسی شفیق له ایران سره د هلمند سیند د اوبو د وېش پر سر اختلاف لیرې کړ. په دې اړه یې په **۱۹۷۲**م. کې د هلمند د اوبو د وېش پـه اړه د ایران له لومړي وزیر امیر عباس "هویدا" سره تړون لاسلیک کړ. دا د شفیق د حکومت لپاره یو لوی بری و.

ښاغلي شفیق د تېرې وچکالۍ د مصیبت یوه معقوله چاره ولټوله، د زراعت وزیر عبدالوکیل خان یې وګوماره، چې یو منظم پلان جوړ کړي. عبدالوکیل خان چې د پخو تجربو خاوند و، پلان یې په لږ وخت کې ښه نتیجه ورکړه او د نورو اقتصادي فعالیتونو لپاره یـې نړیـوال بانـک پـه دې قانع کړ، چې د افغانستان په شمال او شمال لوېدیځ کې منظم څرځایونه جوړ کړي، چې له دې مدرکه شاوخوا سل میلیونه ډالره د افغانانو جیبونو ته ولوېدل.

همدا رنګه یې د افغانستان سبزیجاتو ته په بهر کې مارکېټ پیدا کړ. شفیق په خپلو چارو کې تر ډېره بریده بریالی و. له ایران سره یې د هلمند د اوبو مسأله په ډېر حساس پړاو کې پای ته ورسوله، غوښتل یې چـې لـه پاکستان سره د پښتونستان مسأله هم ختمه کړي، خـو دا وخـت یـې ونـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موند. که څه هم د هلمند سیند په اړه له ایران سره د تړون لاسلیک کولو له امله پر موسی شفیق ډېرې نیوکې دي؛ خو شفیق په نړیوالو سیاستونو او په ځانګړي ډول د سیمې پر ستونزو او سیاستونو پوه او ډېر ځیرک انسان و؛ نو ځکه خو یې دغه لانجه په یوه داسې مناسب وخت کې پای ته ورسوله، چې افغانستان ته یې تر تاوانه ګټه ډېره وه. په دې اړه ښاغلی ولسمل وایي:

(( شفیق صاحب راته په ځواب کې وویل: هو! د افغان د مصادرې یو علت د هلمند اوبه دي، هغه څه چې زه وینم تاسو یې نه وینئ او ملت به یو وخت پوه شي، چې موږ له ایران سره د هلمند د اوبو لانجه ولې ختمه کړه؟ شفیق صاحب نور هم وضاحت وکړ او زیاته یې کړه: اسلام او وطن دواړه له خطر سره مخامخ دي، موږ غواړو چې ورو ورو د روسیې له جنجاله افغان ملت خلاص کړو))

د هلمند د اوبو پر سر له ایران سره د شخړې تر څنګ هغه مهال له پاکستان سره د پښتونستان مسأله هم په ډېر ستونزمن پړاو کې وه؛ نو د ډانګ او پړانګ تر منځ د خپل ملت ګټه سنجول هم خورا مهم کار و. د هغه بهرنی سیاست ډېر مدبرانه او ژور و. د هغه د بریالي بهرني سیاست یوه ښه بېلګه دا ده چې ایران پخوا هیڅکله د پښتونستان له مسألې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومه لېوالتيا نه وه ښودلې؛ خو شفيق په بري سره د هغه هېواد صدراعظم عباس هويدا وهڅاوه؛ نو هغه افغانستان ته د خپل سفر پر مهال لـه کابـل راډيو څخه د پښتونستان پر مسألې د افغانستان لـه دريځـه خپـل ملاتـړ اعلان کړ.

شفيق په شـــخصي ژوندانـه کـې يـو سينگارخوښـی سـړی و؛ خـو هيڅکله يې خيانت ته لاس وراوږد نه کړ. پوهانـد ډاکټـر مجـاور احمـد "زيار" په دې اړه وايي:

((دا چې شهيد موسی شفيق لـه گـردو بېسـارو سـياسي او علمـي- فرهنگي ځانگړتياو سره سره د سيمې او ان ښايي پر نړيواله کچ يو لوکس ترين سفير، بهرنـی وزيـر او بيـا صـدراعظم و، د څلوېښـتمو کلونـو پـه وروستيو کې کله چې کابل ته د بهرني وزير په توگـه ورغوښـتل کېـده، د تشلاسی لـه املـه يـې لـه سـفارته درې مياشـتنۍ پېشـکي لـه ځـان سره راواخيسته او بيا دې تـه اړوت، چـې خپـل ځايناسـتی هماغـومره مهـال وځنډوي))

هغــه تــه ديانــت او ســپېڅلتيا مــيراثي ورپــاتې وه، وايــي چــې محمدابراهيم کاموي د بلخ د مرافعې محکمې قاضي، چې بل ځـای تـه تبديل شو، هلته چې ورسېد خلکو يې مخې ته د سـامانونو د وړلـو لپـاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاروي را وستلي وو؛ خو چې کله د ده راوړونکی چکله موټر ودرېد او خلک ورغلل، چې سامانونه يې راکوز او په خپلو شارويو يې بار کړي، دی له خپلې مېرمن، يوې بسترې او يوې امسا سره راکوز شو. په دې کار سره خلک هک پک پاتې شول. څوک چې د داسې پلار کره وزېږي؛ نو هرومرو بايد په هر ډول څوکۍ او د نده کې ديانت او سپڅلتيا وساتي.

شفيق په مصر کې د افغانستان سفير و. په**۱۳۵۰**ل= **۱۹۷۱**م. کې يې د ملګرو ملتونو په **۲۶**مه غونډه کې د ګډونوال افغاني پلاوي مشري پر غاړه درلوده. د ډاکټر محمد يوسف د صدارت په دوره کې د اساسي قانون د اوه کسيزې کمېټې غړی و. د شهيد ميوندوال د صدارت پر مهال(**۱۳۴۳**ل) د بهرنيو چارو مشاور وټاکل شو. د ډاکټر عبدالظاهر د صدارت پر مهال(**۱۳۴۴**ل) د بهرنيو چارو وزير وټاکل شو.

موسی شفيق په پښتو، دري، عربي، انګرېزي او تر ډېره بريده په فرانسوي هم پوهېده. د هغه ډېرې پښتو او فارسي مقالې او پښتو شعرونه د هېواد په اخبارونو او مجلو کې خپاره شوي دي. د طالب العلمۍ د وخت د مقالو زياته برخه يې ادبي وه؛ خو وروستنۍ مقالې يې زياتره د حقوقو او بين المللي جدي مباحثو په اړه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفيق يوازې سياسي او علمي شخص نه و، هغه ليکوال او شاعر هم و.

زيار صاحب وايي چې شفيق په نوېزونو کې هم برخه اخيستې ده: [ پرمختيا( انکشاف) باورليک ( اعتمادنامه) باور راى ( راى اعتماد)... خو يې د سروزيرۍ پر هماغه لومړۍ ورځ ولسي جرگې ته په خپله وينا کې وکارول... داسې برېښېده چې د گوند نوم په توگه د افغان ملت نوم په ټولنواک ولسواک( سوسيال ديموکرات) رااړونه هم د شفيق صاحب له نوېزونو څخه وي]

اروابناد موسى شفيق د ډېموکراسۍ د لسيزې يا د افغانستان د شاهي نظام وروستنى صدراعظم و. هغه د چنگابن تر سپيني کودتا وروسته ونيول او بندي شو؛ خو وروسته روښانه شوه چې هغه د محمد داؤد خان له خبرتيا او موافقې پرته نيول شوى و. په (**۱۳۵۷**ل) کال کې د غوايي تر کودتا وروسته يو ځل بيا ونيول او بندي شو او د غوايي په (**۲۳-۲۴**) نېټه په شهادت ورسېد.

***   ***   ***

د ښو او بدو تر منځ تميز پوهه ده، هغه ورتيا چې تاته د کمال او حکمت تاج پر سر کړي پوهه بلل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ شفیق په نړیواله کچه د خپل هېواد د ښه استازیتوب ترڅنګ په حقوقي- ډیپلوماتیکو کړیو کې څرګند مقام تر لاسه کړی و.
- ✓ د سیمې او ان ښایي پر نړیواله کچه یو لوکس ترین سفیر، بهرنی وزیر او صدراعظم و.
- ✓ موسی شفیق تر بل هر صدراعظم له شورا سره ښه اړیکي درلودل.
- ✓ ارواښاد شفیق په دې توګه په هېواد کې د قانون جوړونې معاصر بهیر ته د موادو، مندرجاتو او لارو چارو مخه پرانیستې ده.
- ✓ شفیق لومړی صدراعظم و، چې مخکښ و، نظریه یې درلوده، نظریه یې مطرح کوله او بحث یې کاوه، یعنې د لومړي ځل لپاره د پاچا او صدراعظم تر منځ همکاري رامنځ ته شوه.
- ✓ د بېسوادۍ پر ضد د مبارزې لپاره یې د ملګرو ملتونو د اړوندو مؤسسو په مرسته د ملي اداري بنسټ کېښود.

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library







# علي احمدپوپل

ډاکټر علي احمد خان پوپل د محمد مکرم خان زوی له آره د کندهار د کلچه آباد اوسېدونکی دی، چې کرز ته نږدې پروت دی. د هغه له نیکونو څخه ادریس خان له سلو سپرو سره د تیمورشاه په بدرگه کې کابل ته راغی او په کابل کې مېشت شو.

د علي احمد خان پوپل نیکه عبدالحمید خان د هغو ستونزو له امله چې له امیر عبدالرحمن خان سره یې درلودې، له خپل زوی عبدالغفور خان سره پېښور ته جلاوطن او هلته مېشت شو. کله چې امیرحبیب الله خان پاچا شو، هغه ته اجازه ورکړی شوه چې بېرته راستون شي. پلار او زوی ته په لوگر کې ځمکه ورکړی شوه او په لوگر کې مېشت شول.

د ډاکټرعلي احمد پلار محمد مکرم خان د لوگر ولایت د برکي برک

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولسوالۍ په برکي راجان کلي کې وزېږېده.

ډاکټر علي احمد پوپل هم په**۱۲۹۵**ل= **۱۹۱٦**م. کې په برکي راجان کې وزېږېده.

علي احمد پوپل د پنځه شپږو کالو په عمر کابل ته راغی او د سردارجان خان په کوڅه کې مېشت شو. علي احمد پوپل په نجات ( اوسنۍ اماني) ښوونځي کې شامل شو. د دولسم ټولګي د عمومي اول نومره په توګه يې د المان بورس تر لاسه کړ او د لوړو زده کړو لپاره المان ته لاړ. هلته يې په جينا(Jena) پوهنتون کې کې د ښوونې او روزنې له څانګې په**۱۳۲۱**ل= **۱۹۴۲**م. کې د ډاکترۍ ډيپلوم تر لاسه کړ.

هېواد ته تر راستنېدو وروسته لومړی د ښوونکي په توګه له (**۱۳۲۱-۱۳۲۵**ل=**۱۹۴۲-۱۹۴۶**م) او بيا د نجات لېسې مدير مقرر شو؛ خو تر څنګ يې د پوهنې وزارت د روزنې د څانګې آمريت هم پر غاړه درلود. په**۱۳۲٦**ل = **۱۹۴۷**م. کې د عالي دارالمعلمين مدير او په**۱۳۳۰**ل= **۱۹۵۱**م. کې د تدريساتو رئيس شو.

څو کاله په پوهنې وزارت کې معين و او په**۱۳۳۷**ل= **۱۹۵۸**م. کې د محمد داؤد خان په کابينه کې د پوهنې وزير شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوې لنډې مودې لپاره يې د محمد يوسف خـان پـه کابينـه کـې د پوهنې د وزير او د صدارت د دويم مرستيال پـه توګـه دنـده تـرسره کـړه. په**۱۳۴۳**ل= **۱۹٦۴**م. کې په المان کې د افغانستان سفير شو. پـه المـان او ترکيه کې تر سفارتونو وروسته پـه**۱۳۴٦**ل= **۱۹٦۷**م. کـې بېرتـه هېـواد تـه راستون شو او د نوراحمد اعتمادي په کابينه کې يې د پوهنې د وزيـر او د صدارت د لومړي مرستيال په توګه دنده ترسره کړه.

په**۱۳۴۸**ل= **۱۹٦۹**م. کې د افغانستان د سفير په توګه پاکستان تـه لاړ. ډاکټر علي احمد خان پوپل په**۱۳۵۳**ل= **۱۹۷۴**م. کې جاپان ته د افغانستان د سفير په توګه ولېږل شـو. بيـا د جمهوريـت پـه دوره کـې لـه**۱۳۵۵**ل= **۱۹۷٦**م. د غوايي تر کودتا پورې په مسکو کې د افغانستان سفير و.

تر کودتا وروسته په کور کېناست او تر**۱۳۷۳**ل= **۱۹۹۴**م. کال پـورې د کابل په څلورمه کارته کې په خپل کور کې اوسېده؛ خو په دغه کال کـې اړ شو، نو له هېواده ووت او د پاکستان لـه لارې المـان تـه لاړ. اروابنـاد پوپل په اړه د افغانستان نوميالی علمـي او سـياسي شخصـيت انورالحـق "احدي" وايي:

(( مونږ پرې له ورايه مين وو، ځکه هغه مهال په افغانستان کـې څـو محدود شخصيتونه وو، چې هېواد ته يې خدمت کاوه. ډاکټر صاحب

(c) ketabton.com: The Digital Library





علي احمد پوپل، محمدداؤدخان، محمدظاهرخان، ملکه حمیرا

پوپل هم معارف ته زیات خدمت کړی دی. پـه کابـل کـې یـې د قبـایلي پښتنو لپاره د خوشال خان او رحمن بابا لیسې جوړې کړې. هغوی پـاک خلک وو، که څه هم پر پښتو ښه نه شو ګړېدای او موږ به ورسره په دري خبرې کولې؛ خو له خپلې ژبې سره یې مینه درلوده، له خپل دین او هېواد سره یې مینه درلوده. کشـران او ځوانان به یې تل د ملت او هېواد خدمت ته هڅول.

په المان کې مې د طالبانو تر دورې دمخه ارواښـاد پوپـل ولیـده، هغـه د خپل هېواد او ملت په اړه ډېر اندېښمن و، ویل چې دا هېواد او ملـت بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژغورل شي او که څنګه؟! او که وژغورل شي نو هویت به یې څنګه وي؟



ډاکټر انور الحق الحق" احدي" او څېړنوال زاهد"مشوانی"

د هغو په وخت کې تخصص او مسلک ته ډېر اهمیت ورکول کېده، علم او حکومتوالي یې په ربښتینې توګه پالل، نه د اوس په څېر چې سړی یې د تخصص او شایسته سالارۍ په چیغو هم شرمېږي. اوس خو چیغې وهي چې تخصص راولو، نه پوهېږم شایسته سالاري به وي که څنګه! اصل کې داسې بې مسلکه خلکو ته وظیفه ورکول کېږي، سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرمېږي، ځنګه دعوه د دې کوي، چې موږ مسلکي حکومت جوړوو. د خدای لپاره د خلکو په سترګو کې خو مه ورننوځئ.

په هغه وخت( ۱۹٦۸م) کې يو امريکايي ليکوال سمويل هانتينګټن Samuel p. Huntingtonپه خپل مشهور کتاب "د مدنيتونو تصادم The clash of civilization"کې د افغانستان په اړه ليکلي وو:

په افغانستان کې شايسته سالاري دومره مخکې ده، چې کابينه زياتره متخصصه او ان ډاکټران دي.

په ښوونځيو کې اول نومره ګانو ته ځکه درناوی کېده، چې هغه مهال به په حکومت کې د اهليت له مخې دنده ورکول کېده؛ نو خلک پوهېدل چې دا کسان به د حکومت لوړ او مهم کسان وي. ما چې بورس واخيست، هيڅ واسطه مې نه درلوده، په امتحان کې کامياب شوم او لوړو زده کړو ته بهر ته لاړم))

ډاکټر پوپل د **۱۳۸۳**ل. د لیندۍ**۳**مه =**۲۰۰۴** م/**۲۲/۱۱** د المان په ايسن ښار کنبي کې د ارواحو ښښتن ته خپل روح وسپاره او بيا د کابل په شهدای صالحين کې خاورو ته وسپارل شو.

***    ***    ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





محمدداؤدخان، علي احمد پوپل او شاته شمس الدين مجروح



ډاکټر علي احمد پوپل د وزارت له اراکينو سره د غونډې په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځانګړې کارنامې:

- ✓ ډاکټر علي احمد پوپل په هېواد او ملت زهیر شخصیت و.
- ✓ د هغه مهال امکاناتو او شرایطو ته په کتنې د هېواد پوهنې ته یې ډېر خدمتونه ترسره کړي دي.
- ✓ د بېوزلو او لیرې پرتو قبایلو لپاره یې په مرکز کې د خوشال خان او رحمان بابا لیسې جوړې کړې دي.
- ✓ د هغه په دوره کې، په بهر کې د زده کړو چانس یوازې د وړتیا او پوهې له مخې ورکول کېده.




که په افغاني ټولنه کې د ډاکټر "ناکامورا" غوندې زیارکښ او انساپال اشخاص پیدا شي، د ګمبیري غوندې سوزندې دښتې به هم سمسور پارکونه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شمس الدین مجروح

سید شمس الدین مجروح د سید حضرت شاه زوی په (۱۲۸۳ل=۱۹۰۴م=۱۳۲۳س) کال د کونړ ولایت د اسمار په شینکوړک کې زیږدلی دی. په درې کلنۍ کې له پلرنۍ لورېینې محروم شو؛ خو د مور تر روزنې لاندې وپالل شو، چې یوه باسواده مېرمن وه.

ښاغلي مجروح تر زده کړو وروسته له خپل ذوق، تفکر او مطالعاتو زیاته ګټه اخیستې ده. له مطالعې، په ځانګړي ډول له روحیاتو او فلسفې سره یې زیاته مینه درلوده. د همدغې مینې له امله په زیاترو ادبي، ټولنیزو، فلسفي او مذهبي پېچلو مسایلو کې د ښو معلوماتو څښتن و.

دري، عربي او انګلیسي ژبې یې زده وې. له اردو څخه یې هم ګټه اخیستلای شوه. ازاد طبیعته سړی و، په حق ویلو کې یې د چا پروا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتله، استدلالي بحثونه يې خوښول او ادبي مجلسونه يې ښه تودولای شول.

د اروابښاد مجروح رسمي ماموريتونه دا وو:

په ۱۳۱۳ل. کې د مشرانو جرگې غړی و.

په ۱۲۱۷ل. کې د افغان ملي بانک د تفتيش عمومي رئيس او د حکومت استازی و.

په ۱۳۱۷ل. کال کې د قند جوړولو د فابريکو او د پټرولو د شرکت رئيس و.

د ۱۳۲۸ل. په لړم کې د قبايلو د مستقل رياست کفيل شو.

په ۱۳۲۹ل. کې د قبايلو مستقل رئيس شو.

په ۱۳۴۲ل. کې د ډاکټر يوسف په کابينه کې د عدليې وزير و.

په ۱۳۴۴ل. کال کې د صدارت مرستيال و.

په ۱۳۴٦ل. کال کې په مصرکې د افغانستان لوی سفير.

د ډاکټر يوسف په صدارت کې د اساسي قانون د تسويد د اوه کسيزې کمېټې رئيس هم و. د دې قانون پر بنسټ مشروطه شاهي نظام رامنځ ته شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دې دورې روښاندو ټولو د مشروطيت خبره کوله او په يوې ليکې پورې يې اړه درلوده؛ خو يوازې افراط او تفريط يو له بله جلا کول. په دوی کې منځلاري روښاندي د آرام انقلاب غوښتونکي وو، چې بايد له بره د دولت په مرسته عملي شوی وای. دې موخې ته د رسېدو لپاره د " ملي کلوپ" په نامه د دولتي گوند بنسټ کېښودل شو، چې مشر يې سمش الدين مجروح و.

شمس الدين مجروح چې له **۱۳۴۲-۱۳۴۴**ل. پورې د اساسي قانون د کمېټې رئيس او د صدارت مرستيال و، وايي: د اساسي قانون کمېټې غوښتل چې د گوندونو قانون له اساسي قانون سره هم مهاله د هماغه **۱۳۴۳**ل. کال په لويه جرگه کې تصويب شي؛ خو پاچا له دې وړانديز سره موافقه ونه کړه.

د دې اساسي قانون په مسوده کې راغلي وو، چې بايد د شورا قدرت او صلاحيت معلوم وي. د صدراعظم مسووليت د شورا پر وړاندې معلوم وي، يعنې صدراعظم بايد د اعتماد رايه واخلي، پاچاهي او حکومت دې بېل شي. په هېواد کې نورې تشې هم شته نو بايد قوانين راغونډ او اساسي قانون وړاندې شي، که خلکو ومانه تر هغه وروسته دې اصلاحات پيل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې قانون کې راغلي وو، چې صدراعظم به له پاچاهي کورنۍ څخه نه وي. ارواښاد مجروح بیا د مشرانو جرگې انتصابي غړی شو او په پای کې په **۱۳۵۲**ل. کال کې متقاعد شو. ارواښاد مجروح یو ملي شخصیت و. پر نړیوالو سیاستونو، پرمختگونو او نیتونو پوه انسان و؛ څکه خو په یوه شعر کې خپل ملت ته داسې مخاطب شوی دی:

له مغربه د تهذیب ختلی لمر دی
ای واعظه ورته وگوره محشر دی
بس کړه بس کړه د ریا خبرې نورې
کوم یې خوند کومی مزه کوم یې اثر دی
که پام وکړې په دنیا کې هرڅه نور دي
نوی وعظ نوې گناه نوی ممبر دی
ته چې پروت په دې درانه خوب یې پښتونه
نه پوهېږم چې به څه شې خدای خبر دی
د سیالانو قافله درځني لاړه
ستا په مخ کې لا هغه شانی گوډ خر دی
له هوا به دې غلیم په غازو وژني
تا ترلی خپلې ملا پورې لا سپر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــور ژونــدون د ټوکــو نــه دی ځــان بيــدار کــړه
نـــن ســـبا دې خونـــه ورانـــه کـــار ابـــتر دی

زر د علـــــم زغـــــرې واغونـــــده پښـــــتونه
کـــه نـــه تـــوره د دښـــمن ده او ســـتا سر دی

آخـــــر کومـــــه نيمګړتيـــــا دا ســـــتا ووايـــــم
کــوم دې مــال، کومــه هســتي، کــوم دې هــنر دی

جهالـــت پـــه تـــا څـــه کـــړي ورتـــه ګـــوره
کــه خــواري ده کــه ذلــت دی، ســتا پــرې سر دی

ته چــې لاس تــر زنــې ناســت يــې څــه بــه واخلــې
مـــزد نصـــيب خـــو همېشـــه د کـــاريګر دی

ســـتا اولاد بـــه ســـبا څـــه ربـــي کـــم بختـــه
تـــا خـــو کـــړی ورتـــه نـــن د غنـــو کـــر دی

د غفلـــت پـــه خـــوب ويـــده دي ټـــول لـــه مخـــې
که څوک خان که څوک ملک که څـوک افســر دی

د زړو يـــــې تعصـــــب ديـــــن او آيـــــين دی
د زلمـــو يـــې د مغـــرب تقليـــد هـــنر دی

کـــه دا حـــال او دا احـــوال د پښـــتنو وي
نـــن ســـبا د دښـــمنانو لـــوی اخـــتر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجروح په ټولنه کې پریوه سیاسي شـخص سربېـره د یـوه شـاعر او لیکوال په توګه هم پېژندل کېده، دا آثار یې افغاني ټولنې ته راپرېښي دي:
یاد فریـاد، منتخـب اشـعار، پـه نظـم د عمرخیـام د رباعیـاتو پښـتو مجموعه، پرېشانه خوب.

اروابناد مجروح د۱۳۸۱ل. کال د غبرګولي پـر **۲۸** مـه د امریکـا پـه متحده ایالتونو کې ومړ، جسد یې هېواد ته راوړل او د کونړ د اسمار پـه شینکوړک کلي کې خاورو ته وسپارل شو.



مشوانی، روهیال، اروابناد عبدالمجید بـابی، ډاکټـر طـارق رشـاد، سـید هېـواد، اروابنـاد عبدالقدیم پټیال او طاهرحسن شینواری د اروابناد مجروح روح ته د دعا په حال کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د مشروطه شاهي نظام لپاره د اساسي قانون د کمېسیون مشري کول.
- ✓ په بېلابېلو وختونو کې د اساسي قانون او نورو قوانینو په تسوید، تدقیق او تصویب کې فعاله ونډه اخیستل.
- ✓ ملي ګټو ته ملتزم و، هغه پوهېده چې جنګونه او ګډوډۍ بدمرغۍ زېږوي، ځکه خو یې د آرام انقلاب غوښتنه کوله.
- ✓ په جهادي دوره کې د ملت د حقې مبارزې ملاتړ کول.




د پکتیا د عامې روغتیا ریاست وداني، چې د فیض محمد خان په دوره کې جوړه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library







# عبدالمجید زابلی

عبدالمجید زابلی په**۱۲۷۱**ل= د **۱۸۹۶**م. اګست کې په هـرات کـې زیږېدلی دی؛ خو له آره د زابل تره کی دی. زابلي لـومړنی زده کـړې پـه هرات کې وکړې او بیا د لوړو زده کړو لپاره تاشکند ته لاړ.




د افغانستان لومړنی بانک، چې په کابل کې جوړ شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



زابلی د افغانستان د بانکي سیستم د مؤسس په نامه پېژندل کېږي.

زابلی د افغانستان د لومړني بانک"افغان ملي بانک" بنسټګر دی. په **۱۳۱۲**ل= **۱۹۳۴**م. کې یې د **۳۵**میلیونو افغانیو په پانګې د افغان ملي بانک په تأسیسولو سره هېوادوالو ته د بانکوالۍ نظام ورو پېژانده.

شپږ کاله وروسته یعنې په **۱۳۱۸**ل=**۱۹۳۹**م. کې یې د هېواد د مرکزي بانک په توګه " د افغانستان بانک" تأسیسولو ته لاس وراوږد کړ او د




د افغانستان دویم بانک، چې په کابل کې جوړ شوی دی

دولت پانګه یې هغه بانک ته ولېږدوله.

هغه تر **۱۶**د زیاتو اقتصادي بنسټونو په تأسیسولو سره د ملي اقتصاد په پراختیا او غوړېدا کې مهم رول ولوباوه او له دې لارې یې د هېواد اقتصاد پیاوړی کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زابلی له(۱۳۱۵- ۱۳۲۹ل= ۱۹۳۶-۱۹۴۰م) کال پورې د افغانستان د ملي اقتصاد وزیرو.

زابلي افغانستان ته فابریکې راوړې او ویې درولې، چې په پایله کې افغان ملي بانک پراختیا وموندده. افغان ملي بانک تر۱۳۶۹ل= ۱۹۹۰م. پورې په کابل کې اوه څانگې او په نورو ولایتونو کې ۱۵څانگې درلودې. همدا رنگه یې د پاکستان په کراچۍ، د جرمني په هامبورگ، د انگلستان په انگلینډ او د امریکا په نیویارک کې هم دفترونه درلودل.

هغه په۱۳۰۱ل. کې د خپل وارداتي او صادراتي شرکت مرکزیت له هرات څخه تاشکند او مسکو ته ولېږداوه. په ۱۳۰۹ل. کې یې سوداگریز سهامي شرکت جوړ کړ.

زابلي په پوره ځیرکۍ او هېوادپالنې سره د هېواد د ملي اقتصاد په غوړېدا کې مهم او رغنده رول ولوباوه. هغه او یو شمېر نورو منځلارو روښاندو ځوانانو داسې انگېرله چې یوازې منځۍ پوړ باید په افغانستان کې زیات او پیاوړی شي، چې وکړی شي اداري او اقتصادي واک په لاس کې واخلي او په دې ډول هېواد د پرمختگ په لورو روان کړي.

زابلي د ۱۹۷۰م کال په جون- جولای= ۱۳۴۹ل. کې له "کاروان"ورځپاڼې سره د یو لړ مرکو په ترځ کې په افغانستان کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلانګذارۍ معقولیت تر پوښتنې لاندې راوست. هغه دلیل وړاندې کاوه چې په افغانستان کې پلانګذارۍ تر اوسه هېواد یوازې د بهرنیو پورونو تر درانه پېټي لاندې کړی دی. هغه په دې باور و، چې یوازې په هغه څه چې د اقتصادي زیربناو په نامه نومول شوي دي، د ډېرې او درنې پانګونې پرځای غوره او عملي دا وه، چې افغانستان پر تولیدي پروژو د زراعت، کانو او صنایعو په ډګر کې کار کړی وای، بیا د هغو له عوایدو څخه شونې وه، چې په عین حال کې د هېواد د اقتصادي زیربناو وضع ښه کړی شي. هغه ویلي وو، چې حکومت د هېواد د ښېګڼې لپاره له خصوصي پانګونو څخه د ښې ګټې اخیستنې ځواک نه دی تر لاسه کړی او خصوصي پانګې زیاتره په ناګټورو ډګرونو کې لګول شوې دي.

دې څرګندونو محمد داؤد خان وقهراوه، ځکه زابلي د افغانستان په اقتصادي پلانګذارۍ کې د محمد داؤد خان معقولیت او پوهه تر پوښتنې لاندې راوستې وه.

زابلی هغه مهال له هېواده ووت، چې دربار ورته په قهر شو، هغه بیا په امریکا کې استوګنه غوره کړه او تر مرګه همالته واوسېده.

پر زابلي ځوان نسل ډېر ګران و، هغه په بېلابېلو مسلکونو کې د ځوان نسل د روزنې ملاتړ کاوه او په دې برخه کې یې خپله شخصي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتمني هم لگوله. له هغه شخه هم په هېواد او هم په بهر کې هېښنده پانگه پاتې ده، چې د هغه د وصيت له مخې يې ځينې شتمنۍ په دولت پورې اړه لري.

د زابلي د يوه معتمد کس له لوري هغه مهال چې د طالبانو يو اته کسيز پلاوی امريکا ته تللی و، دا وصيتپانه د اطلاعاتو او کولتور وزارت معين عبدالرحمن هوتک ته سپارل شوې وه:

...

ب: د هر کال په پای کې هغه پيسې چې د ټرسټ فنډ له خالصې گټې شخه تر لاسه کېږي ۲۰ شل سلنه يې د ټرسټ فنډ د پانگې د پراخوالي لپاره په بانک کې ايښودل کېږي او د خالصې گټې۸۰ اتيا سلنه يې د بانک د کمېشن تر لگښتونو وروسته د کابل پوهنتون حساب ته لېږدي. کابل پوهنتون بايد هغه کلني عايدات چې په هغه پورې اړه پيدا کوي، په دې ډول ولگوي:

د ټرسټ يو پلاوی دې وټاکل شي، چې لاندې کسان پکې غړيتوب ولري؛

زما له کورنۍ شخه دې يو کس چې افغانستان ته راستون شوی وي، يو کس د ډاکټر بشير زکريا له کورنۍ، يو کس د عارف غوثي له کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



او درې کسه د کابل پوهنتون له استادانو څخه، چې د کابل پوهنتون د استادانو د رايو په اکثريت ټاکل شوي وي، د کابل پوهنتون له رئيس سره په ګډه د ټرسټ فنډ د اتيا سلنه عوايدو اداره پر غاړه واخلي، چې د هېواد د پوهنې ودې ته ځانګړي شوي دي.

د ټرسټ فنډ مقاصد ملي وو؛ نو له همدې امله له دې وصيتپاڼې سره سم يې عوايد هم په افغانستان کې د پوهنې ودې ته ځانګړي شوي دي، چې بايد په لاندې ډول ولګول شي:

۱-په لومړي پړاو کې بايد د ټرسټ فنډ د اتياسلنه عوايدو له مدرکه چې تر خپلواکۍ وروسته افغانستان ته لېږديږي، د هغو شاګردانو لپاره يوه ليليه جوړه شي، چې د ولايتونو له لېسو څخه کابل ته د لوړو زده کړو په موخه راځي.

۲-په دې ليليه کې د شاملېدونکو مستحوقو شاګردانو د خوړو لګښت د ټرسټ فنډ له کلني عايد څخه اجرا کېږي.

۳-د ليليې د ودانۍ د ساتنې او څارنې لګښتونه هم له دې مدرکه ورکول کېږي.

۴-هر کال د کلنۍ بودجې په حدودو کې د ولايتونو د لېسو يو شمېر فارغان په دې ليليه کې منل کېږي، چې د لوړو زده کړو هيله ولري او

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاندېني شرايط پوره کړي: له ۱۲ټولګي په لومړۍ درجه فارغ او د کانکور په ازموينه کې بريالی پېژندل شوی وي. له يوې بېوزلې کورنۍ څخه وي.

د داسې ډول شاګردانو څانګه هم بايد د هغو له ورتيا او هيلې سره سمه وټاکل شي.

**۵**-له پاتې پيسو (د ليلې د لګښتونو تر پوره کېدو وروسته) دې د ترستې فنډ د کلنيو عوايدو په بودجه کې په بهر کې د لوړو زده کړو د چانس لپاره په لاندې ډول ګټه واخيستل شي:

الف - يو شمېر شاګردان چې له خپلو اړوندو پوهنځيو څخه په لومړۍ درجه د ساينس، ټکنالوژۍ، ملي اقتصاد، پوهنې، زراعت او حفظ الصحې په څانګو فارغ التحصيل شوي وي او پوهنتون وغواړي، چې هغوی په نوموړو څانګو کې د ښوونکي په توګه وروزي او بهر ته يې د لا لوړو زده کړو لپاره ولېږي، د هغو لګښتونه دې د همدې ترستې فنډ له کلنيو عوايد څخه تمويل شي. په دې شرط چې غيرکمونستي هېوادونو يعنې امريکا، لوېديځې اروپا، جاپان او نورو ته ولېږل شي.

ب- هغه کسان چې له دې مدرکه د هغو د زده کړو لګښتونه په بهر کې ورکول کېږي، بايد ضمانت ورکړي، چې په بهر کې د زده کړو له تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره کولو وروسته هېواد ته راستنېږي او د کابل پوهنتون له اړتيا سره سم **۱۴**کاله تدريس کوي. په دې صورت کې د خدمت په لومړيو **۱۲**کلونو کې پر هغه ټاکلي معاش سربېره چې له اړوندې اداري څخه يې اخلي، هره مياشت دې زر افغانۍ د ترسټ فنډ د عوايدو له مدرکه هم ورکړل شي. په هغه صورت کې چې دا ډول شاګردان له بهر څخه بېرته راستانه نه شي، ضامن يې بايد د تګ راتګ او هلته د زده کړو لګښتونه بېرته ترسټ فنډ ته ورکړي.

زابلي د **۱۳۷۷**په لړم= د **۱۹۹۸**م. کال په نومبر کې يې له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي دي.

د فکر ژورو ته کښته کېدل او د تعقل له چينې د زمزمو رايستلو ته تفکر وايي. تفکر دا نه دی چې اروادې د سوچ له قافلې سره ملتيا وکړي او د انديښنو نړۍ ته دې يوسي.


*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ زابلی یو ملي شخصیت و، ځکه خو یې خپله شتمني ملي ګټو ته وقف کړه.
- ✓ په افغانستان کې د بانکدارۍ پلار ګڼل کېږي او رښتیا هم داده چې په دې ډګر کې یې نه هېرېدونکی کار کړی دی.
- ✓ زابلي تر ۱۶ د زیاتو اقتصادي بنسټونو په تأسیسولو سره د ملي اقتصاد په غوړېدا کې مهم رول ولوباوه.
- ✓ د هېواد د صنعتي کېدو د لومړي بنسټ په کېښودو کې یې لاس درلود.



(c) ketabton.com: The Digital Library







# عبدالملک عبدالرحیمزی

عبدالملک د عبدالرحیم خان زوی پر **۱۲۹۳**ل = **۱۹۱۴**م. کال د لوگر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ په گومران کلي کې زېږېدلی دی. عبدالرحیمزی په ملک خان هم مشهور و.

عبدالرحیمزی وروسته له هغه چې لومړنۍ زده کړې یې په خپل هېواد کې پای ته ورسولې، د لوړو زده کړو لپاره ترکیې هېواد ته ولېږل شو. هلته یې د حربي لوژستیک په مسلک کې د هغه هېواد په حربي اکاډمۍ کې زده کړې بشپړې کړې دي. د امریکا له متحده ایالتونو څخه یې د عامه اداري په څانگه کې د لېډرشیپ ډیپلوم تر لاسه کړی دی.

د زده کړو تر بشپړولو او خپل هېواد ته تر راستنېدو وروسته یو وخت د دفاع وزارت د لوازماتو مرستیال او بیا رئیس و ټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحیمزي د جګړنۍ او ډګرمنۍ رتبې په محاربوي خدمتونو تـر لاسـه کـړي دي. د محمـد داؤد خـان د دفـاع وزرات پـه دوره کـې عبدالرحیمزی د پوځ د لوژستیک رئیس و.

په **۱۳۲۳**ل. کې د مرکزي قواو د پلټنې رئیس و.

په **۱۳۲۵**ل. د ملي دفاع وزارت د پلټنې رئیس و.

په **۱۳۳۰**ل. کې د عمومیه لوازماتو(لوژستیک) رئیس و.

د **۱۳۳۲**ل. کال له وړې د مالیې وزارت کفیل و.

د **۱۳۳۲**ل. له لړم د مـالیې وزارت پرکفالـت سربېـره د مـلي اقتصـاد وزارت کفالت هم ورپه غاړه شو.

د ښې وړتیا ښودنې له امله د کفالـت لـه پـړاوه تېـر او د **۱۳۳۴**ل. پـه سلواغې = **۱۹۵۵**م. کې د ډګروالۍ په رتبه د محمد داؤد خـان پـه کابینـه کې د مالیې وزیر وټاکل شو.

عبدالرحیمزی ډېر هوښیار، عالـم، ځواکمن او صدراعظم تـه نـږدې سړی و. وروسته له هغه چې ډاکټر عبدالرؤف حیدر د اقتصاد وزارت لـه چوکۍ استعفا ورکړه، عبدالرحیمزي د هغه وزارت سرپرستي هم کوله.

د پنځه کلن اقتصادي پلان په برابرولو پسې یـو ځـل بیـا د تمویـل د سرچینو د نه شـتون سـتونزه رامـنځ تـه کېـږي، ځکـه یـوازې د شـوروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



امکاناتو ته لاسرسي د پلان د پلي کولو لپاره بسنه نه کوله، نو يوه له هغو شتمنو سرچينو څخه چې په کلونو کلونو ورته د پاچاهي دربار سترګې وراوښتې وې، د امريکا د مرستو جلبول وو. له همدې امله يو ځل بيا د عبدالرحيمزي تر مشرۍ لاندې يو پلاوی وټاکل شو او صدراعظم محمد داؤد خان د امريکا متحده ايالتونو ته د هغه د سفر په اړه عبدالرحيمزي ته داسې وويل:

(( امريکايان زموږ پر تندي سره ستوري ويني، زما ترونه د هغه هېواد د مرستو پر راجلبولو بريالي نه شول، اوس ستا دنده ده، چې د امريکايانو قناعت تر لاسه کړې))

له امريکا څخه دغه پلاوی تش لاسونه راونه ګرځېده، بلکې تر يوه بريده يې له ځان سره برې هم درلود. د ساري په ډول د **۱۳۳۶**ل=**۱۹۵۷**م. کال د جون په وروستيو کې د امريکا دولت د کابل پوهنتون د جوړولو لپاره يو ميليون او شپږ سوه زره افغانۍ ځانګړې کړې او د افغانستان او امريکا ترمنځ د پنځه ميليونه او اوه لکه پنځوس زره کلدارو پور موافقه وشوه. همدارنګه له ماليې وزارت سره يو ميليون او يو سلو شپاړس زره امريکايي ډالره نوره مرسته هم وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده په خپلـو دوه لومړيـو کـاري کلونـو کـې د پخـواني حکومـت د بودجې حجم چـې **۵۰۰** میلیونـه افغـانۍ وې، يـو میلیـارد او درې سـوه میلیونو افغانیو ته پورته کړ. دا لومړی ځل و، چې هېـواد لـه پرلپسـې **۲۴** کلن بودجوي کسر څخه خلاص شو.

په**۱۳۳۶**ل= **۱۹۵۷**م. په دې تور چې د کوم بهـرني هېـواد ( امريکـا) په دسيسه يې غوښتل کودتا وکړي، زنداني شو او پر ځای يـې د هـرات د هغه مهال والي عبدالله ملکيار وټاکل شو.

عبدالرحيمزي ډېر کلونه په زندان کې تېر کړل. کله چې به هغه تـه د وتلو اجازه ورکول کېده، هغه به نه منله او غوښتنه يې کوله چې جـرم دې يې معلوم او د زنداني کېدو دليل دې يې څرگند شي. په پای کې د غوايي تر کودتا وروسته د **۱۳۵۷**ل. د لړم په **۱۵** مه تر **۲۲** کاله زنـدان وروسـته آزاد شـو. د هغـه خلاصـون د دوسـتانو او پلويـانو د ډېـرې خوښـۍ لامـل وگرځېد، د هغه ليدلو او هـرکلي تـه خلـک پرلپسـې ورروان وو. واکمـن رژيم د هغه په کور کې دا گڼه گونه او تگ راتگ ونـه زغمـه؛ نـو بيـا يـې بندي کړ؛ خو څه موده وروسته تر ځينې شرايطـو او قيوداتـو لانـدې ازاد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالرحیمزی سربېره پر دې چې یو مسـلکي نظـامي افســـر و، یـو استاد او لیکوال هم و. په حربي پوهنتون کې یې د استادۍ ویـاړ درلـود، چې د لوازماتو او لوژستیک پـه څانګـه کـې یـې لـه ژبـاړنۍ پیـل او تـر استادۍ پورې پرمختګ کړی و.

کله چې په ۱۳۳۰ل. کې د لوازمو(د فوق لسانس معـادل) پـوهنځی تأسیس شو، د هغه څلور مهم مضامین (د سفر برۍ لوژستیک، عمـومي بسیج و د پوځ بسـیج، د اعاشـې عـالي نظریـات او د قرارګـاه مسـاعي) عبدالرحیمزي تدریسول.

د اداري چارو او لوازمو(اوسني لوژستیک) په اړه یې کتابونه، رسالې او زیاتې مقالې لیکلې دي. نوموړي د سـفر بـرۍ د چـارو، اساسـات او لوژستیک، د قراګاه مساعي، د ارکان حـرب دنـدې، عمـومي تکتیـک، د پوځ مورال (معنویات) او ضد ټانک په اړه ډېر شمېر مقالې کښلي، چې د پوځ په مجلې کې خپرې شوي دي.

عبدالرحیمزي په مالیې وزارت کې د خپل کار پر هماغه لومړي کال یوازې دا نه چې دا د بودجې کسـر یې لـه منځـه یـوړ، بلکـې نومـوړي د لومړي ځل لپاره د دولت بودجې تـه علمـي بڼـه ورکـړه، قـانوني مـتن، د بابونو والا جدولونـه، فصـلونه او مـادې یـې پـه مجلـده بڼـه چـاپ او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېوادوالو او دولتي ادارو په واک کې ورکړل. په دې توګه د هېواد بودجه نوره له پاچاهي دايرې راووته او ملي، قانوني او تولېزه بڼه يې غوره کړه.

په عصري بڼه د ارزاقو د رياست رامنځ ته کول او همدارنګه د کابل او پلخمري د سېلوګانو طرح او جوړونه هم د دې وزير نوښت و.



د بغلان د پلخمري سېلو

عبدالرحيمزي په لومړي اقتصادي پلان کې پر شته ښوونځيو سربېره د ۷۰۳ کليوالي، لومړنيو، منځنيو او ثانوي ښوونځيو لګښتونه او د کابل پوهنتون په چوکاټ کې د پنځه پوهنځيو پولي تخصيصات تضمين او تأمين کړل.

عبدالرحيمزي د پلان جوړونې هسته د پلان رياست په سويه د ملي اقتصاد وزارت په چوکاټ کې رامنځ ته کړه، چې د لومړي اقتصادي پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر طرحې او تـدوين وروسـته، د مـلي اقتصـاد وزارت پـه دريـو بېلابېلـو وزارتونو ووېشل شو. په دې ډول چې د صـنايعو رياسـت د صـنايعو پـر وزارت بدل شو. د پلان او سوداګرۍ رياستونه بيا هم د هغه د وړانديز پر بنسټ د سوداګرۍ او پلان پر وزارتونو بدل شول.

عبدالرحيمزي د سرې مياشتې د مؤسس غړي په توګه دې مؤسسـې ته له مالي پلوه عملي خپلـواکي ورکـړه، چـې پخـوا يـې پانګـه د مـاليې وزارت تر اداري لاندې وه. پر دې سربېره د دې مؤسسې ممکنه وسـايلو، عايداتي سرچينو او تمويل ته يې پراختيا ورکړه.

عبـدالرحيمزي د افغـاني پـلاوي د رئـيس پـه توګـه پـه دې پنځـه و کنفرانسونو کې ګډون کړی دی:

ايکافي کنفرانس په **۱۳۳۳**ل= **۱۹۵۴**م. د جاپان په توکيو کې.

ايکافي کنفرانس په**۱۳۳۴**ل= **۱۹۵۵**م. د هند په بنګلور کې.

د نـاپېيلو هېوادونـو د اقتصـادي سـازمان پـه لـومړني کنفـرانس **۱۳۳۴**ل= **۱۹۵۵**م. کې د اندونيزيا په باندونګ کې.

د نړيوال بانک کنفرانس **۱۹-۲۵** سنبله **۱۳۳۴**=  **۱۲-۱۸**سپتمبر **۱۹۵۵**م. د ترکيې په استانبول کې.

د نړيوال بانک کنفرانس **۱۳۳۴**ل=**۱۹۵۶**م. په نيويارک کې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د پلټنې رياست، د وسله پالې ډلبندي(اردونانس) او د افغان پوځ د لوازمو پوهنځي تأسيسو يې نوښتونه وو.
- ✓ د افغان پوځ د لوازمو او لوژستيک ټولى يې وضع او پلى کړ.
- ✓ په **۱۳۲۳**ل. کې د افغـان پـوځ د افـرادو د اعاشـې، کوپراتيـف او عسکري کانتين ترويجوونکى او مؤسس دى.
- ✓ زندان يې مانه؛ خو بېځايه تور يې نه مانه؛ نو له زندانه ونه وت.
- ✓ افغاني سرې مياشتې ته يې خپلواکې ورکړه.
- ✓ بودجه کنترولول او د بـودجې اوړ کســر لـه منځـه وړل يـې يـو کارنامه ده.

په فزيکي ډول د ټولنې د اساساتو جوړول اسان کار دى، خو په فکري ډول جوړول يې د ستونزو او کړاوونو توپان په مخ کې لري.

*** *** ***

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# عبدالله ملکيار

عبدالله ملکيار د برگد عبدالاحمـد خـان زوی او د عبـدالمک خـان لمسی دی، چې له همدې امله يې "ملکيار" کورنی نوم غـوره کـړی دی. ملکيار د (۱۹۰۹م. کال د اپريـل پـه۱۶مـه =۱۲۸۸ل) پـه غـزني ښـار کـې زېږېدلی دی. لومړی يې په غزني او بيا يې د کابل پـه اسـتقلال او امـاني لېسو کې زده کړې کړي دي.

تر دغو زده کړو وروسته له امان الله خان پاچا سره له هېواده ووت او هند ته لاړ. له هغه ځايه له سردار عنايت الله سره ايران ته لاړ. هلته يـې د فرانکو پرسان په مؤسسه کې نـورې زده کـړې وکـړې. پـه ۱۳۱۱ل. کـې د هـرات لـه لارې بېرتـه هېـواد تـه راسـتون شـو او د نايـب سـالار عبدالرحيم خان کوهستاني له خوا يې تود هرکلـی وشـو. بيـا د مشـرانو ورونو د ليدلو لپاره کندهار او کابل ته لاړ. عبدالاحد خان په کنـدهارکې فرقه مشر او عسکري قوماندان او گل احمد خان په کابل کې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وروښو تــر لیــدو وروســته پــه کنــدهار کــې و، چــې د صــدراعظم محمد هاشم خان له خوا کابل تــه وروغوښــتل او د صــدارت د دریيمــې شعبې د تحریراتو د مدیر په توگــه وگومــارل شــو. تــر ۱۳۱۵ل. پــورې پــه همدې دندې پاتې و.

ملکیار په۱۳۱۶ل. کې په جرمني کې د بانک نماینــده مقــرر شــو. پــه همدې کال يې له "خیریه" سره واده وکړ او له دې مېــرمن سره جرمنــي تــه لاړ. د دویم نړیوال جنگ تر پیل پورې په جرمني کې د بانــک نماینــده و. څرنگه چې د جنگ له امله د جرمني سوداگریز اړیکي له نورو هېوادونــو سره پرې شول؛ نو ملکیار هم بېرته افغانستان ته راوگرځېد. تــر راســتنېدو وروسته د سوداگرۍ وزارت معین او د افغانستان بانک مرســتیال وټاکــل شو؛ خو شپږ میاشتې وروسته د هرات نایب الحکومه مقرر شو.

پر پښتو او دري سربېره يې په انگلېسي، جرمني او فرانسوي ژبو هــم د اړتیا په اندازه خبرې او لیکنې کولای شوې.

برگد عبدالاحمدخان د امیرحبیب الله پــه دوره کــې د برگــد پــه رتبــه "امین الوجوهات" و، چې ناثابت عواید لکه گمرک او نور راغونډول او د مستوفی الممالک په غیابت کې د هغه  سرپرستي کول يې دنده وه. برگد عبدالاحمدخان په غزني کې په خپل کور کې ووژل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله ملکیار دوه ورونه درلودل: (گل احمدخان او عبدالاحدخان) چې دواړه تر هغه مشران وو. گل احمدخان ډېر وخت د مزار او لړ مـوده د هـرات نایـب الحکومـه و. دا شـخص هـم د افغانسـتان لـه مـدبرو او باکفایتو نایب الحکومه گانو څخه و. عبدالاحدخان د افغانسـتان د پـوځ جنرال و، چـې تـر نایـب سـالارۍ رسـېدلی و. پـه مشـرقي کـې یـې د نائب الحکومه او عسکري قوماندان په توگه هم دنده ترسره کړې ده.

ملکیار درې خویندې درلودې: جیران چـې د مشـهور نایـب سـالار زلمـي خـان منگـل خـورزه وه. دویمـه یـې حمـیرا ملکیـار وه، چـې لـه صلاح الدین سلجوقي سره یې واده کړی و. درېیمه یـې حبیبـه ملکیـار د هرات د مشهور فرقه مشر جنرال محمدقاسم خان شریف مېرمن ده، چې په کلفورنیا کې مېشته ده.

عبدالله ملکیار د هلمند ناوې د رئیس په توگه هم دنده تـرسره کـړې ده. دا هغه مهـال و، چـې پاکسـتان مالـدار کوچیـان د اباسـیند شـاوخوا ښېرازو ورشوگانو ته له ورتگه منع کړل او ژمی یې مجبوراً پـه افغانسـتان کې راغی. حکومت ملکیار د دې لپاره د هلمند نـاوې رئـیس مقـرر کـړ، چې د کوچیانو د څرځایونو غم وخـوري او د هلمنـد او ارغنـداب اوبـه کنټرول کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لـه(**۱۳۲۰**- ۱۳۲۸ل= **۱۹۴۱**م- **۱۹۴۸**م) پـورې د هـرات نایـب الحکومه و.

تر هغه وروسته یې ورور ګـل احمـدخان پـه **۱۳۲۹**ل. کـې د هـرات نایب الحکومه شو؛ خو تر یو کـال وروسـته هغـه لـیرې او عبـدالله خـان ملکیار دویم ځل د هرات نایب الحکومه په توګـه مقـرر شـو (لـه**۱۳۳۰** – **۱۳۳۳**ل= **۱۹۵۱**م- **۱۹۵۴**م پورې).

عبدالله ملکیار په**۱۳۳۹**ل= **۱۹۶۰**م. کې د مالیې وزیر شو.

د هغه د وزارت په دوران کې پخواني شوروي اتحـاد لـه افغانسـتان سره **۳۰۰** میلیونه ډالره اقتصادي مرسته وکړه.

د هغه د وزارت په دوره کې د پخواني شوروي اتحاد متخصصـینو د هیواد په شمال کې نفت هم کشف کړل. د هغـه پـه دوره کـې د سـالنګ لوی واټ وغځېده او ختیځ یـې د هیـواد لـه شـمال سره پـه داسـې ډول ونښلاوه، چې لاره یې **۱۹۵** کیلومتره رالنډه شوه.

همدا رنګه امریکا هم له افغانستان سره **۱۶**نـیم میلیونـه ډالـره مرسـته وکړه او **۵۰** میلیونه یې پور ورکړ.


(c) ketabton.com: The Digital Library





د سالنګ تونل داخلي نما، چې ډمبر سرک په بشپړه توکه ويجاړ شوی دی

د ملکيار په دوره کې شوروي اتحاد د نغلو بند رغولو لپاره هم د دوه سوه شل ميليونو او څلور سوه زرو( ۲۲۰۴۰۰۰۰۰ )ډالرو ژمنه وکړه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



په(۱۳۳۹- ۱۳۴۰ل= ۱۹۶۰- ۱۹۶۱م ) کې د افغانستان ولسي جرگې ۴۵۰ میلیونه افغانۍ بودجه تصویب کړه؛ خو ملکیار اعلان وکړ، چې له (۱۳۳۶-۱۳۴۰ل=۱۹۵۷- ۱۹۶۱م) پورې د پنځه کلن پلان د پاتې کارونو د بشپړاوي لپاره به **۲۵۴** میلیونه افغانۍ زیاتې هم ورکړي.

عبدالله ملکیار د ډاکټر محمد یوسف د صدارت په دوره (**۱۳۴۳**ل) کې د صدارت لومړی مرستیال او د مالیې وزیر، خو وروسته په لندن کې د افغانستان سفیر شو.

عبدالله ملکیار په هغه پلاوي کې هم شامل و، چې د امریکا د جمهور رئیس "ایف کینیډي" او د هغه د مېرمنې په بلنه محمد ظاهر پاچا او ملکه "حمیرا" امریکا ته لاړل. تر دې سفر وروسته عبدالله ملکیار له **۱۳۴۶-۱۳۵۶**ل= **۱۹۶۷- ۱۹۷۷**م. پورې په واشنگټن کې د افغانستان سفیر و.

هغه له نبراسکا پوهنتون څخه په**۱۳۵۴**ل= **۱۹۷۵**م. کال کې د حقوقو افتخاري ډاکټري واخیسته او له همدغه کال وروسته د تل لپاره په امریکا کې مېشت شو.

تر دویم نړیوال جنگ وروسته پخواني پاچا محمد ظاهر، د امریکا متحده ایالتونو ته عبدالحسین "عزیز" د لومړني سفیر په توگه ولېږه. په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقابل کې "روزولټ" د امریکا رئیس جمهور د امریکا د لومړني سفیر په توګه "ویلیام هارني بروک" د **۱۳۲۴**ل= **۱۹۴۵**م. کال د نومبر په **۴**مه افغانستان ته راولیږه. عبدالحسین عزیز هغه تاریخي ودانۍ چې پخوا د امریکا د سترې محکمې وه، په دې هېواد کې د افغانستان د سفارت لپاره ګرو ونیوه، بیا عبدالله ملکیار د خپل سفارت په دوره کې دا وداني د افغانستان د سفارت لپاره وپېرله.

اروابناد عبدالله ملکیار په هرات کې ډېر اصلاحات راوستل، د ښاري پراختیا پلان یې پلی او هغه نقشه یې پراخه کړه چې غلام فاروق "عثمان" یې بنسټ ایښی و. تاریخي آبدات یې ترمیم او له ویجاړېدنې وژغورل. د ځینو زیارتونو ودانۍ او د دولتي ادارو لپاره یې ډېرې ودانۍ جوړې کړې.

عبدالله ملکیار د هرات په مرکز او سیمو کې د دفترونو او ادارو لپاره ودانیوجوړولو ته کلکه پاملرنه وکړه او په خپله دوره کې یې دومره ودانۍ جوړې کړې، چې په تېر کې یې ساری نه و لیدل شوی؛ خو راوروسته یې تر اوسه هم ساری ونه لیدل شو. وایي چې ملکیار په هرات کې **۹۲** ودانۍ جوړې کړي دي. د غور په دولتیار کې د پاخه هوټل وداني، د بادغیس د رباط سنګي وداني، د هرات ولایت پارک، پارک هوټل، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرات سینما، د تمثیل صحنه، شاهي باغ ته د څېرمه د ښوونځي وداني، د عامه کتابتون وداني، د عدلیې د محاکمو، څارنوالی، احصایې او نور لپاره ودانی، د انجیل، کرخ، اوبه، شهرک، سرچشمې، گذرې، تیوره، ادرسکن، گلران، تولک، قادس، جوند، بالامرغاب، پسابند، فرسی، چشت، ساغر، کشک کهنه، غورماچ، غوریانو او نورو د حکومتي ادارو لپاره ودانی، د غیرزن د لېسې او کرخ ښوونځي ودانی، د هریرود هوټل وداني، د شینډنډ حکومتي ودانی، ملي باغ او نورې هغه رغاونیزې چارې دي، چې په ولس کې یې د ارواښاد عبدالله ملکیار نوم ژوندی ساتلی دی.

د هغه په دوره کې په هرات کې د عمراناتو شرکت جوړ شو. "رسا" صاحب د دوست محمد خان ایماق پخوانی او له کاره لوېدلې فابریکې سره له لینونو او نورو سامانونو وپېرلې او د برېښنا د لوی شرکت د رئیس غلام محمد فرهاد، عبدالمجید زابلي او د هرات د برېښنا شرکت د ریئس صلاح الدین سلجوقي په مرسته یې د هرات برېښنا له کابل سره یو ځای کړه او په پای کې د ملکیار په ځانگړې پاملرنې او پرلپسې هلوځلو دغه دوه پنځه سوه کیلواټه فابریکې فعالې او هرات بیا روښانه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبــدالله ملکیــار د هلمنــد نــاوې د پراختیــا ریاســت پــر مهــال د هرات- کندهار په سرک پراته پولونـه لکـه هاشـمي، ادرسـکن، شـینډنډ، جیجه، فراه رود، دلارام، هلمند او ارغنداب پـه لـړ وخـت کـې پـه فنـي کسانو جوړ کړل. ډېر سرکونه یې وغځول او د ښار شاوخوا او د سرکونـو پر غاړو یې ۳۲۰۰۰ ونې کښېنولې.



ملکیار د یوه ربښتني روڼاندي په توگه له علمـي فرهنگـي کړیـو سره نږدې اړیکي درلودل او د هغو د پراختیا او پیاوړتیا لپـاره یـې هراړخیـزې هلې ځلې کولې. د هغه په دوره کې فرهنگ او هنر ډېره وده وکړه، هغه به شخصاً په غونډو او مشاعرو کې گډون کاوه او له عملي- فرهنگي کسانو سره یې د یوه همکار په توگه چلند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پوهنې ته هم خورا ستر خدمتونه وکړل، تر هغه د مخه په هرات کې ښځينه ښوونځى نه و، د هغه په هلوځلو ښځينه ښوونځى جوړ شـو. د هغه په دويمه دوره کې دغه ښځينه ښوونځى چې" مهـري هـروي" يـې نومولى و، لېسې ته لوړ شو. هغه د ښځينه و دغه ښوونځى شخصـاً پالـه او کلکه پاملرنه يې ورته درلوده. د هغـه قدردانـه او عـالي فطرتـه مېـرمن "انيسه" به هم دغه ښوونځي ته راتلله، په پروګرامونو کـې بـه يـې ګـډون کاوه او د يوې زړه سواندې مور په توګه بـه يـې لـه بېوزلـو نجونـو سره د درسي وسايلو په برابرولو کې مرسته کوله. ان چې د هغو وېښتان بـه يـې ورپاکول او مينځل، د هغو لباسونه به يې ورمنظمـول او هغـو تـه بـه يـې ښودل، چې په بېوزلۍ کې هم ځان پاک- سوتره ساتلای شو.

پرته له مهمو جناياتو چې حق العبدي، اختلاس او د دولت د مـال د تلف کولو اړخ به يې درلود؛ ملکيار په نورو پېښو کې د دوسـيو جوړولـو پلوی نه و، يعنې په جزيي پېښو به يې دوسيې نه جوړولې.

د هغه تواضع، نېکې کړنې، نېک او مخلصانه نظريات او لـوړه پـاک نفسي د دې لامل شول، چې هغه د ولسونو په زړونو کې ځای خپل کړي او ټول ولس د هغه رښـتينی همکـار شي. د هغـه پـه دغـو کارنـامو کـې مخلصو هراتيانو هم ډېره ونډه درلودلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالله ملکیار په**۱۳۸۱**ل= د **۲۰۰۲**م. د اګست په **۴**مه په ویرجینیا کې ومړ. د هغه تر مړینې وروسته هراتیانو غوښتل چې د هغه جسد دې هرات ته راوړل او هلته دې خاورو ته وسپارل شي؛ خو غزنیچیانو ادعا درلوده چې هغه دې په غزني کې خاورو ته وسپارل شي. د افغانستان حکومت بیا دا ښه ګڼله چې په کابل کې خاورو ته وسپارل شي؛ خو د هغه کشرې یا ژوندۍ مېرمن انیسې په ویرجینیا کې خاورو ته د هغه د سپارلو پلوي وکړه. په پایله کې همالته په ویرجینیا کې خاورو ته وسپارل شو. انیسې له ملکیار سره شاوخوا **۶۲** کاله عمر تېر کړي دي. انیسه د معین السلطنه سردار عنایت الله خان لور ده.



د درونټې برېښنا بند

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د افغانستان په تاریخ کې یې د یوه نایب الحکومه په توګه د رغاونې په ډګر تر ټولو زیات کار کړی دی.
- ✓ یو ربښتینی، زړه سوانده او حقپال نائب الحکومه، سفیر او وزیر و. د وزارت د دورې کارنامې یې هم نه هېرېدونکې دي.
- ✓ که په سفر کې یې له غازي امان الله خانه لاره بېله شوه، نو فکراً په ربښتیني ډول د غازي امان الله په لاره روان و او تر پای یې هغه لاره پرېنښوده.
- ✓ د یوه نایب الحکومه، سفیر او وزیر په توګه یې د هېواد د پرمختګ او د هېوادوالو د هوساینې لپاره هر ډګر پاللی دی.

درناوی دا نهٔ دی، چې د یو چا عبادت وشي، حقیقي درناوی دا دی چې په یو چا کې څو مره جوهر وي، هماغو مره یې قدر وکړي او لهٔ افراط او تفریطهٔ ډډه وکړې.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# عبدالستار سیرت

ډاکتر عبدالستار سيرت د **١٣١٦**ل. په تله کې په سمنګانو ولايت کې زېږدلی دی. زده کړې يې تر ډاکترۍ پورې په اسلامي علومو کې سرته رسولي دي. په کابل پوهنتون کې يې له**١٣٣٩- ١٣٤٨**ل. پورې د شرعياتو پوهنځي د استاد، مرستيال او رئيس په توګه دندې ترسره کړې دي. په **١٣٤١**ل. کې د شرعياتو پوهنځي مرستيال او له**١٣٤٤- ١٣٤٧**ل. پورې د شرعياتو پوهنځي رئيس و. د نوراحمد اعتمادي په دويمه کابينه کې له**١٣٤٨- ١٣٥٠**ل. پورې د عدليې وزير او لوی څارنوال و. د ډاکټر ظاهر په کابينه کې مشاور وزير شو. په مکه مکرمه کې چې کله مېشت شوی؛ نو په ام القری پوهنتون کې له **١٣٥٤-١٣٨١** ل. پورې استاد و. له **١٣٥٤-١٣٨١**ل. پورې په مکه المکرمه کې د رابطة العالم الاسلامي د مؤسسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شورا غړی و. له **۱۳۵۴- ۱۳۸۱**ل. پورې د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر ځانګړی استازی او مشاور و.

له **۱۳۶۹**ل. تر اوسه پورې د سولې او ملي وحدت د پخوانۍ شورا او حرکت وحدت ملي افغانستان مشر و. په۱۳۸۰ل. کې د بن په تاریخي کنفرانس کې د پخواني پاچا محمد ظاهر د مؤظف پلاوي مشر و. سیرت یو ملي او علمي شخص دی، تل یې د ملت جوړونې ملاتړ کړی دی؛ په دې اړه وایي: پخوانی شوروي اتحاد د یو شمېر بېلابېلو مسلمانو او نامسلمانو ملتونو له ښکېلولو جوړ شوی و، چې شپږ یکې اسلامي هېوادونه وو. شوروي د دې لپاره چې هر ملت له بل ملت څخه جلا وساتي او داسې نه شي چې دا ټول ملتونه د کمونیزم او شوروي اتحاد پر ضد یوه کتله رامنځ ته کړي؛ نو هلته یې د ملیت اصطلاح رامنځ ته کړې وه. کله چې روسان افغانستان ته راغلل دا اصطلاح یې زموږ د قومونو پر وړاندې رواج کړه. هر قوم ته یې یو ملیت وایه، په داسې حال کې چې هیڅ ملت له بېلابېلو قومونو پرته نه تشکیلېږي. په نړۍ کې ځوک د یوه هېواد بېلګه نه شي وړاندې کولای، چې سل په سلو کې دې یو قوم وي. هر هېواد بېلابېلو قومونه لري؛ خو بېلابېل قومونه د بېلابېلو ملتونو معنی نه ښندي، تاسو باید یوه قوم ته یو ملیت ونه وایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له مطبوعاتو هیله لرم، چې د افغانستان هیڅ قوم ته ملیت ونه وایـي، کولای شي ووایي ازبک، هزاره، پښتون، تاجک؛ ځکه د ملیت کلمـه یـو ملت غوښتونکې کلمه ده او افغانستان یو ملت لري...

که دې یوې کوچنۍ بېلګې ته ځیر شو، زموږ پښتانه په خپل ځنـګ کې همدومره یا تر دې هم زیات پښتانه لري، زموږ ازبک په خپـل ځنـګ کې یو ازبکستان لري، زموږ تاجک په خپل ځنګ کې یو تاجکستان لري، ترکمن مو ترکمنستان لري، شیعه چې زموږ یو مذهبي اقلیت دی، په خپل ځنګ کې یو لوی هېواد لري، چې شیعه مذهبی دی. زموږ سنیان په خپل ځنګ کې یو لوی هېواد لري، پاکستان چې هغه سني مذهبه دی؛ نـو پـه خپل هېواد کې هیڅ داسې عنصر نه لرو، چې بهر یې لویه بېلګه نـه وي. نو که په خپله اصلي تنه کې عنصر بېل وګڼو، هغه ازاد نه وي، هغـه ځـي او په خپله هغه لویه بېلګه کې ورکېږي، هلته پاتې یې په هغـه ځـای کـې ماتې خوري او تېپې کېږي. نو ټول قومونه په یوه واحده تنه کې دي، چـې د هغې نوم افغانستان دی او په یوه واحد ملت کې دي، چـې د هغـه نـوم افغان ملت دی.

له پورتنۍ وینا د پوهاند ستار سیرت ملي توب او د ملـت جـوړونې رغنده افکار ښه ترا جوتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- ✓ سیرت یو ملي او علمي شخص دی او د افغان ملـت د جوړېـدا او غوړېدا لپاره رغنده نظریات لري.
- ✓ هغه د ملت جوړونې پر ګټو باوري او قانع دی او تل یې د واحد ملت د جوړونې د بهیر ملاتړ کړی دی.
- ✓ د هجرت او جهاد له مهاله تر دې دمه د ډلو ټپلو او قومونو قبیلـو له محدودې دایرې تل بهر پاتې شوی دی.
- ✓ په روانو سیاسي بهیرونو کې یوه مطرح څېره ده. د بن په کنفرانس کې هم یوه مطرحه او مخکښه څېره وه.

کهٔ غواړئ سوکالهٔ ټولنهٔ جوړه کړئ او کهٔ غواړئ اخلاقي نظام تهٔ کار وکړئ، لهٔ فکر جوړونې یې پیل کړئ.

***  ***  ***
***  ***  ***
***  ***  ***

(c) ketabton.com: The Digital Library







# خوازک زلمی

خوازک زلمی د نایب سالار زلمی خان زوی او په ۱۲۹۶ل. کال د لویې پکتیا د منګلو د موسی خېلو ولسوالۍ په ښندي کلي کې زیږېدلی دی. موسی خېلو ولسوالي اوسمهال په خوست ولایت پورې اړونده ده.

خوازک خان په حربي ښوونځي کې د لومړنیو او ثانوي زده کړو تر بشپړولو وروسته په ۱۳۲۲ل. کال له حربي پوهنتون څخه فارغ شو. په همدغه کال د دویم بلوک مشر په رتبه د مرکز د قواو د استحکام د ټولي کفیل وټاکل شو. تر ۱۳۲۵ل. کال پورې یې دغه دنده تر سره کړه. وروسته د نورو زده کړو لپاره هندوستان ته واستول شو او هلته یې د استحکام په برخه کې یو نیم کال زده کړې وکړې.

په ۱۳۲۶ل. کې هېواد ته تر راستنېدو وروسته د حربي ښوونځي د اداري پلاوي په ډله کې په دنده وګومارل شو. په ۱۳۲۸ل. کې د استحکام غونډ د ټولي قوماندان مقرر شو. په ۱۳۳۱ل. کې د عمومي حربي ارکان د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاست د ښوونې او روزنې مدیر وټاکل شو. په۱۳۳۸ل. کې د لومړي یونټ قوماندان او په۱۳۴۰ل. کې د کار د قواو د عمومي قوماندانۍ د حرکاتو مدیر وټاکل شو.



جنرال خوازک زلمی په ۱۳۴۲ل. کې د کابل د هوایي ډګر او د کور جوړولو فابریکې د ساختماني آمر په توګه مقرر شو. په دې دواړو پروژو کې یې هېوادوالو ته داسې خدمتونه وکړل چې تل به د هېوادوالو په یاد وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





په ۱۳۴۵ ل. کې د فوایدعامې وزارت د کار د قواو د لوی قوماندان په توګه مقرر شو.

د کار د قواو د قوماندانۍ پر مهال يې ډېر مهم خدمتونه ترسره کړي دي، لکه د بګرام د هوايي ډګر جوړولو د پروژې، د کابـل- ګردېـز سرک جوړولو د پروژې، د ګردېز- خوست سرک جوړولو د پروژې، په **۱۳۴۲**ل. کې د کندهار- هرات او هرات- تورغونډۍ د سرکونو جوړولـو د پـروژې عمومي آمريت ور تر غاړې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د دغو لويو لارو په جوړولو کې خوازک خان زلمي د مسوول شخص په توگه شپه او ورځ کار کړی، کړاوونه يې گاللي، خولې يې تويې کړي؛ ځان يې خوار زهير؛ خو خپل هېوادوال يې هوسا کړي دي.

خوازک خان زلمي په **۱۳۴۹**ل. کې يې بريدجنرالۍ ته ترفيع وکړه.

په **۱۳۵۰**ل. کې د ډاکټر عبدالظاهر په کابينه کې د فوايد عامې وزير وټاکل شو.

خوازک خان زلمي تر څه زيات د کار د قواو په بېلابېلو پوستونو کې خپل هېواد او هېوادوالو ته خدمت کړی دی. په ځانگړي ډول يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکونو جوړولو او ودانیو په جوړولو کې داسې کارونه کړي دي، چې د هېواد په عمراني تاریخ کې به د هغه نوم تل لپاره ژوندی ساتي.



حاجي انارگل وايي:

(( د ننگرهار کانال په جوړونه کې هم خوازک خان ډېر کار کړی دی، ځکه چې هغه مهال د لغمان چارباغ جنرال عظیم خان د فواید عامې وزیر او خوازک خان د کار د قواو عمومي قوماندان و. همدارنگه سید احمدخان د لغمان د مندروړ (په پکلو مشهور) د ساتنې او څارنې عمومي مدیر و، چې له تورخمه تر حیرتانو او تورغونډۍ پورې مسوولیت ورتر غاړې و. هغه ټانکر، بلدوزر، قیر او نور وسایل درلودل

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هر وخت به يې د لويې لارې څارنه او ساتنه کوله. د ننګرهار- تورخم سرک په **۱۳۳۹**ل. کې امريکايانو تر سره رود پورې قير کړ. په **۱۳۳۹**ل. کال کې د ننګرهار کانال کار پيل شو. لومړی تونل ووهل شو، چې لاره پرانيستی شي، بيا بند جوړ شو او په همدغه وخت کې ورسره په کانال ويستنې هم کار روان و.

د **۱۳۴۳**ل. کال د مرغومي په **۲۵** پرې ازمايښتي اوبه ورايله شوې. د ثمرخېلو د تونل کار په **۱۳۴۰**ل. کې پيل شو او په **۱۳۴۳**ل. کې پای ته ورسېده. په دغه تونل کې درې ځايه او درې وخته کار کېده د ثمرخېلو له خوا، په منځ کې له سرخ دېوال سره او د بټي کوټ مشوانيو له خوا. دغه تونل شاوخوا پنځه متره لوړ او پنځه- شپږ متره پلن دی يعنې **۱۶۲۰** موټر پکې په ښه ډول تګ کولای شي.

شاوخوا لس زره کسان د کانال پر کار په بېلابېلو ځايونو کې پر بېلابېلو کارونو بوخت وو. د ننګرهار کانال کار چې د **۱۳۳۹**ل. په زمري کې پيل شوی و، تر **۱۳۵۲**ل. کال پورې بشپړ شو او په همدغه کال شوروي اتحاد ته زرګونه ټنه بلاعوضه مالتې ولېږل شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ننگرهار کانال **۱۵۰۰۰** هکتاره ځمکه خړوبه کړې ده. مشهور فارمونه يې غازي آباد او د هډې هغه وو. په دې فارمونو کې پر کرنيزه ځمکه سربېره د مالټو، انارو، نارنجانو او ښونانو(زيتونو) ښه بڼونه وو.

د ښونانو فارمونه په **۱۳۴۴**ل. کې ولگول شول او په **۱۳۴۸**ل. کې د ښونانو فابريکو په توليد پيل وکړ. يوه فابريکه په ثمرخېلو او بله په هډه کې جوړه شوې وه.

په غازي آباد فارم کې روغتون، ښوونځي، سېلو او مالدارۍ موجود وو، چې سېلو به خپلو کسانو ته ډوډۍ رسوله. په فارم کې شاوخوا درې زرو کسانو کار کاوه او کله چې بشپړ شو؛ نو بيا ترې د کار قواوې لاړې او يوازې اجيران پکې پاتې وو، چې شاوخوا شپږ سوه کسان به وو.

غازي آباد فارم **۵۱۳** د شيدو غواگانې درلودې چې شيده به يې د فارم په فاميليو سربېره هډې فارم، جلال آباد ښار او د کابل د گذرگاه د لبنياتو مديريت ته لېږل کېدل.

د ننگرهار تر کانال وروسته د نغلو بند هم د کار قواو جوړ کړی دی. په دغه وخت کې د کارو د قوا قوماندان خوازک خان زلمی و او انجينران يې روسان وو))

خوازک خان په **۱۳۵۴**ل. کې د فراه د والي په توگه مقرر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





خوازک زلمی د رښتینو او مدبرانه کارونو د ترسره کولو له امله په ډېرو نښانونو او مډالونو هم نازول شوی دی لکه(دریمه درجه نښان، د ورتیا مډال، د ستوري دویمه درجه نښان، د صداقت مډال، د ستوري لومړی درجه نښان، د خپلواکۍ نښان او د وطن نښان)

جنرال خوازک خان زلمی د **۱۳۸۶**ل. د جوزا په درېیمه د پنجشنبې په ورځ په ناروې هېواد کې د شاوخوا **۹۰** کالو په عمر ومړ، جنازه یې راوړل او د کابل په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- خوازک خان زلمي له يوې لنډې دورې پرته نـور ټـول خـدمت د کار د قواو په لوړو پوستونو کې کړی دی؛ نو د هرې لـويې لارې په جوړولو او بشپړولو کې په يو ډول نه په يو ډول لاس لري.
- د خپلـې دنـدې پـر مهـال يـې د هېـواد د زيـاترو لويـو لارو پـه غځولو، ډمبرولو او پلونو جوړولو کې مستقيم يا نامسـتقيم لاس درلودلی دی.
- د هېواد د تر ټولو سـتر پـوځي هـوايي ډګـر (بګـرام) د جوړولـو مستقيمه څارنه يې کړې ده.
- د کورو جوړو په فابريکه کې يې د بې کوره هېوادوالو لپاره يـې د کورونو په برابرولو کې ډېر ستر کار کړی دی.

دين په دې ډول نه دی چې انسان ووايي چې د ژوند په چارو کې يې لاس نه وي، بلکې همدغه کس په دين کې ولاړ دی او وګوري چې کومې چارې او کړنې يې په دين برابرې دي.

***     ***     ***

(c) ketabton.com: The Digital Library







# ډاکټر عبدالوکيل

ډاکټـر عبـدالوکيل د سردار خـان زوی د ۱۳۰۲ل. کـال د وري پـه میاشت کې په کابل کې زیږېدلی دی؛ خو له آره د میـدان وردګـو د نـرخ ولسوالۍ د عمرخېلو کلي اوسېدونکی دی. لومړنۍ زده کړې یې د کابـل په استقلال غازي ښوونځي کې کړې دي. هغه مهال تر لومړي ټـولګي د مخه د ابجد په نامه ټولګی هم مروج و. عبدالوکيل خـان پنځـه کالـه پـه همدغه ښوونځي کې زده کړې وکړې او په۱۳۲۱ل. کې لـه غـازي لیسـې څخه فارغ شو. د هغه د فراغت پر مهال دویـم نړیـوال جنـګ روان و؛ د لوېدیځې نړۍ بل هېواد ته د زده کړو لپاره د هغه امکانات نه برابرېدل؛ نو د پوهنې وزارت له خوا د دوه کسانو په ملګرتیا هند ته ولېـږل شـو. هلتـه یې په لایلپور( د اوسني پاکستان فیصل آباد، ځکه هغه مهـال لا پاکسـتان هېواد د نړۍ په نقشه کې نه و) پوهنتون کې د زراعت او ښوالۍ په برخـه کې لوړې زده کړې وکړې او د لسانس سند یې واخیست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۲۵**ل. کې هېواد ته تر راستنېدو وروسته په کابل کې د دارالمعلمین د استاد په توگه وگومارل شو او دوه کاله یې دغه دنده ترسره کړه.

په **۱۳۲۷**ل=**۱۹۴۸**م. کې لندن ته لاړ او هلته یې په بنوالۍ کې د ماسترۍ او همدارنگه یې د امریکا له متحده ایالتونو څخه په کرنه کې د ډاکترۍ ډیپلومونه تر لاسه کړل.

په **۱۳۳۱**ل=**۱۹۵۲**م. کې بېرته هېواد ته راستون شو. د هلمند د کرنې د مرستیال او رئیس په توگه یې دندې ترسره کړې. بیا د هلمند ناوې عمومي رئیس وټاکل شو. دولس نیم کاله په همدې دندې بوخت پاتې شو. بیا تر**۱۳۴۳**ل. پورې د هلمند والي و. تر والیتابه وروسته یو کال وزگار پاتې شو؛ خو په همدې وخت کې د معمول په څېر په خپله کرکیله او تجربو بوخت و. بیا په **۱۳۴۴**ل. کې د مشرانو جرگې انتخابي غړی وټاکل شو او پنځه کاله یې د غه دنده ترسره کړه. په جرگه کې د کمېسیون دننه د زراعت د برخې مسوولیت هم ده ته ورتر غاړې و. تر وکالت وروسته یو څه وخت بیا وزگار پاتې شو.

د ډاکټر عبدالظاهر په کابینه کې د زراعت وزارت مشاور وټاکل شو.

وروسته د محمد موسی شفیق په کابینه کې د زراعت وزیر وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عبدالوکیل خان به تل د رسمي دندو تر څنګ د خپل مسلک په تجربو بوخت و، بزګران به یې د نوې او عصري بڼوالۍ دودولو ته هڅول. د میدان وردګو په نرخ ولسوالۍ کې یې لومړی ځل په ۱۳۳۹ل. کې په خپله ځمکه کې د تجربو لپاره بڼ جوړ کړ.

د کرنې انجینر هارون هاند د ارواښاد ډاکټر عبدالوکیل د خدمتونو په اړه په لنډو ټکو کې وایي:

(( ارواښاد ډاکټر وکیل ان د مهاجرت په دوره کې هم له ADA,COAR,VITA,AIA ټولنوسره د خپل مسلک په برخه کې د هېواد او هېوادوالو لپاره د ستاینې وړ خدمتونه کړي دي. خدای بخښلي د هېوادوالو لپاره خورا ډېرخدمتونه کړي دي. په کلیو او بانډوکې به یې له بزګرانوسره لیدل او هغوی به یې د کرنې له عصري سیستم څخه خبرول. هغوی ته به یې د کرنیزو حاصلاتو د زیاتوالي په اړه سلا مشورې ورکولې.

ارواښاد په لومړي وار له جاپان، امریکا، بېروت او منځنۍ آسیا څخه د منو، بادامو، انګورو، شفتالانو،ګېلاسو، ناکو او ځینونورو مېوو ډول ډول نیالګي راوړل او په هېوادکې یې مروج کړل. د هغه خدمت به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هېواد تاريخ او وګړي هيڅکله هم له ياده ونه باسي او تل بـه د هېـواد پـه تاريخ کې په زرينوکرښو خوندي وي))



ډاکټر عبدالوکيل به ويل چې د زراعـت پـه برخـه کـې د افغانسـتان ګانده ډېره روښانه ده، ځکه چې افغانستان د اوبو، هوا، موقعيت، ارتفـاع او مارکېټ له مخې د ښې ګاندې څښتن دی؛ خو دوه شيزونه په دې لاره کې خنډ دي: بېوزلي او بېسوادي. هغه به ويـل چـې وسـايل او ميـډيا د زراعت د نويو لارو چارو د ترويج لپاره ډېر مهم دي، په داسې حال کـې چې افغانان له دې دواړو محروم دي. يـوه نـوې تجربـه چـې تـر بزګـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېږي نږدې لس کاله وخت نيسي، حال دا چې په لسو کالو کې په نـوره نړۍ کې دغه تجربه بيا زره شوې وي.

اروانښاد عبدالوکيل خان به ويل چې که د افغانستان اوسـنۍ تـر کـر لاندې ځمکه په سمه او مناسبه توګه وکرل شي، سمه سره او کود ورکړل شي؛ نو د هېواد اړتيا پوره کولای او ان صادرېدلای هم شي؛ نـو ويـلای شو چې د سمې کرنې په صورت کې موږ د غلې واردولو ته اړتيا نه لرو.

په حقيقت کې ډاکټـر عبـدالوکيل خپـل ژونـد د هېـواد ښـېرازۍ او سمسورتيا ته وقف کـړی و. چاسـور او چـا سـپين؛ خـو اروانښـاد ډاکټـر عبدالوکيل په هېواد کې بې وينـې تويولـو شـين انقـلاب راوسـت. ده پـه هېواد کې د شنه انقلاب بوټي ولګـول او هېـواد يـې د شـنې طـلا زېرمـه وګرځاوه، هغه طلا چې هيڅکله يې بازار له کساد سره نه مخامخېږي او د تورې او ژېړې طلا له لارې لاس ته راغلې پانګه يې پښو ته لوېږي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د کرنـې د انسـتيتيوټ مشـر څېړنپـوه ډاکټر سکندر حسيني وايي:

(( اروانښاد وزير ډاکټر عبدالوکيل په ډول ډول طريقـو او وسـايلو لـه نورو هېوادونو څخه اصلاح شوي پيوندونه، زخې او بوټي راوړي او دلته يې مروج کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه یو عملي سړی و، ډېر لیکل یې نه دي کړي؛ خو ډېرې تجربې او ډېر کار یې کړی دی. د منو بېلابېل ډولونه، آلوبالو، گېلاس، زدالو او نور افغاني توليې ته د هغه سوغاتونه دي.

د مسلکي اشخاصو د غوښتنې پر بنسټ هغه خپل یادښتونه ورکړل او د کابل پوهنتون استاد "انورزي" له خوا ترتیب او چاپ شول.

د کرنې او په ځانگړي ډول د بڼوالۍ په برخه کې هیچا د هغه په اندازه کار نه دی کړی))

اروابناد به د بڼوالۍ پېچلي موضوعات په داسې لهجه او بڼه خلکو ته وړاندې کول چې نالوستي بڼوال هم په ډېره اسانۍ پرې پوهېدای شول. د خلکو په ژبه او عام فهمه لهجه یې د نوې بڼوالۍ ښېگڼې، لارې چارې او گټور اړخونه څرگندول. په دې توگه یې بزگران او بڼوال د کرنې د کارپوهانو په توگه روزل او عملي ډگر ته یې وړاندې کول.

په کومو سیمو کې چې د ډاکټر عبدالوکیل د بڼوالۍ سیستم دود شوی، هلته چا د کوکنارو کر ته هڅه نه ده کړې. ملگرو ملتونو، امریکا او نورو لوېدیځو هېوادونو د کوکنارو د کر د مخنیوي په لاره کې څومره پانگه ولگوله؟ څه پایلې یې تر لاسه کړې؟څومره په خپلو هڅو کې بریالی شول؟ ټولو ته څرگنده ده، چې دغه بودجه په تکراري، کلیشه یي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تبليغاتو، ننداريزو غورځو پرځو او د کارګرو په ډالري معاشونو او لوکسو موټرو ولګېدله؛ خو ارواښاد ډاکټر عبدالوکيل پرته له دې چې له چا بودجه تر لاسه کړي، په يوازې ځان او پټه خوله د بنوالۍ د نوي سيستم د دودولو له لارې د کوکنارو پر ضد مبارزه بريالۍ کړه.

ډاکټر صاحب په زهيرتيا او بوډاتابه کې هم کرار نه کښېناست، په نويو تجربو او برياوو پسې ستومانه و. د جهاد پر پېر هم ډاکټر عبدالوکيل د ګوند او ګوندبازۍ پر ځای د ولس اقتصادي پياوړتيا ته ځير و، ځکه يې د سياست او سياسي لوبو پر ځای د ولس خدمت ته اوږه ورکړه او زياتره به د هېواد دننه په آزادو سيمو کې له بنوالو سره په نويو تجربو بوخت و. ګڼ بزغلي يې وکرل او د هېواد په مرکزي سيمو کې يې تر ۵۰۰۰ زرو زيات بنونه جوړ کړل. خلک يې وهڅول، له خپله جيبه يې انعامونه ورکړل او ستاينليکونه يې ورواستول. چا چې به بڼ ښه روزلی و، هغوی يې په سوغاتونو ياد او ونازول. ارواښاد ډاکټر عبدالوکيل ځانګړې مؤسسه او "ان. جی. او" جوړه نه کړه، بلکې له نورو ادارو سره يې خپله پوهه، تجربه، پلان او پروګرام شريک کړ. ده دا خبره پخه او ثبوت کړه چې "خدمت هر ځای او له هرې لارې کېدای شي"

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دې سره یې په نوي سیستم د سبو کر هم دود کړ. هغو سیمو چې ټرانسپورټي اسانتیاوې لرلې، هغو زردالانو ته یې ښوال و هڅول چې تــازه مــارکېټونو تــه رســېدای شي؛ خــو لــیرې پرتــو ســیمو چــې ټرانســپورټي اسانتیاوې یې هومره نـه درلـودې هلتـه یـې د بـل ډول زردالانــو د کرلــو سپارښتنه کوله، د هغو زردالانو چې د کښتې کېدو وړتیا یې لرله.

ارواښاد د خپل خـدمت پـه مخـه کـې نـه سـیمه پېژندلـه، نـه قـوم، افغانستان یې کور او د دغه کور هره برخـه یـې د زړه کـتره وه. پـه همغـه وخت کې چې د ډاکټرانو په وینا مرګ ته یې د دوه اونیو واټن پاتې و، پـه ټلیفون یې د هېواد د اورښـت معلومـات کـول، پـه کنـدهار کـې څـومره اورېدلی؟ په کابل او مزار کې څومره اورېـدلی؟ همدلتـه یـې د آرام سـاه واخیسته(( اوس که خدای کول هېواد د وچکالۍ له منګولو ووت))

چې څوک به یې پوښتنې ته ورغلل، تر هر څه دمخـه یـې پـه هېـواد کې د هغو قوریو(بزغلیو) او بڼونو حال اخیسـت، چـې ده یـې تېـر کـال سپارښتنه کړې وه. په همدغه حالت کې یې د اکبر مؤسسې په دفـتر کـې خپل هم مسلکان راټول کړل، په ډېر لوړ مورال او زغم یې پـر اړونـدو او اړینو موضوعاتو خبرې وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر عبدالوکيل خان د ۱۳۷۹ل. د ليندۍ په **۲۳** مه په پېښـور کـې د وينې د سرطان ناروغۍ له امله د خپل سپېڅلي روح امانت د خپل څښتن حضور ته وړاندې کړ. جسد يې د ميدان وردگو ولايت د نـرخ ولسـوالۍ عمرخېلو کلي ته ولېږدول او هلته په خپله پلرنـۍ هـديره کـې خـاورو تـه وسپارل شو؛ خو:

نـــه مـــري هغـــه چـــې ژونـــدی يـــې وي يادگـــار
ډېـــر ژونـــدي مـــړه دي او ډېـــر مـــړي ژونـــدي دي
مـــړ وي هېـــر، ژونـــدي پـــه يـــاد وي د روزگـــار
هـــر افغـــان تـــه "الفـــت" دومـــره پوهـــه غـــواړي
چـــې د مـــرگ او ژونـــد تشـــخيص تـــه ده پـــه کـــار

د هلمند ناوې د رئيس، د هلمند د والي، د مشرانو جرگې د غـړي، د زراعت وزارت د مشاور او د زراعت د وزير په توگه يې درانه او د قدر وړ خدمتونه ترسره کړي دي.

د نرخ لېسې ته هغه خپله ځمکه هم ورکـړې وه او اوس دغـه لېسـه رسماً د همده نامه ته منسوبه ده.

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د هېواد د زراعــت پــه تــاريخ کــې د اروابنــاد عبــدالوکيل خــان غونډې ښه او ډېر خدمتونه بل هيڅ کس نه دي تر سره کړي.
- ✓ په ځانګړي ډول د ښوالۍ په ډګر کې د هغه خدمتونــه د هېــواد د زراعت په تاريخ کې بې ساري دي.
- ✓ ملي شخص و، له قومپالنې، ژبپالنې او ګوندپالنې بېزار و.
- ✓ داسې شخص و، چې په دولت کې له لوړو دنــدو او پــه مســلک کې له تخصص سره يې هم له ولس سره غوټه اخيستې وه؛ نو تل به د خلکو په څنګ کې و.



(c) ketabton.com: The Digital Library





# عبدالقیوم وردگ

پوهاند عبدالقیوم وردگ پر ۱۳۰۲ل. کال د میدان وردگو ولایت د سیدآباد ولسوالۍ د سپین ورسک په کلي کې زېږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په حربي ښوونځي کې تر سره کړي دي، چې هغه وخت د احضاریې په نامه یادېده. ثانوي زده کړې یې د کابل په عالي دارالمعلیمین کې تر سره کړې دي. د لسانس او ماسترۍ دورې د بشپړولو لپاره په ۱۳۲۷ل. کال د امریکې متحده ایالتونو ته لاړ او هلته یې په ۱۳۳۴ل. د "جورج ټاون پوهنتون" د فزیک په څانګه کې زده کړې بشپړې کړې.

د دویم ځل لپاره د هستوي انجینرۍ په برخه کې د امریکې متحده ایالتونو ته لاړ او د پنځلسو میاشتو په موده کې یې د الونای ایالت د اتومي پروګرام په چوکاټ کې زده کړې وکړې. همدا وخت د (د ټیټا نیوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خطي سپکټرم) په کشف بریالی شو، هغه نوي خطونه چې د لمر له ورانګو نه راځي. په دې اړه يې يو شمېر مقالې هم وليکلې. په پيل کې يو عسکري منصبدار و کله، چې د امريکې له متحده ايالتونو راستون شو، د ملي دفاع په وزارت کې د جګتورن په دنده وګمارل شو. وروسته په **۱۳۳۸**ل. کال پوهنې وزارت ته راتبديل شو. د دې وزارت په چوکاټ کې د کابل پوهنتون د ساينس په پوهنځي کې استاد شو.

په **۱۳۴۱-۱۳۴۱**ل. کلونو کې يې دوه ځله د ذروي انرژۍ په نړيوال کنفرانس کې هم ګډون وکړ او همدا وخت يې د کابل پوهنتون د علمي شورا غړيتوب هم ترلاسه کړ.

په **۱۳۵۰**ل. کال د کابل پوهنتون د ساينس د پوهنځي رئيس وټاکل شو. په **۱۳۵۲**ل. کال د زمري په لسمه نېټه د محمد داؤد خان د جمهوريت په لومړنۍ کابينه کې د کانونو او صنايعو د وزير په توګه وټاکل شو.

د همدې کال په لينديۍ کې د جمهوري رياست د لازم ګڼنې له مخې د پوهنې وزير شو.

په **۱۳۵۵**ل.کال کې يې د افغانستان د اساسي قانون د تسويد د کمېټې عضويت هم تر لاسه کړ. په **۱۳۵۶**ل. د سرحداتو د وزير په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وگومارل شو. په همدې کال يې د سردار محمد داؤد خان د "ملي غورځنگ" گوند د مرکزي کمېټې غړيتوب هم تر لاسه کړ.

د افغانستان نوميالۍ علمي او سياسي څېره ډاکټر انورالحق "احدي" د پوهاند عبدالقيوم په اړه وايي:

((کله چې ډاکټر عبدالقيوم په حکومت کې و، زه په مکتب کې وم. چې واشنگټن ته لاړم نو هلته به مو کله د يوه ملگري په کور، يا په يوه هوټل او بل ځای کې سره ليدل. هغه يو فوق العاده ملگرى او دوست انسان و. زما په عقيده هغه د شرافت يوه ټوټه وه. هغه د افغانستان د معارف په کميت کې زښت زيات تغيير راوست او په سلو کې ۴۰۰ يې ښوونځي زيات کړل. متوسطې يې لېسې او ابتدايي مکاتب يې متوسطې کړې. هغه به ويل چې ((جوړ به يې موږ کړو او چلوي به يې خدای))

هغه عالم سړی و، پر مسلک او خپلو ژبو سربېره يې انگرېزي ژبه ډېره ښه زده وه، ان تر يوه اديب هم قوي. هغه احسان منونکی او انسان پالونکي سړی و، يوه ورځ يې ماته وويل، چې زه ستا له خسر "پير صاحب" څخه ډېر ممنون او د هغه د احسان پوروړی يم، زما د راتگ په لگښت کې يې راسره مرسته کړې ده، که نه ما لگښت نه شو برابرولای. امين سړی و، پر خپله حلاله روزي يې قناعت درلود))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:


- ✓ عالم، امين، کارپوه او زيارکښ وزير و.
- ✓ په ځانګړي ډول د پوهنې وزارت کميت ته يې ستر کار کړی دی او ښوونځي يې څلور برابره زيات کړي دي.
- ✓ مؤدب، ملګری او شريف انسان و، احسان يې نه هېراوه او تل يې په حلاله شتمنۍ ګوزاره کوله.
- ✓ هېواد او هېوادوال پرې ډېر ګران وو.

دا مسلماني نهٔ دهٔ، چې د خلکو د غولولو لپارهٔ ږيرهٔ اوږدهٔ کړې، پټکی ووهې او د تسپو امېل پهٔ لاس کې واخلې، بلکې رښتينې مسلماني دا دهٔ چې د زړهٔ کعبهٔ لهٔ بوتانو پاکهٔ او د مينې، خلوص او ژمنتيا ګلان پکې وکرې.

***   ***   ***
***   ***   ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# غلام صدیق محبي

ارواښاد پوهاند ډاکټرغلام صدیق محبي په ۱۳۱۱ل. کې د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د صاحب خان کلي په یوه روښاندې کورنۍ کې نړۍ ته سترګې غړولې دي. په پلرنۍ سیمه کې تر لومړیو زده کړو وروسته د دولت د پریکړې پر بنسټ کابل ته راوستل او په۱۳۲۴ل. کې په ښوونځی کې شامل شو. په ۱۳۲۹ل. کې له دولسم ټولګي فارغ او وروسته د کابل پوهنتون په ساینس پوهنځي کې شامل شو. محبي په ۱۳۳۳ل. له نوموړي پوهنځي فارغ او په نجات لیسه کې د ښوونکي په توګه مقرر شو. تر ۱۳۳۶ل. پورې یې د پوهنې وزارت په چوکاټ کې کار وکړ.

د ۱۳۳۶ل. کال په وروي کې د هغه وخت شوروي اتحاد ته د لوړو زده کړو لپاره ولېږل شو. په بریالیتوب سره یې دغه دوره تېره کړه او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳۴۲**ل. کې یې د مسکو له دولتي پوهنتون څخه د ساده زرو په برخه کې د ماسټرۍ(Ms.D) او ډاکټرۍ(Ph.D) ډیپلومونه ترلاسه کړل.

هېواد ته تر راستنېدو وروسته د همدغه کال له سلواغې څخه د کابل پوهنتون د ساینس پوهنځي استاد مقرر شو. د **۱۳۴۵**ل. کال په لیندۍ کې د کابل پولیتخنیک پوهنتون استاد او بیا د عمومي تدریسـي مدیر په توګه مقرر شو. په **۱۳۴۷ل.** کې د دې پوهنتون د علمي مرستیال په توګـه او پـه **۱۳۵۰ل.** کې د پولتخنیک پوهنتون د منتخب رئیس په توګه وټاکل شو. په **۱۳۵۱**ل. کې د کابل پوهنتون د اداري مرستیال په توګه او د **۱۳۵۳**ل. کـال په کب کې د کابل پوهنتون د رئیس په توګه مقرر شو.

د ښې وړتیا، پوهې او کفایت په ښودلو سره د **۱۳۵۵**ل. په کب کې د شهید محمد داؤد خان په کابینه کې د لوړو زده کړو د لـومړني وزیـر پـه توګه مقرر شو، چې د **۱۳۵۷**ل. کال تر غوایي پورې یې په ښـه ډول دغـه دنده ترسره کړه.

په **۱۳۵۸**ل. کې یوځل بیا د کابل پولیتخنیک استاد شو، چې د ژونـد تر پای پورې یې دې سپېڅلې دندې ته دوام ورکړ. ارواښاد محبي د خپل علمي ژوندانه په اوږدو کې د هېواد د بچیانو په روزنه کـې لـه هـیڅ ډول هلوځلو ډډه نه ده کړې. یو تجربه کار استاد و، چـې لـه ډېـرو علمـي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري تجربو سره يې په اکاډميک بهير کې خپلې دندې په صداقت ترسره کړې.

په پيل کې د فزيک په ډيپارټمنټ کې د عمومي فزيک مضمون د بهرنيو او کورنيو استادانو له خوا تدريسېده. ډاکټر عبداالعظيم ضيايي د پوهاند په رتبه او ډاکټر غلام صديق محبي د پوهنوال په رتبه لومړني کورني استادان وو، چې په دې ډيپارټمنټ کې يې د فزيک په تدريس پيل وکړ.


پوهاند غلام صديق محبي په اتومي فزيک کې لومړنی افغان متخصص و.

مرحوم پوهاند محبي په علمي چارو کې پر خدمت سربېره د اتومي انرژۍ د ملي کمېسيون غړی، د لوړو زده کړو د قانون د تدوين د کمېسيون غړی، د اليکترومېخانيک پوهنځي د علمي شورا غړی او د فزيک ډيپارټمنټ آمر، د لوړو زده کړو د عالي شورا غړی، د کريډټ سيستم غړی او د ژباړې اداري د بورډ غړی هم پاتې شوی دی.

پوهاند غلام صديق محبي د افغانستان د لوړو او مسلکي زده کړو لومړنی وزير و، چې د جمهوريت پر مهال د شهيد محمد داؤد خان د دې فرمان په اساس مقرر شو:

(c) ketabton.com: The Digital Library





شماره : ۴۲۷۹

نیټه : ۱۳۵۵/۱۲/۲۹

ښاغلی پوهاند دکتور غلام صدیق محبی .


باملاحظه ازخدماتیکه دراد وارماموریت هاي گذشته درکشورانجام داده اید، طبق فقره یازدهم ماده هفتاد وهشتم قانون اساسی دولت جمهوري افغانستان شمارا بحیث وزیر تعلیمات عالی تعیین نمودم .

ارزومندم مطابق باروحیه نظام جمهوري بادرنظرداشت ارزش هاي قانون اساسی بمنظور خدمت گذاري صادقانه به وطن ومردم افغانستان ازهیچگونه ایثار وفداکاري دریغ ننمائید .

پوهاند محبي يو عالم، متدين، پاک نفس، رښتينی، هېوادپال، ولسپال او زيارگالونکی شخص و. په ټولو دولتي دندو کې يې چارې خورا ښې ترسره کړې، چې د راتلونکو نسلونو د وياړ او الهام لاملېداى شي. د ولس او ملت مال خوړل د هغه ضمير په هيڅ ډول نه شول منلاى، ځکه خو يې خپل ټول حسابونه پاکول او چاڼول:

(c) ketabton.com: The Digital Library





د کابل پوهنتون

د (اداري) رياست
د (محاسبې) مديريت
د (معاش) خانګه

۵۲۵۹

۱۳۵۱/۱۲/۶

بمديريت محترم اداري رياست پولي تخنيک!

چک (۵۰۰۵۹۱۰) مورخه ۶/۱۲/۱۳۵۱ حاوي مبلغ دوهزاروسي وسه افغاني درک معاش پيشکي پوهاند دکتور غلام صديق محبي معاون صاحب اداري که از معاش برج حوت شان وضع گرديده چک ان ضم نامهٔ هذا جهت مجرائي حساب بشما تقديم است.

مبلغی که بابت پيشکي موصوف درعلم وخبر ان درج گرديده بود از معاشات شاغلی محترم وضع وچک هاي انتقالي ان بشما ارسال گرديد که بامجرائي چک فوق باقيداري مذکور خلاص مي شود.

بااحترام
((سيدعيسی اوفيانی))
مديرعمومي اداري


کاپی به پوهاند دکتور غلام صديق محبي معاون صاحب اداري.

که پورتني مکتوب ته ځیر شو، نو پوهېږو چې ربنتیا هم په دې هېواد کې متدین، سپېڅلي او له الله ویرېدونکي چارواکي تېر شوي دي.

لاندینی مکتوب د هغه د پاک نفسۍ، دیانت او عالي شخصیت یـوه بلـه غوره بېلګه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عالي تعليماتو وزارت
د اداري رياست
د محاسبه لوی مدیریت
د معاشات مدیریت
د تنخواه

شماره: ۳۳۴۵
نیټه: ۲۶/۶/۵۷

بعد یزیت محترم استخدام مدیریت عمومی ماموریـن
واستادان!

به تعقیب مکتوب نمبر (۱۹۳۰) مورخه ۱۱ / ۵ / ۱۳۵۷ خویش
احتراماً مینگاریم.

شاغلی غلام صدیق محبی سابق وزیر تعلیمات عالی اصلاً قرار سنجش
که بعمل امده مبلغ (۴۴۵۳۷) افغانی باقیداری داشته اما سهواً در
مکتوب قبلی این مدیریت مبلغ (۴۵۴۱۳) افغانی وانمود گردیده –

اکنون به اساس توجه ان مدیریت پول باقیداری قرضه صدارت
شاغلی مذکور بمعرفت شاغلی محمد جمیل محبی جگتورن غند (۳۲) –
با لاحصار قرار حواله تحصیلی م ۲۵ (۱۸۶) مورخه ۲۸ ر ۶ ر ۱۳۵۷
و رسید (۲۹۴) مورخه ۲۸ ر ۶ ر ۵۷ مدیریت تحصیلی این وزارت مبلغ
(۴۴۵۳۷) افغانی باقیداری قرضه صدارت موصوف تحویل حساب (۶۰۰۱)
واردات دولت گردید. بناءً موضوع تحویل باقیداری مومی الیه به تعقیب نمبر
فوق وسیله هذا اطمینان داده شد تا لطفاً از جلب شان صرف نظر داشته و به
مرجع مربوط ان تحریر خواهند نمود که مزاحم ان نباشید
............................................ پیروز باشید

((پوهنمل انجینر محمد قاسم (جمد ...))
رئیس اداری

کاپی به محترم پوهاند محبی

اروابناد پوهاند محبي د هېواد دننه هم د خپلو ښو خدمتونو له امله ډېر مډالونه او ستاینلیکونه اخیستي دي. د کابل پولیتخنیک پوهنتون د

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلوېښتمې کليزې په وياړ د سيدجمال الدين افغان مډال او همدارنګه د صداقت مډال په ترلاسه کولو بريالى شوى دى.

پر دې سربېره اروانباد محبي په علي آباد روغتون کې د ۶۰ کوبالت په جوړولو کې هم څرګنده ونډه درلوده. په **۱۳۸۷**ل. کې د افغانستان د اتومي انرژۍ د کمېسيون د وړانديز پر بنسټ نوموړى د دغه کمېسيون د غړي او د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د رياست په حکم د اتومي زبالو د څېړنې لپاره د باصلاحيته پلاوي د رئيس په توګه مقرر شو.


پوهاند محبي د خپل علمي ژوندانه په اوږدو کې بهرنيو هېوادونو ته کاري، علمي او شخصي سفرونه درلودل، چې هلته يې د خپل هېواد استازګرنه په پوره وياړ او سرلوړۍ سره کړې ده. ځينې سفرونه يې دا وو:

په **۱۳۴۵**ل. کې د چين ولسي جمهوريت ته د فزيک په نړيوال کنفرانس کې د ګډون لپاره.

د **۱۳۵۴**ل.کال د زمري په شلمه د امريکا متحده اياالتونو ته رسمي سفر، چې د پوهنې په برخه کې د سترو برياو له امله يې د نبراسکا پوهنتون افتخاري ډاکټري هم واخيسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library






په **۱۳۵۵**ل. کې د ایران اسلامي جمهوریت ته رسمي سفر.

**د ۱۳۵۶**ل. کال د کب په دولسمه سعودي عربستان ته رسمي سفر.

**د ۱۳۸۳**ل. کال په کب کې هندوستان ته د درملنې لپاره.

ارواښاد محبي د پوهنتون په سویه د فزیک څو درسي کتابونه هم تألیف کړي او شاوخوا(**۳۰**) علمي- څېړنیز کتابونه یې کښلي دي، چې په کورنیو او بهرنیو معتبرو مجلو کې چاپ شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروانښاد محبي د مسکو په دولتي پوهنتون کې د"ميو ميزونها درعمق چهل متر معادل آب" علمي څېړنيزه رساله هم کښلې، چې د مسکو پر پوهنتون سربېره د ارزونې لپاره د جاپان هېواد د توکيو او کولمبيا پوهنتونونو ته هم لېږل شوې، يوازې دا نه چې تاييد شوې بلکې جايزه يې هم اخيستې ده.

پوهاند محبي دا آثار هم خپلې ټولنې ته د فزيک او رياضي په برخه کې په ميراث پرېښي دي:

ساده ذره څه شی ده؟ الکترون، د يوولسم ټولګي هندسه، مېخانيک فزيک، ماليکولي فزيک او ترمو ډيناميک، الکترو ستاټيک او ثابت جريان، مېخانيک، د اوبو له**۴۰** مترو سره په معادل ژوروالي کې د ميو مترونو د ثبت دستګاه، د مېخانيک او ماليکولي فزيک د پوښتنو د حل طريقه، د برق او مقناطيس د پوښتنو د حل طريقه، د موجي نور کتابګوټی، په مکعب مستطيلي شکله حجرو کې د امپولي شکل، د ډېرو انرژي لرونکو ميترونو څېړنه د کيهاني ذرو په پراخ باران کې، مبادی فزيک ستاتيک( برای دوۀ آماده گی) د غير مطلق توردو جسمونو د تشعشع قدرت، فزيک دورۀمقدماتی، اساسات فزيک نظری، **هندسۀ** تحليلی او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هېواد د لوړو زده کړو رښتيني خدمتگار پوهاند ډاکټر غلام صديق محبي د ۱۳۸۸ل. کال د چنگاښ په ۲۲مه نېټه غرمه مهال ۱۲ بجې له دې فاني نړۍ د تل لپاره سترگې پټې کړې، چې د علم او معرفت مينه وال يې ټول خواشيني کړل. د پوهاند غلام صديق محبي په مړينه د جمهور رئيس په گډون د هېواد لوړ پوړو چارواکو او ټولو تحصيلي مؤسساتو خپله ژوره خواشيني څرگنده کړه.

د پوهاند محبي په اړه د جمهور رئيس د خواشينۍ پيغام په دې ډول و:

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د جمهور رئيس حامد کرزي د خواشينۍ او ډاډگيرنې پيغام

په ژورې خواشينۍ سره خبر شوم چې د افغانستان يو لوی عالم او د کابل پوليتخنيک پوهنتون سابقه دار استاد پوهاند دوکتور غلام صديق محبي د ورپېښې ناروغۍ له امله په حق رسېدلی دی.

انا لله و انا اليه راجعون

ارواښاد پوهاند دوکتور غلام صديق محبي د هېواد له سترو علماوو او تکړه استادانو څخه و، کلونه کلونه يې د هېواد ځوان نسل وروزه، څه موده د کابل پوليتخنيک او کابل پوهنتون رئيس او د سردار محمد داؤد د جمهوريت په زمانه کې د لوړو زده کړو لومړی وزير و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوړو زده کړووزارت له تأسیس سره سم د دغه وزارت لومړنی وزیر شو او د ژوند تر وروستیو اونیو پورې یې له تدریسه لاس ونه کېښ، د عـالي تحصیلاتو د عالي شورا غړی و او خپل وظـایف یـې پـه صـداقت سرتـه رسول. د ده مړینه یوه علمي ضایعه ده.

د خپلــې خواشــینۍ او ډاډګیرنــې مراتــب د دوی کــورنۍ، دوســتانو، شاګردانو او د هېواد د لوړو زده کړو وزارت منسوبینو تـه وړانـدې کـوم. الله تعالی دې دی وبخښي او کورنۍ ته دې یې جمیـل صـبر پـه نصـیب شي.

حامد کرزی د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس

*** *** ***

د هېواد ټول منـور او روښانـدی پـوړ د پوهانـد ډاکتـر غـلام صـدیق "محبي" رښتیني خدمتونه مني، درناوی یې کوي او هغه ته د الله له دربـاره مغفرتونه او اجرونه غواړي، یوازې همدا یوه بېلګه یې ولولئ:

کل نفس ذائقة الموت!

(c) ketabton.com: The Digital Library



درگذشت دانشمند محترم عالم فاضل دوکتور استاد الحاج محبی صاحب را به تمام نزدیکان شان تسلیت عرض میدارم و برای شان از دربار ایزد متعال صبر جمیل آرزومندم.

محترم پوهاند دکتور محبی صاحب شخصیتی بود سزوار دوست داشتن و احترام کردن، مردی فاضل و خردمند و بزرگ و در عین حال شکسته نفس، اصول گرا اما انعطاف پذیر، بزرگ مردی چون او در تاریخ تحصیلات عالی افغانستان کم نظیر است. کوشش های مثمر او در طول عمر پر بارش برای انسان این سرزمین نعمتی بود قابل قدر و قابل یادآوری، مردی بود که همکار در کار و امور تعمیل و تدریس، یدی بود مطمئن و پر صلابت.

برزگمرد بود چون صخره، اما جوهری انسانیت فرادست انسانی در وجود او مزج شده بود.

یادش جاویدانه باد و روحش شاد.

ډیپلوم انجینر محمدجمعه کاظمی رئیس پوهنځی الکترومیخانیک

*** *** ***

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ له اوه کلنۍ وروسته یې ټول وخت په زده کړه او ورزده کړه کې تېر شوی دی.
- ✓ د هېواد د لوړو زده کړو لومړنی وزیر و او لکه چې په کار وه هغسې یې د دغه وزارت چارې ښې سمبال کړې.
- ✓ د زده کړو امانت یې په خورا دیانت سره افغان ولس ته رسولی دی.
- ✓ د دیانت او سپېڅلتیا غوره سېمول و.
- ✓ امین استاد، مرستیال، رئیس او وزیر و.
- ✓ د فزیک په برخه کې هېواد ته تر ټولو زیات خدمت کړی دی.
- ✓ په اتومي فزیک کې لومړنی افغان متخصص و.

مسلماني یوازې لمونځ او د تسپو تړقول نه دي، ستر ګې وغړوئ او د مسلمانۍ په معنی ځانونه پوه کړئ.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library







# عبدالرحمن پژواک

عبدالرحمن پژواک د قاضي عبدالله خان زوی د ننگرهـار د سره رود ولسوالۍ د باغوانیو کلي اوسېدونکی دی. پـه۱۲۹۸ل= ۱۳۳۴س=۱۹۱۹م. کې په غزني ښار کې (پلار يې هلته قاضي و) زېږېدلی دی.

پژواک لومړنۍ زده کړه له خپل پـلار څخـه پيـل او بيـا د سره رود د بالاباغ د "مطلع دانش" په نامه لومړني ښوونځي کـې شـامل شـو. اول او دويم ټـولگی يـې هلتـه او درېـيم ټـولگی يـې د خوگيـانیو د "کـږې" پـه ښوونځي کې ولوست، ځکه چې پلار يې هلته قاضي مقرر شوی و. کله چې يې پلار پـه کابـل کـې مقـرر شـو، نـو دی د کابـل ښـار د انـداربيو ښوونځي د څلورم ټولگي شاگرد شو. لومړنۍ دوره يې دلته بشپړه کـړه او بيا د حبيبيې عالي ښوونځي ته لاړ. تـر فراغـت وروسـته پـه خصـوصي توگه د ديني او ادبي علومو او متونو په لوستو بوخت شو. ديني علوم يې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل پلار او دري ادبیات یې له صوفي عبدالحق بېتاب څخه ولوستل. بیا د طب په پوهنځي کې شامل کړی شو. له دې مسلک سره یې مینه نــه درلوده؛ نو تر دوو کلو وروسته یې ځان ترې وویست. بیا یــې د دوو کلـو لپاره د انګلستان د( ایدن بورګ EDIN BURG) پوهنتون د نړیوالـو اړیکـو او ژورنالیزم په څانګه کې زده کړې سرته ورسولې.

تر زده کړو وروسته د کابل ادبي انجمن غړی او د تـاریخ څـانګې د انګریزي ژباړن په توګه مقرر شو. د پښـتو ټـولنې لـه تأسـیس سره سـم د هغې ټولنې مسلکي غړی شو. په دې وختونو کــې یــې خپلــې لیکنــې او ژبــاړې د "ارمــانجن"پــه تخلـص خپرولــې، وروســته بیــا د صــدارعظم محمد هاشم خان په سپارښتنه له دې تخلـص تېـر شـو او "پـژواک" یــې غوره کړ.

پژواک په **۱۳۱۸**ل=**۱۹۳۹**م. کال کې د "اصـلاح" د دولتـي ورځپـاڼې مسوول مدیر شو. څو میاشتې وروسته د باختر اژانـس د لـوی مـدیریت چارې هم وروسپارل شوې. په **۱۳۲۰**ل= **۱۹۳۹**م. کال کې د پښـتو ټـولنې مشر مقرر شو. تر دوو کلونو او څو میاشـتو وروسـته بیـا د مطبوعـاتو د مستقل ریاست په نورو پستونو کې مقرر او دوه نیم کاله یې هلته خـدمت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۲۵**ل= **۱۹۴۸**م. کـال پـه لنـدن کـې د افغـاني سـفارت د دویـم سکرتر او مطبوعاتي آتشه په توګه مقرر شو. څه مـوده وروسـته د کـار او کارګر د بین المللي مؤسسې کارمند شو او بیا کابل ته راغی.

په **۱۳۲۹**ل= **۱۹۵۰**م. کال په لندن کـې د افغـاني سـفارت فرهنګـي آتشه مقرر شو. په **۱۳۳۲**ل=**۱۹۵۳**م. کال کـې بېرتـه هېـواد تـه راغـی او د بهرنیو چارو وزارت د دریېمې سـیاسي څـانګې لـوی مـدیر او د ملګـرو ملتونو د څانګې د آمر په توګه وګومارل شو.

په **۱۳۳۴**ل=**۱۹۵۵**م. کال کې د سیاسي چارو لوی مدیر او په **۱۳۳۷**ل =**۱۹۵۸**م. کال کې د ملګرو ملتونو په مؤسسه کې د افغانستان لوی سـفیر او دایمي استازی مقرر شو. خوارلس کاله یې دې وظیفې ته دوام ورکـړ. په دې دوران کې یې په بانـدونګ او بلګـراد کـې د نـاپېیلو هېوادونـو پـه کنفرانسونو کې د افغاني پلاوې مشرتوب پر غاړه درلود.

په **۱۳۴۶**ل= **۱۹۶۷**م. کال کې د ملګرو ملتـو د عمـومي اسـامبلې د امنیت شـورا د یوویشـتمې غونـډې رئیس هـم وټاکـل شـو. د عمـومي اسامبلې د هغې غونډې ریئس هم ټاکل شـوی و، چـې د نامیبیـا پـه اړه جوړه شوې وه. نوموړي د بشر د حقوقو د کمېسیون او د ملګرو ملتونو د ځینو نورو کمېسیونونو ریاستونه هم کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پژواک په ملگرو ملتونو کې هم خپل هېواد ته ځينې وياړونـه ورپـه برخه کړي دي. د ساري په ډول کله چې ملگري ملتونـه د شـلمې پيـړۍ په شپېړمه لسيزه کـې لـه مـالي او سـياسي کـړکېچ سره مخـامخ شـول، د اروابناد پژواک طرحې نوموړی سازمان له دغه کړکېچه خلاص کړ، چـې تر اوسه دغه طرحه د پژواک د فورمول په نامه يادېږي.

په**۱۳۵۱**ل= **۱۹۷۲**م. کال په بن، په**۱۳۵۵**ل=**۱۹۷۶**م. کال په ډهـلي او بيا په**۱۳۵۵**ل=**۱۹۷۶**م. کال په لندن کې د افغانستان د لوی سفير پـه توگـه مقرر شوی دی.

په**۱۳۵۷**ل= **۱۹۷۸**م. کال کې پژواک په لندن کې و، چې په کابل کې رژيم بدل شو. هغه له دې نوي رژيـم سره د عقيـدې او نظريـې لـه مخـه سخت مخالف و؛ نو د سفارت له دندې يـې اسـتعفا ورکـړه او کابـل تـه راغی. د رژيم له خوا په خپل کور کې نظر بند و، مگر له خپلو څـو کسـو همنظرو کسانو سره يې د بشر د حقوقو يو پټ سازمان جوړ کړ.

په**۱۳۶۱**ل= **۱۹۸۲**م. کال کې د علاج لپاره هنـد تـه لاړ او لـه ملگـرو ملتونو څخه يې سياسي پناه وغوښته. بيا پېښور ته لاړ او څو مياشتې يـې هلته تېرې کړې؛ خـو د غـلام ضـمير ښتنانو هلتـه د خپلـواک ضـمير ښتنان نه شول زغملای؛ نو اروابناد پژواک ته يې په څـو سـاعتو کـې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتلو امر وکړ. هغه مهال يې د خپلې خاورې او وياړونو په اړه داسې سوې کړيکې وکړې:

بيـا بـه نـه شـم مهـاجر پـه دې وطـن کـې
کـه پخپلـه دوی محتـاج د انصـار نـه شي
پـه رحـمان او پـه خوشـحال مـې سـلام وايـه
بيـا گـذر بـه زمـا د دوی پـه مـزار نـه شي
د مومنـد او د ختـک د غـر پـژواک يـم
خـو فغـان مـې جـگ د دوی لـه کوهسـار نـه شي

له پېښوره واشنگټن ته لاړ؛ خو څه موده وروسته بېرته پېښور ته راغی او د ژوند تر پای پورې په حيات آباد کې مېشت و.

پژواک عالم، اديب، خوږ ژبی شاعر، تکړه نثرليکونکی، ادبي ژباړن، لايق ژورناليست او ماهر ډيپلومات و. په پښتو او فارسي يې نظم او نثر ليکه، په انگريزي يې سمه او روانه ليکنه او وينا کوله او په عربي ژبه پوهېده. دا آثار يې تر اوسه چاپ شوي دي:

تعاملات حقوقيه و جزائيهٔ ملی، کلمه داره روپی، افسانه های مردم، گلهای انديشه، گزيدهٔ اشعار عبدالرحمن پژواک، حديث خون، ميهن من، باغبان، پيشوا، آريانا، لرغونی افغانستان، پښتونستان، د پښتونستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ، د پښتونستان مسأله او... وروستنۍ پنځه رسالې پـه انگريـزي ژبـه ليکل شوې او په لندن کې چاپ شوې دي.

پژواک پـه**۱۳۷۴**ل. د جـوزا پـه **۱۸**مـه= د**۱۴۱۶**س. د محـرم پـه **۱۰**، د **۱۹۹۵**م. کال د جون په **۸** مه د پېښور په حيات آباد کې له دې فاني نـړۍ سترگې پټې کړې او په سبا يې د باغوانيو په هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

دا هم د پژواک د يوه شعر مطلع او د پای دوه بيتونه:

هـم هغسـې چـې خنـدا کـې هـنر نشـته
پــه ژړا کـــې هـــم لــه سره اثــر نشـــته
دا خبر به څـوک زمـا نـه يـار تـه وړسـي
چې بېلتون کې مـې لـه ځانـه خـبر نشـته
زه پژواک يم په پېچومـو کـې لـوی شـوی
دا چې چوپ يـم دلتـه غـر او کمـر نشـته

کهٔ زړ ر ګکعتهٔ لمونځونهٔ دې وکړل د ځان فکر در سره دی، کهٔ دې يو بېوزلهٔ تهٔ يو جام يخې اوبهٔ ورکړې د بل فکر درسره دی، ځان غوښتل او بل غوښتل جلا فلسفې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




## ځانګړې کارنامې:

- ✓ پژواک د افغانستان په بهرني سیاست کې یوه بې ساري ځلانده او نومیالۍ څېره وه، د افغانانو له منځه په لومړي ځل ده په ملګرو ملتونو کې لوړه څوکۍ تر لاسه کړې ده.
- ✓ څوارلس کاله یې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان ښه استازولي کړې ده.
- ✓ یوازینی افغان دی چې د ملګرو ملتونو سرمنشي پاتې شوی دی.
- ✓ د خپل برخلیک ټاکنې یا (خود ارادیت) حق هم د پژواک په هڅو د ملګرو ملتونو په منشور کې ثبت شو، چې د ټول بشریت لپاره یو ستر نړیوال حقوقي خدمت ګڼل کېږي.
- ✓ د شلمې زېږدې پېړۍ په شپږمه لسیزه کې د هغه طرحې له سیاسي او مالي کړکېچه ملګري ملتونه وژغورل، چې دغه طرحه تر اوسه د پژواک د فورمول په نامه یادېږي.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# عبدالهادي داوي

عبدالهادي داوی "پرېشـان" د عبدالاحـد طبیـب کنـدهاري زوی، د **۱۳۱۳** س. کال د جمادی الاولی په څوارلسمه (**۱۲۷۲**ل= **۱۸۹۵**م) د کابل د باغ علیمردان په کوڅه کې زېږدلی دی. پلار یې له ممتازو طبیبانو څخه و، چې د امیر عبدالرحمن خان په امر کابل ته راغلی او د دربار په طبیبانو کې شامل شو.

داوي د زده کړې دوره له **۱۲۷۹-۱۲۹۰**ل. پورې په حبیبیـه ښـوونځي (اوسنی لیسه) کې سرته ورسوله. د ښـوونځي لـه دوو ښـوونکو مولـوي عبدالرب او مولـوي محمـدسرور واصـف څخـه یـې د سـیاسي علومـو خصوصي زده کړې وکړې. ملک الشعراء قاري عبدالله او عبدالغفور ندیم د هغه ادبي ذوق وتښناوه. مولوي محمد ظفر او مولـوي محمـد حسـین مهاجرو هندي ښوونکو د هغه سـیاسي او اجتماعـي ذوق وپالـه او اردو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبه يې هم له دوی څخه زده کړه. په عربي او انګليسي ژبو هم د ژباړې تر بريده پوهېده او د پښتو او دري ژبې ښه شاعر و ليکوال و.

داوی يا پرېشان سره له دې چې منور شخصيت، شاعر او ليکوال و، په خبرو او ويناو کې د خپل استاد محمود طرزي غونـدې ورو، سـنجيده او معقول سړی و. په شور او ولولو يې خبرې نه کولې؛ خو په سړه سـينه او معقوله طريقه يې اورېدونکي تر ژور اغېز لاندې راوستلای شول.

عبـدالهادي داوی پـه ۱۲۹۰ل. کـې د محمـود طـرزي پـه بلنـه د "سراج الاخبار افغانيه" په اداره کې د محرر په توګه مقرر شـو. هلتـه د ده ذوق لا زيات راوځلېده، له عربي او ترکي پوهانو سره اشنا شو، ترکي ژبه يې زده کړه. د ترکي، عربي او اردو مطبوعاتو پـه مطـالعې او ژبـاړې يـې لاس پورې کړ. تر څنګ يې وطني او ملي شعرونه ويـل او لـه مشـــروطه غوښتونکو سره هم ملګری شو.

په ۱۲۹۶ل. کال کې کله چې پر امير حبيب الله په شـور بـازار کـې د تمانچې ډز وشو، د دې پېښې په تورنانو کې داوی هـم اووه مياشـتې پـه ارګ کې بندي شو. دی لا په زندان کې و، چې امير حبيب الله پـه لغـمان کې ووژل شو. څه وخت وروسته داوی ازاد او د "امان افغان" جريـدې د سر محرر په توګه مقرر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۰۰**ل. کال کې د خارجه چارو په وزارت کې د هند و اروپا د څانګې مدیر مقرر شو. دا وخت د افغانانو هغه پرلپسې مبارزه چې د خپلواکۍ ژغورلو لپاره یې کړې وه، د بریالیتوب سرحد ته رسېدلې وه، انګریزان اړ شوي وو، چې د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژني. د افغان حکومت یو پلاوی د محمود طرزي(د بهرنیو چارو وزیر) په مشرۍ د برتانوي هند منصورۍ ته د هغه حکومت له استازو سره د خبرو اترو، د خپلواکۍ د تصدیق اخیستلو او تړون لپاره لاړ، چې عبدالهادي داوی د دې پلاوي یو غړی و.

عبدالهادي داوی په **۱۳۰۱**ل. کې د بهرنیو چارو وزارت دویم مستشار مقرر شو. په **۱۳۰۲**ل. کې د بخارا د خپلواکۍ د تحقیقیه پلاوي د مشر او فوق العاده سفیر په توګه بخارا ته واستول شو.

په **۱۳۰۲**ل. کال کې داوی د خپلواک افغانستان د لومړني مختار وزیر په توګه په لندن کې مقرر شو.

په **۱۳۰۵**ل. کال کې یې له دغې وظیفې نه استعفا ورکړه او د تجارت وزیر شو. د ده د تجارت لا درې کاله نه وو پوره چې په هېواد کې اړو دوړ رامنځ ته شو. داوی اوولس ورځې بندي شو او تر ازادېدو وروسته هندوستان ته لاړ. لومړی په ممبیي(هغه مهال بمبیي بلل کېده) کې و، بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کراچۍ ته لاړ او هلته يې له نورو افغاني ملګرو سره د افغانستان د ملي ګټو لپاره په سياسي فعاليت او تبليغ لاس پورې کړ. د همدې مقصد لپاره په لاهور کې په دري ژبه د "افغانستان" په نامه مجله خپرېدله. نورې ډېرې مقالې يې په همدې موخه د هندوستان، انګلستان، ايران او نورو هېوادونو مطبوعاتو ته لېږلې.

کله چې محمد نادر پاچا شو، داوی يې وغوښت او په جرمني کې يې د افغانستان سفير وټاکه، درې کاله هلته وو. په **۱۳۱۱**ل. کال کې د کابل د ادبي انجمن افتخاري غړی شو. کله چې محمد نادر پاچا د عبدالخالق په وسيله ووژل شو، د هغه په تور داوی بندي شو. ديارلس کاله يې په زندان کې له روحي او جسمي کړاوونو سره تېر کړل. د **۱۳۲۵**ل. کال د لیندۍ په پنځه ويشتمه بېرته ازاد شو. په **۱۳۲۷**ل.کال د محمد ظاهر پاچا د سر منشي په توګه مقرر شو.

په **۱۳۲۸**ل. کال په ملي شورا کې د ده سبز د سيمې وکيل او بيا د ملي شورا د وکيلانو له خوا د رئيس په توګه وټاکل شو.

وايي چې د **۱۳۴۳**ل= **۱۹۶۴**م. کال په اوړي کې د اساسي قانون د ارزونې او تصويب لپاره لويه جرګه راوغوښتل شوه، په جرګه کې د رسمي ژبې په اړه سخت بحثونه وشول. يو شمېر کسانو ويل چې د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژبې رسميت دې لکه د پخوا په څېر وساتل شي؛ خو په مقابل کې ځينو نورو استدلال کاوه چې په افغانستان کې بېلابېلې ژبې شته؛ خو دوه ژبې ډېرې مهمې او عامې دي، چې پښتو او دري دي؛ نو بايد دواړه د هېواد رسمي ژبې وي. په پای کې تر ډېرو بحثونو وروسته د ښاغلي داوي په وړانديز ماده داسې تعديل شوه:

د افغانستان د ژبو له ډلې پښتو او دري رسمي ژبې ګڼل کېږي.

په **۱۳۳۲**ل. کال په مصر کې د افغانستان د لوی سفير او په **۱۳۳۴**ل. په اندونيزيا کې د افغانستان د مختار وزير په توګه مقرر شو. څلور کاله يې دا دنده سرته ورسوله. بيا څه موده په کور کې په لوستلو او ليکلو بوخت شو. په **۱۳۴۴**ل. کال د کابل د خلکو له خوا په مشرانو جرګه کې د سناتور او د سناتورانو له خوا د مشرانو د جرګې د رئيس په توګه وټاکل شو. تر دې وروسته پر کور کېناست.

د کورناستۍ پر مهال هم په زهير ځان هغه پرلپسې مطالعه کوله او کله کله به يې ليکنې هم کولې.

داوي په مصر کې هم له سفارت څخه په عربي ژبه د" افغانستان" په نامه مجله خپروله. هغه د پښتو او دري ژبو تکړه او خوږژبی ليکوال او شاعر و. دا يې هم د شعر يوه بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چارگل

ناوې! څه ږدې په اوربل باندې قطارګل
انسان كله سي كېداى په ډېر سينګار ګل
خاموشي او اطاعت د خپل مېړه كړه
تربيت د اولاد ښه دى تر خروار ګل
سررښته د كور هر ګوره لوى هنر دى
اكتفا كړه ښايستې په دغه چارګل

له داوي څخه دا آثار راپاتې دي: زما رسول پاک، تجارت ما با س. س.ر، غياصه، لالى ريخته، ګلخانه يا مجموعۀ پرېشان، نغمات، رجال وطن، آثار اردوى اقبال دو جلد، كليات داوى، عبرتنامه، سفرنامه منصورى، حافظ شيرازى حيات در مصر، در اندونيزيا، سفرالاسفار، د پښتو تاريخ او آينده، پښتو او نورې ژبې، پښتو اشعار، سوانح زنده ګى، مقالات او خطبات.

داوى د( **۱۳۶۱**ل. د اسد په **۲۷**مه =**۱۴۰۲** س=**۱۹۸۲**م) په كابل كې ومړ او په سبا يې د شهداى صالحين په هديره كې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ اروابناد داوی د مشروطه خواهانو له مخکښانو څخه و، چې پـه دې لاره کې يې د زندانو په ګڼون ډېر کړاوونه هم ګاللي دي.
- ✓ د هېواد د ډيپلوماتيک تاريخ له لومړنيو او مهمو څېرو څخه دی.
- ✓ د ښې سياستوالۍ او ډيپلوماتۍ تر څنګ ښه شاعر و ليکوال هم و. پر بهر سربېره په هېواد کې يې هم د ملت ښه استازولي کـړې ده.

که تاسې د عقيدې له مخې د انسانيت رښتيني خدمت ته ملا وتړئ او د حق غږ پورته کړئ، نو ستر خالق به مو د مکې د څو کمزورو په څېر د اسونو په پښو کې د قيصر او کسرا ماڼۍ دل کړي او که له عقيدې سره تړاو نه لرئ او دا کار مو وکړ، نو د مهاتما ګاندي په څېر به مو ميليونو نه انسانان پر اوږو ګرځولو ته تيار شي.

*** *** ***
*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# شېرخان ناشر

شېر محمد خان مشهور په شېرخان یا ناشر افغان د محمد گل خان زوی د عطاگل خان لمسی پر **۱۲۵۶**ل. کال د غزني په قره باغ ولسوالۍ کې زېږدلی دی.

ناشر تر پنځلس کلنۍ پورې د خپل پلار تر روزنې لاندې د غزني په قره باغ کې ژوند کاوه. د پلار له خوا په شپاړس کلنۍ کې د سوداگرۍ لپاره هند ته ولېږل شو. د سوداگرۍ په چارو کې یې پوره تجربه او معلومات تر لاسه کړل. په پښتونخوا، مزار او میمنې کې یې په خپله پانگه سوداگري کوله. په میمنه کې یې استوگنه غوره کړه او له روسیې سره یې سوداگریز اړیکي ټینگ کړل. د خپل هېواد د خدمت لپاره یې ملا وتړله، د سوداگرۍ د مخصوص علم او طریقې په لارښودنو د ملت اقتصادي وضعیت ته ځیر شو او افغانستان یې صنعتي هېوادونو ته معرفي کړ. وگړي یې د صنعت او هنر لور ته وهڅول. د افغانستا ن یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډول نخي ټوکر يې د صنعتي تبادلې په توګه د مسکو په يوه لويه فابريکه کې تحويل او د افغانستان د "ټولواک" په نامه يې د منسوجاتو د معرفي کولو په پاڼو کې درج کړ.

ناشر په**۱۳۲۷**ل=۱۹۱۹م. کال کې په ساوي مرازوف، زخر مرازوف او ګوسوف کارخانو او کمپنيو کې خپله شخصي پانګه ولګوله.

ناشر د سترګو د درملنې په موخه مسکو ته لاړ او تر درملنې وروسته يې په روسي ترکستان کې استوګنه غوره کړه. څه موده وروسته هېواد ته راستون شو؛ خو تر څه وخت وروسته بېرته وطن پرېښودلو ته اړ شو او د بلوچستان کوټې ته لاړ. نوموړی د محمد نادر پاچا په بلنه له کوټې څخه راوغوښتل او په اداري چارو کې د ونډې اخيستو بلنه ورکړې شوه.

د ارګون په حکومت مقرر شو، هلته يې د اته زره**۸۰۰۰** ميله وسلو په راغونډولو سره امنيت راوست. وروسته له هغه چې د ارګون حکومتي نظام يې ټينګ او د هغه ځای اصلاحات يې بشپړ کړل، د محمد نادر شاه له خوا د ميمنې په اعلی حکومت باندې مقرر شو.

ناشر د هېواد د آبادۍ او افغاني فرهنګ د پراختيا لپاره نه هېرېدونکې هلې ځلې وکړې. د معارف د ودې تر څنګ يې لارې او سرکونه جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل، سيمې يې يوه له بلې سره په ټليفوني مزيو ونښلولې او همدا راز يې له مرکز سره د ليرې پرتو سيمو ټلېفوني اړيکي ټينګ کړل. د سوداګريزو او زراعتي اصلاحاتو په لړ کې يې نوي عمومي باغونه ودان کړل. هغه هڅه کوله چې افغان سوداګر له نړيوال سوداګريز سيستم سره بلد کړي.

د کندوز، فرخار، بغلان، خواجه غار، اشکمش او امام صاحب ښارونه او ښارګوټي يې جوړ کړل.

ناشر افغان د هغو اصلاحاتو او ګټورو چارو په نمانځنه کې، چې په ميمنه کې يې سرته رسولي وو، د محمد نادر شاه له خوا د قطغن او بدخشان په نايب الحکومګۍ وټاکل شو. په دغې دورې کې يې لانديني کارونه د يادونې وړ دي.

۱ـ د مختلفو قبيلو او کورنيو د ځانځاني او فکري تشتت ليرې کول او د افکارو د يووالي لپاره زيار ايستل.

۲ـ د ربنتينو روحانينو او ښو عالمانو ستاينه او د هغو درناوی کول.

۳ـ په رسمي او مهمو چارو کې د اعلان او نشر رواج پيدا کول او د قطغن او بدخشان ټول ولس د حکومت په خيرغوښتونکي مقصد پوهول. په عمراني، زراعتي او رفاهي چارو کې د وګړو هڅول او بوختول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴ـ** د مفسدو او شریرو خلکو لکه غلو او شوکمارو ورکول او د محیطي امنیت د ساتنې وسیلې پیدا کول.

**۵ـ** د بډو اخیستو له ناوړه عمله خلک منع کول.

**۶ـ** د دولت واردات له څلورو میلیونو څخه پنځوس میلیونو افغانیو ته پورته کول.

**۷ـ** د شاړو او خرابو ځمکو ودانول، د قطغن د سرکاري ځمکو احصایه او تفتیش او د ملي استعدادونو روزنه، چې د اقتصاد او تمویل اصلي عامل دی.

**۸ـ** د پنبې کرلو ترویج او په دې ډول د محیط تجارتي بنیاد ته پیاوړتیا وربخښل.

**۹ـ** د چاپېریال له مناسبوالي سره سم د کارخانو او صنعتي مؤسساتو د جوړولو او درولو لپاره صلاحیت لرونکو مقاماتو ته وړاندیزونه او عملي گامونه پورته کول.

**۱۰ ـ** د خان آباد په ښارگوټي کې مدني او عمراني اصلاحات.

**۱۱ـ** د قطغن او بدخشان په سیمو کې د حکومتي مامورینو د استوگنې او هوساینې لپاره حکومتي ودانۍ جوړول.

**۱۲ـ** د تشکیلاتو پراخول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۳ـ** د بدخشان د طلاو له حاصلاتو، چې د سیند له شګو څخه راوځي د حکومت په مالي عنصر کې ګټه اخیستل. د طلاو د رایستلو لپاره د یوه مدیریت تشکیل او د زرایستنې مؤسسې په ملي مروجو اصولو په کار بوختول.

**۱۴ـ** په قطغن او بدخشان کې د تګ راتګ لپاره شاوخوا (۱۰۰۰) میله سرکونه جوړول.

**۱۵ـ** د قطغن او بدخشان ولایت په ټولو علاقه داریو کې د ټلیفون مزې غځول، د خان آباد په مرکز کې د سیمدار تلګراف سټېشن جوړول او له مرکز سره مخابراتي اړیکې ټینګول.

**۱۶ـ** په قطغن کې د باغونو لپاره د بزغلو حکومتي زېرمې جوړول او همدغسې د بې مېوو او مېوه دارو نیالګیو په ځانګړي ډول د بادامو زیاتول.

**۱۷ـ** په ځینو ځایو کې د اوبو د ویالو جوړول او د ضروري ځایونو د ځمکو خړوبولو پروګرام عملي کول.

**۱۸ـ** د بې ځایه قیوداتو لغوه کول او له خلکو سره ځان نژدې کول.

دولت او ولس د ده خدمتونو ته په قدر کتل له همدې امله اوس په کندوز کې یوه لېسه د ده په نامه ده. د خان آباد ولسوالي هم ده ته منسوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده. د قـزل قلعـه بنـدر د ده د ښـو خـدمتونو لـه املـه د ده پـه نامـه "شېرخان بندر" نومول شوی دی.

ناشر پر ټولنیزو خدمتونو سربېره په علمي- فرهنګي برخه کې هـم د یـادونې او سـتاینې وړ کارونـه کـړي دي، چـې د هغـه مهـال ظروفـو او امکاناتو ته په کتنې د ډېرې زیاتې ستاینې وړ دي. په دې برخه کې افغاني ټولنې ته د هغه لورېینې دا دي:

حیات فخر کاینات درې ټوکه، رشحات نبویه، مدنیت اسلام، عصـر سعادت، اصحاب کرام (دوه ټوکه) مختصـر تاریخ اسلام، نشـر اسـلام، عقیدۀ اسلامیه، تاریخ اسلام (دوه ټوکه) مختصر تاریخ عمومی، مختصـر تاریخ روسیه، تاریخ ترکستان، تربیۀ زنبـور عسـل، ژاپونیـان، کوریایـان، چینایـان، فرانسـویان، المانیـان، انګلسـتانیان، ایتالیـان، خیـوا او بخـارا، یهودیان، هزار ویک حدیث، اذکار الصلاة، ضروریات دینیه، مراسـلات، سال تعین، تـاریخ اسـلام مفصـل(جزء اول) عصـــر سـعادت، خلفـای راشدین (جزء دویم) خلفـای (امویـه جزءسـوم) خلفـای عباسـیه، حفـظ الصحۀ متاهلین، حقیقت اسـلام، هدایـة المسـلمین، افغانسـتان، عربهـا، اسپانیان، امریکایان شمالی، ترکان عثمانی، تاتاریان، لهسـتان، ایرانیـان، زنګیان، فنیقیان، بلغاریان، یونانیـان، مصـــریان، مجارسـتان، سویسـیان،

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسـقاندونیاویان، موراویـان، حبشـیان، هوالـدنیان، ساسـیان، رومانیـان، ساموليدان، امريکايان جنوبی، سيکان و جوگيان، هندوستان، خووانيان، صربيان، قره طاغيان، مالديان، روسـيان، هنـديان امريکـايي اسـتريليان، قرغزان، باشقردان، ارمنيان، گرجيان.

د همدغو آثارو د نشر او خپرولو له امله په ناشر مشهور شوی و.

ارواښاد شېرمحمد خان تر قطغن وروسته بيا د ناروغۍ له امله کابل ته راغی او د علي آباد په شفاخانه کې په **۱۳۱۸**ل. کال د وري په **۲۸**مه نېټه وفات او د غزني په قره باغ کې خاورو ته وسپارل شو.

***   ***   ***

***   ***   ***

چوپتيا او خاموشي د ګل د هغې خوشبويۍ نوم دی، چې په پټه خوله يې د هر کس د اروا ميوند فتحه کړې وي، خو ډېر کسان د خپلې ناپوهۍ له وامله چوپتيا ته پناه وړي.

***   ***   ***

***   ***   ***

***   ***   ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د ملت او هېواد د اقتصادي وضعې د ښه والي لپاره ښه خدمتونه ترسره کول.
- ✓ ولس په عملي ډول سوله ییز او قانونمند ژوندانه ته هڅول.
- ✓ په سیمه ییزه کچه د څو ښارونو او ښارګوټو لکه کندوز، فرخار، بغلان، خواجه غار، اشکمش او امام صاحب د بنسټ ډېره ایښودل.
- ✓ سرکونه غځول، ښارې ځمکې آبادول او خرڅول.
- ✓ د هغه مهال په افغانستان کې تر ټولو زیات کتابونه چاپ او خپرول.

کهٔ ټول عمر د روح پېژندنې پهٔ حقیقت پسې وګرځې، ځولۍ بهٔ دې هماغسې تشهٔ وي، بې لهٔ دې چې پهٔ انساني بدن کې د ستر خالق د ځواک او لوړېنې پلوشهٔ ورتهٔ ووایې او بس.

***   ***   ***
***   ***   ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# فیض محمد خان

فیض محمد خان د نواب خان زوی د لوگر ولایت په کلنگار ولسوالۍ کې زېږېدلی دی. فیض محمد خان په خوست کې زیاتره په فرقه مشر او نایب الحکومه مشهور و. تر فیض محمد خان د مخه غلام رسول پرماچ په پکتیا کې تنظیمیه رئیس و.

فیض محمد خان په **۱۳۳۴**ل کې د پکتیا نایب الحکومه مقرر شو. تر هغه وروسته پکتیا په حکومتي تشکیلاتو کې د ولایت په نامه ونومول شوه. نایب الحکومه به اوړی په گردېز او ژمی په خوست کې تېراوه.

مدیر شریف الله "مرهون" چې د فیض محمد خان په دوره کې په خوست کې مامور و، د هغه د کړنو او کارنامو په اړه وایي: (( هغه وخت چې فیض محمد خان د نایب الحکومه په نامه پکتیا ته راغی، خوست لویه ولسوالي وه. فیض محمد خان به شپږ میاشتې په خوست او شپږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشتې په ګردېز کې تېرولې. هغه ډېر تعلیمیافته سړی نه و؛ خو ډېر کارپوه او ځیرک سړی و. په قومي- قبیلوي مسایلو ښه پوهېده او د خوست له قبیلوي مشرانو سره یې ښې اړیکې درلودې.

د سرکونو د غاړو او د بازار د منځ زیاتره ونې د هغه له دوره راپاتې دي. د علیشېرو باغ ته یې ښکلي رنګه کبان راوړي وو، موږ به کله کله د تماشې لپاره ورتللو. هغه په پکتیا کې ډېر زیات عمراني کارونه وکړل، داسې کارونه چې تر هغه راوروسته او دمخه بل چا نه دي کړي. علیشیرو باغ، صحرا باغ، پروژې باغ، بلاوټ باغ، غړومبي باغ، مېلمه کوټ باغ او د تېرې باغ د فیض محمد خان په دوره کې جوړ شوي دي.



د تېرې باغ چې زینتي ونې لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خوست ډېر سیمو ته سرکونه وغځول، د میدان هوایي، متون، منګلو، ځاځي میدان، متاخېلو، مقتدا او ګورګورۍ تهانې سرکونه د هغه په دوره کې جوړ شوي دي. میدان هوايي د هغه په وخت کې جوړ شوی دی او دا سرک چې میدان ته تېرېده؛ نو د شولو په پټيو کې تېرېده. خلکو د سرک مخالفت کاوه؛ خو هغه خلکو ته وویل: سرک ستاسو په ګټه دی، ځمکې به مو قیمت پیدا کړي، بازار به جوړ شي او په دکانونو کې به سوداګري کوئ؛ نو په ډېر هنر یې خلک قانع کړل او سرک تېر شو.

تر ټولو مهم د سټو کنډو سرک دی چې د هغه په دوره کې جوړ شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د خوست مېخانيکي ښوونځی د هغه په دوره کې منظور او جوړ شو. چې تعمير يې جوړېده نو هغه به پخپله په سوزنده لمر کې کار ته ولاړ و او پخپله به يې د کار څارنه کوله. د هوايي ميدان خوا ته د هواپېژندنې اداري ودانۍ د هغه په وخت کې جوړه شوه.

د خوست اوسنی ښار نه و، پخوانی بازار يو څو دکانونه وو، چې په "ملا کلا غونډۍ" کې وو. هغه ډېر ولسي خويونه درلودل، له عالمانو او



ستېو کنډو چې د ګردېز- خوست ترمنځ پروت دی، خورا سخت کنډو دی، چې د ډېرو واورو له امله د ژمي کې په موسم کې ډېرې ترافيکي ستونزې راولاړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشرانو سره يې ځانګړې مينه درلوده. هغه مهال د ولس ذهنونه دومره روښانه نه وو، خلکو به د ښوونځيو ډېر مخالفت کاوه، ماليه يې نه ورکوله، سرکونو يې نه پرېښودل، ويل يې چې بيا زموږ ځنګلونه سرکاري کېږي. هغه به زياتره ولسي شخړې د جرګو مرکو له لارې حلولې. د خوست پوځي او ملکي روغتونونه چې اوس پکې بې سرحده ډاکټران کار کوي، د هغه په دوره کې جوړ شوي دي.

تر نايب الحکومه وروسته محمدحسين خان( د ببرک کارمل پلار) راغی، هم له ونو بوټو سره ډېره مينه درلوده. هغه په تخته بېګ کې نورې زياتې ونې لکې کړې. ده هم په خوست کې ښه کار پيل کړی و، خو ډېر پاتې نه شو.

آريانا افغان الوتنې هم خوست ته د فيض محمد خان په دوره کې پيل شوې. پخواني ميدان ته د **۲۱/۱۰/۱۳۴۲** په لومړی ځل د ورځې په لس نيمو بجو الوتنه راوشوه او **۲۵** کسه سپرلۍ يې راوړې. د يوه کس کرايه **۳۵۰** افغانۍ وې او په اونۍ کې به يې پنځه الوتنې درلودې.

احمدجان د فيض محمد خان په اړه وايي:

((هغه دربار ته نږدې سړی و، پر پاچا ظاهرخان ګران او د هغه معتمد و؛ خو ډېر ولسي سړی هم و، له خلکو سره يې ښه ناسته ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده او داسې نه معلومېده لکه چې نایب الحکومه دې وي. هغه خلک تعلیم ته هم ډېر وهڅول، ان له سپین ږیرو یې غوښتنه وکړه، چې د نجونو ښوونځي ومني؛ خو هغه مهال خلکو په دې اړه د هغه غوښتنه ونه منله. د ولایت، مستوفیت او پوهنې ریاست ودانۍ د هغه په وخت کې جوړې شوې دي، چې تر اوسه ترې گټه اخیستل کېږي. هغه د بودجې ډېره برخه په عمراني چارو لگوله.))

احمد جان وايي:

یو ځل زما پلار هغه مېلمه کړی و، زه هغه وخت په څلورم ټولگي کې زده کوونکی وم، تر ډوډۍ خوړلو وروسته د مېلمه د شپې تېرولو لپاره زموږ ځانگړې حجره نه وه؛ هغه زما پلار ته وویل چې یا به له مېلمه لاس مینځې او یا به حجره جوړوې؛ نو دا حجره د هغه په غوښتنه زما پلار جوړه کړې ده))

د خوست یو مشر حاجي ولي اکبر د فیض محمد خان د حکومتوالۍ په اړه وايي:

(( د فیض محمد خان په دوره کې هم قاچاق کېدل، په ځانگړې ډول لرگي به له فرضي کرښې ورها خوا مېرامشاه او بیا بنو ته لېږدېدل. دغه قاچاق به په اوښانو کېدل او د فیض محمد خان یاور کریم بروت به

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې مخنيوی کاوه. کريم بروت ته د برېتو له امله پنځه روپۍ معاش هم حواله و. د قاچاقو په نيول شويو تختو او تمبو او يا د هغو په پيسو به فيض محمد خان دولتي ودانۍ جوړولې. د خوست ښار په منځ بازار کې اوس هم د فيض محمد خان په دوره کې جوړې شوې ودانۍ راپاتې دي.



تخته بېگ هغه غونډۍ ده، چې د فيض محمد خان نايب الحکومه په دوره کې پکې پوځي ودانۍ جوړې شوي او شاو خوا يې ښې گڼې ونې نهالې شوې دي. که څه هم دې ونو او ودانيو ته په وروستيو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنگونو کې ډېر زيان اوښتی دی؛ خو لا تر اوسه هم هماغه ودانۍ او هماغه ونې ولاړې دي او نور کار پکې نه دی شوی.



تخته بيک چې نايب الحکومه او جنرال محمدحسين خان هم ونې نهالې کړې دي

ملکندی، منځنی بازار او امنيه قوماندانې هم هغه ودانۍ دي، چې د اروابناد فيض محمد خان په وخت کې جوړې شوې دي. قوماندانې خو له لږ ترميم پرته په هماغه پخوانۍ بڼه پاتې ده او تر اوسه ترې هم د امنيه قوماندانۍ د ودانۍ په توگه گټه اخيستل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





فیض محمد خان په خوست کې ډېرې لارې او سرکونه جوړ کړي دي. زیاتره لوی او اوږده سرکونه لکه د تنګي له لارې زېړوک او له هغه ځایه اورګون ته سرک، د ده په وخت کې تېر شوی دی. هغه مهال په اورګون کې حاکمي وه. د غلان سرک ده جوړ کړی دی. له خوسته چله دار کنډو، ګبر، میدان، شهرنو، میرزکې او له هغه ځایه ګردېز ته سرک د ده په وخت کې تېر شو. البته د خوست ګردېز سرک د ده د پلار نواب خان حاکم په وخت کې تېر شوی دی. د لکې تېرې سرک په سروټي، ګبر منګلو، میرزکی او سیدکرم باندې بیا ګردېز ته رسېده. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکې تیرې تر گردېزه د فیض محمد خان په وخت کې جوړ شـوی دی او په دې وروستیو کې ډمبر شوی هم دی.



د لکي تیرې سرک چې د نایب الحکومه په دوره کې غځول شوی دی

میراجان بازار، چې د وازې خوا او گردې ښېرۍ د ولسوالیو تر مـنځ پروت و، د خوست او گردېز ترمنځ یوازینی پخوانی بـازارگوټی و، چـې مسافرو به پکې شپه تېروله.

(c) ketabton.com: The Digital Library





میراجان بازار چې اوس یوازې کنډواله ده

د خوست زیاتره مهم ښوونځي هم د فیض محمد خان په وخت کې جوړ شوي دي او د سرکونو پر غاړو زیاتره ونې هم هغه کښېنولي دي.

د خوست ښار بنسټ فیض محمد خان اېښودلی او نقشه یې هم هغه جوړه کړې ده. په علیشېرو کې بلاوټ باغ او مېلمه کوټ باغ چې په ۴۰ جریبه ځمکه کې جوړ دی، دا دواړه هم فیض محمد خان جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فیض محمد خان د نورو چارو تر څنګ ښوونې او روزنې ته هم ځانګړې پاملرنه کوله، لومړی یې د خانانو او ملکانو زامن جبراً ښوونځیو ته ونیول او بیا یې د کلیوالو زامن د خسنې له مخې جبراً ښوونځیو ته ونیول. هغه وخت په ولس کې داسې تبلیغ شوی و، چې ښوونځي د بې دینۍ مرکزونه دي. په دې کار کې هغو ملایانو زیاته ونډه درلوده، چې د امان الله خان پر ضد راپورته شوي وو، لکه ګوډ ملا.

د خوست مهم ښوونځي او لېسې لکه: غربنت لېسه، اسمعېل خېلو لېسه، لکنو لېسه او نورې او د نادرشاه کوټ، درګې، ګوربزو، زمبر، تریزیو، میدان، ایبک او صبریو ښوونځي هم د ده په وخت کې جوړ شوي دي.

وايي چې کوم موټر به يې په قاچاقبرۍ کې ونیوه په هغه به یې بیا بیګار کاوه او د ښوونځیو په جوړولو کې به یې ترې ګټه اخیسته؛ حاجي ولي اکبر وايي:

(( د حاجي خانه دین د نیولي موټر مالونه یې ضبط کړل او په سزا کې یې په موټر باندې د زمبر ښوونځی جوړ کړ. د شین ګل په موټر یې د یعقوبیو ښوونځی جوړ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ببرک تهاني ته سرک هم د ده په وخت کې تېر شوی دی. د "نادرشاه کوټ" قشله هم ده ودانه کړه او د هغه افسر په نامه یې ونومول‍ه چې همدلته وژل شوی و؛ نو د نادرشاه کوټ قشله د نادرشاه افسر په نامه ده، نه د ظاهرخان پاچا د پلار په نامه.

فیض محمد خان له هغو خلکو سره سخت چلند کاوه، چې تر فرضي کرښې ورهاخوا به یې اړیکي درلودل. له همدې امله یې د ببرک خان ځدراڼ د هغو درېو زامنو ځمکې ضبط کړې، چې له کرښې هاخوا تللي وو))

وايي فیض محمد خان ډېر ولسي سړی و، ان چې ډېرو کلیوالو خلکو به نه پېژانده. دی به په ولس کې په عادي ډول گرځېده راگرځېده او هیڅ ډول وېره او ډار ورسره نه و. په خپله به یې موټر چلاوه او یوازې به گردېز ته او یا به له هغه ځایه خوست ته راته. په جرگو ـ مرکو کې یې ښه مهارت درلود او له ولس سره به ډېر په هنر چلېده. وايي یو مهال یې یوه ځای ته سرک تېراوه؛ خو ولس مخالفت کاوه او سرک یې نه پرېښود. ده سپین ږیري راټول کړل، ویل راځئ جرگه کوو، دوی په جرگه بوخت شول، هلته یې خپلې مشینرۍ ته د چټک کار امر وکړ او دلته یې جرگه وغځوله، کله چې کار خلاص شو او جرگه مار هم خبر شول، هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نایب الحکومه ته کړل: دا دې څه وکړل؟ ده ویل چې زموږ مسوولیت دا و، چې ستاسو د آرامۍ، هوساینې او پرمختګ لپاره سرک جوړ کړو، سرک جوړ شو؛ نو اوس تاسو پوهېږئ چې ګټه ترې اخلئ او که ورانوئ يې. ځئ نور مو په مخه ښه! خلکو یو بل ته وکتل، له ځان سره یې فکر وکړ، سرک یې د ځان په ګټه وګاڼه او په دې ډول شخړه پای ته ورسېده.

ده په خوست کې شخصي جايدادونه هم درلودل، چې تر هغه وروسته يې اولادونو وپلورل. اوس د خوست په ښار کې یوه څلور لارې د فیض محمد خان په نامه نومول شوې ده، چې څلی یې هم ښه عصري جوړ شوی دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library



حبیب الرحمن وايي:

((نایب الحکومه نږدې۱۳کاله په پکتیا کې دنده درلـوده. د هغـه پـه دوره کې تر ټولو زیات کار د سرکونو جوړولو په برخه کې شوی دی.

د خوست گردېـز، د منگلـو دوه درې سرکـه، د پټـان او ځمکنیـو، د ځاځي میدان، د خوست د جاني خېلو، صبریو، تره کـي، پـه سـپېره کـې ارگون ته، گوربزو ته، دا سرکونه ټول د هغه په دوره کې جوړ شوي دي.

د پکتیا پروژه هم د هغه په وخت کې منظور شوه. د منگلو پـه پـروژه کې یې ډېر خلک په کار وگومارل او ډېرو کسانو همالته کارونـه زده کـړل لکه موټروانی او نور.

هغه به تل له ولس سره د ښې گوزارې سپارښتنه کوله، تل به یـې پـر موږ ټینگار کاوه، چې مراجعین درڅخه خپه نـه شي، ځکـه هغـه بـه ډېـر وخت د عمراني چارو په څارنه تېراوه))

صدر گل د نایب الحکومه په اړه وايي:

(( هغه په کارونو کې ډېر دقیق سړی و، ټول کارونه به یـې پـه خپلـه څارل، ان د سرک او ودانیو اندازې به یې په خپله اخیستې. زموږ په کـلي کې چې سرک تېریده، زما د مورني نیکه د دکان لږه برخه پکـې ورانېدلـه،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نیکه ورغی، ویل: نایب الحکومه صاحب زما دوه زامن په کابل پوهنتون کې دي، دا زما دکان راشخه مه ورانوه، هغه ورته وویل:

((ستا دواړه زامن به راته بیا افرین وایي او دعا به راته کوي، هغوی پوهېږي، چې زه دا کار ستا د زیان لپاره نه کوم، ستاسو د ګټې لپاره یې کوم)) نو دکان یې ترې وران کړ.

هغه به په بیګار هم کارونه کول، اوسنی د پروژې باغ یوه دښته وه. دلته چې یې باغ جوړاوه، په قبیلو یې کار کاوه. هرې قبیلې سره به خپلې قلبې وې او کار به یې پرې کاوه. په خلکو به یې ونې حواله کولې، په اسمعیل خېلو یې چنارونه حواله کړي وو. زه زلموټی وم، موږه لاړو زما د ماما ښه غټ چنار و، هغه ته وختم او ۳۰-۴۰ ښاخونه مې راپرې کړل، په خره مې ټول بارکړل، مشران راسره وو او باغ ته مې ورسول. بیا نایب الحکومه ماته څو افغانۍ انعام راکړ))

فیض محمد خان تر ۱۳۴۳ل. پورې په پکتیا کې نایب الحکومه و. هغه جرمني ته د درملنې لپاره تللی و، چې د همدغه کال د غبرګولي په ۱۴مه له کابل راډیو څخه د هغه د مړینې خبر تېر شو. د غبرګولي په ۱۶مه د شنبې په ورځ د مرنجان غونډۍ د پاچاهي کورنۍ په هدیره کې خاورو وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ نايب الحکومه په خوست کې له ځانه ښه نوم پرېښی دی.
- ✓ تونږ، زړور، متدين، زيارګالونکی او هېواددوسته شخص و.
- ✓ د سيمې له خلکو سره يې دوستانه اړيکې پالل او د هغو په دودونو په بشپړه توګه پوهېده.
- ✓ تل به يې د رغاونيزو کارونو څارنه او لاړښوونه پخپله کوله.
- ✓ په پکتيا او ګردېز کې يې ډېرې ودانۍ جوړې کړې دي.
- ✓ د خوست زياتره سرکونه د هغه په وخت کې جوړ شوي دي.



حاجي ولي اکبر د مرکې په حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library





# محمد گل خان مومند

محمد گل خان د محمد خورشید خان غونډمشر زوی، د مومین خان لمسی او د عبدالکریم خان کړوسی دی. په ۱۲۶۳ل=۱۳۰۳س. د روژې په۱۳مه کې د کابل ښار په اندرابیو کوڅه کې زیږېدلی دی؛ خو پلرنی ځای یې د ننگرهار ولایت د مومند درې ولسوالۍ "گولایي" کلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې په خصوصي ډول وکړې او بیا په ۱۳۲۷س= ۱۲۸۷ل. کې د حربي ښوونځي په دویم ټولگي کې شامل شو. په پنځه و کالو کې یې حربي زده کړې پای ته ورسولې. تر فراغت وروسته د اردلانو په غونډ کې د قوماندان په توگه وټاکل شو. دغه مهال یې هم شاهي ټولگي ته تدریس کاوه او هم د حربي ښوونځي سرښوونکی و. د دغه بریالي خدمت په پایله کې د سپه سالار

(c) ketabton.com: The Digital Library



صالح محمد خان د یاور په توګه وټاکل شـو او وروسـته د شـاهي ګـارډ قوماندان شو.

مومند څه وخت په ترکیه کې د افغاني سفارت عسکري آتشه و. پـه ۱۳۰۰ل. کې د حرب د وزارت د "مجموعۀ عسکری" مجلـې مـدیر و. پـه ۱۳۰۳ل. کې د پکتیا اعلی حاکم او عسکري قوماندان او په **۱۳۰۶**ل. کـې د بلخ د ملکي پلټنې رئیس او بیا د ننګرهار عسکري قوماندان و.

د محمدهاشم خان په کابینـه کـې داخلـه وزیـر او ورسره لـومړی د ننګرهار او بیا د پروان ولایت تنظیمیه رئیس و. په **۱۳۱۱**ل. کـې د کنـدهار او فراه ولایتونو تنظیمیه رئیس و. په **۱۳۱۳**ل.کې د قطغن، بدخشـان، بلـخ او میمنې تنظیمیه رئیس و. په **۱۳۱۹**ل.کې د دولت د وزیر په توګه وټاکـل شو.

تر دې دندې وروسته نور په خپل کاله کېناست او پـاتې عمـر یـې د پښتو ژبې په علمـي- ادبي خـدمت کـې تېـر کـړ. تـر **۱۳۲۷**ل. پـورې پـه سمنګانو کې اوسېده؛ خو په همدغه کال د شاه محمود خـان د صـدارت پر مهال کابل ته راغی. اوړی به په کابل او ژمی به په لـوی ننګرهـار کـې اوسېده.

په **۱۳۳۴**ل. کې د لویې جرګې د نائب رئیس په توګه وټاکل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزير محمد گل خان د سپېڅلې او کلکې عقيدې څښتن و. په خپل هوډ کلک و او لوړ شخصيت يې درلود. په مـذهبي اصـولو ټينـګ او پـه پښتو او پښتونواله مين پښتون و؛ خو تر څنګ يې مستغني انسـان هـم و. همدا لامل و، چې د دومره واک وځواک سره سره يې هـم پـه کابـل کـې کور نه درلوده او په کرايه کور کـې يـې خپلـه سـپېڅلې اروا خپـل الله تـه وسپارله. همدا ديانت او سپېڅلتيا د ده لوی وياړ او نېکنامي ده.

وزير محمد گل خان مومند په هر ځای کې خپلې انساني، اسـلامي او هېوادنۍ دندې په پوره ديانت، صداقت او ځيرکۍ سرته رسولې؛ نـو د خپلو ښو خدمتونو له امله په"لمر اعلی نښان" هم نمانځل شوی و.

مومند بابا په علمي- فرهنگی برخه کې هم نه هېرېـدونکي خدمتونـه تر سره کړي دي.

په کندهار کې يې د محمد نادر خان په اجازه په **۱۳۱۱**ل. کې د پښـتو انجمن بنسټ کېښود. طلوع افغان هـم د مومنـد پـه امـر پـه پښـتو شـو، همدارنگه يې په کندهار کې ډېر زلميان وروزل.

هغه پر پښتو سربېره په دري ژبه کې هم پوخ او پياوړی لاس درلود. په پښتو کې يې پر نثر سربېره په نظم کې هم لاس درلود؛ خو نظم يـې تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نثر ډېر لږ ليدل شوى دى. وزير محمد گل خان مومند دا آثار هم افغـاني ټولنې ته په ميراث راپرېښي دي:

پښـتو سـيند، پښـتو ليـار، لنـډكى پښـتو، پښـتني روزنـه، پښـتو-پښتونواله، د پښتو لويه نحو(معاني او بيـان) د پخـلي كتـاب، لنـډه كـى پښتو.

د بلخ ولسوالى ځلور لارې د وزير محمد گل خان مومند په نامه نومـول شوې ده. دغه ځلورلارې د مزار شريف او شبرغان پر لويـه لاره پرتـه ده. دا هغه ځلورلارې ده، چې خاورې يې د وزير بابا د پلونو نښـې لـه ځانـه سره لري. ارواښاد به پر همـدې ځلـورلارې د بلـخ ولسـوالى لـه بـازاره تېريده او خپل كلي "مومندانو" ته به ته. دغه كلى اوس د "وزيـر آبـاد" پـه نامه يادېږي. په دغه كلي كې لا هم د وزير بابا پلرنى كـلا ولاړه ده، چـې اوس يې پكې د محمد عمر خان په نامه د بابا يو عزيز اوسېږي.

كه څه هم د تاريخي شاليد له مخې پښتانه هم د نورو قومونـو پـه څېـر د هېواد د شمال له بلخه نورو سيمو ته كوچېدلي؛ خو د وخـت پـه تېرېـدو په بېلا بېلو مهالونو كې بېرته شمال ته راغـلي او اسـتوگن شـوي دي. پـه دې لړيو كې يوه لړۍ د وزير بابا په نامه ده، چې پښـتانه يـې د هېـواد لـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوېل او ختيځه د هندوکش د غرونو شمالي لمنو ته راوستل او اسـتوګن يې کړل.

د وزير بابا دغو ملي او افغاني کړنو ته ډېرو کسانو له چيچې خـوا کـتلي او داسې يې انګېرلې ده، چې دغه چارې د قومي او شخصي ګټو پر بنسـټ تر سره شوې دي. دغو فکرونو نه يـوازې دا چـې د دې مـلي شخصـيت نېک کار ته يې په بده کتلي، بلکې د هېواد پـالنې سـتر احسـاس يـې هـم ژوبل کړی دی.

وزير بابا شمال ته پښتانه د افغانستان د سياسي، ملي او اقتصادي ګټو پـه موخه راوستلي او استوګن کړي وو، چې په خپلو دغو هدفونو کې بريالی هم شو. د وخت تېرېـدو ثابتـه کـړه، چــې د وزيـر بابـا دغـو مـلي کړنـو افغانستان له ډېرو ګواښونو وساته او لا به يې ساتي.

يو وخت د هېواد د شمال په اړه دا متل ډېر عام و:"که مرګ غواړې کندوز ته لاړ شه"د دې متل مفهوم دا نه و، چې ګوندې په کندوز کې انسان ته د انسان په سترګه نه کتل کېدل او په ډېره اسانه به يـې وينـه تويېـده، بلکـې هغه مهال کندوز شاړې دښتې وې، چې د ژوند کولو هيڅ راز اسـانتياوې پکې نه وې. يوازې کندوز نه بلکې د هېواد ډېرې شمالي سيمې همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي. د هېواد له نورو برخو به خلك هندوستان او نورو ملكونو ته د غلې دانې د گټلو په موخه تلل؛ خو د خپل كور له امكاناتو ناخبره وو.

وزير بابا سره د ټول هېواد فكر و، هغه هيله درلوده، چې افغانان د خپل هېواد ځمكې شېرې كړي او له منځه يې د ژوند د تېرولو او د خپلو اړتياو ليرې كولو لپاره امكانات راوباسي.

هغه د هېواد په شمال كې د خپلو دندو پر مهال دغه شاړې دښتې او پرېمانه اوبه ليدلې وې او دا شونتيا يې هم درك كړې وه، چې د دغو شاړو په آبادېدو كې د ټول هېواد گټه ده، چې له لارې يې ستر اقتصادي بدلون راتلى شي. په همدې موخه يې د هېواد له ختيځو او سوېلي سيمو څخه يو شمېر پښتانه راوويستل او د شمال په بېلا بېلو سيمو كې يې ځاى پرځاى كړل. دلته يې ورته دولتي شاړې ځمكې او ځنگلونه وركړل، پرې آباد يې كړل او د هېواد له هغې برخې يې كندو جوړ كړ، چې يو وخت پكې د ژوند مانا مرگ وه.

اروانباد اكاډمېسين رشاد"د قام غمخور محمد گل خان مومند" تر سرليك لاندې مقاله كې ليكي: د هندوكش په شمال كې ډېرې سركاري ځمكې خورا شاړې پرتې وې، اوبه بېكاره بهېدلې او شاړې ځمكې ځنگلونه كېدل. د سيمې خلكو د كرنې په كار كې ځانونه ډېر نه زهيرول. د للمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره ډېرې دښتې او رغونه د دوی په واك كې وو، يوازې ييوه او تخم يې له دوی څخه غوښت؛ نور نو اقليمي شرايطو كښتونه ورپخول. په پراخو دښتو او ويرو راغو د سيمې د خلكو وس نه رسېده، چې ټول وكري او حاصل ترې واخلي؛ خو د افغانستان ځينې سيمې، په تېره بيا هغه، چې د اوسېدونكو شمېر يې ډېر و، غلو دانو يې د خلكو اړتيا نه شوه پوره كولای. كرنيزې ځمكې نه وې، چې كرل شوې وای، د سيمې خلك به دې ته اړ وو، چې د مزدورۍ لپاره هندوستان ته ولاړ شي او غنم او جوار ترې راوړي. محمد گل خان دغه بې ځمكې خلك او كوچيان په منتونو او زاريو د هېواد شمال ته راوبلل او بې خاونده (دولتي) ځمكې يې د هندوكش په شمال كې پرې وويشلې. ده په دې كړنو د هندوكش د شمالي برخو ډېرې بې خاونده او بې حاصله ځمكې حاصل خېزه كړې))
نو وزير بابا نه يوازې دا چې د هېواد يوه شاړه برخه حاصل خېزه كړه، بلكې افغانان يې د هېواد پالنې او ودانولو ته وهڅول. دا چې نن د هېواد شمال د نورو برخو په پرتله خورا حاصل خېزې او ډېرې ځمكې لري؛ دا ټول د وزير بابا بركت و، چې بايد په حق كې يې لاسونه پورته كړو.

د وزير بابا له خوا د هېواد په شمال كې د ځمكو د وېش په اړه داسې هم ويل كېږي، چې ده يوازې پښتنو ته ځمكې وركړې دي. دغه مسأله په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله مانا غلطه ده. دې غښتلي مشر يوازې پښتنو ته ځمکې ور نـه کـړې، بلکې ټولو هغو شمال مېشتو افغانانو ته يې دولتي ځمکې ورکـړې، چـې نه يې درلودې. داسې ډېرې بېلګې شـته، چـې لـه هغـو پښـتنو يـې هـم ځمکې اخيستې دي، چې ډېرې يې درلودې او هغو ته يې ورکـړي، چـې هېڅ يې نه درلودې.

د بلخ ولسوالۍ د وزير آباد کلي يو کس اوسېدونکی او د وزير بابا عزيـز، محمدعمرخان چې اوسمهال د بابا په پلرنۍ کلا کې ژوند کوي، پـه يـوه لنډکۍ ناسته کې راته وويل، چې وزير بابا په شمال کـې لـه پښـتنو پرتـه ټولو هغو قومونو او کورنيـو تـه هـم ځمکـې ورکـړې دي، چـې نـه يـې درلودې.

نومړي د بېلګې په توګـه د خپلـې ولسـوالۍ د "برمزيـد" سـيمې يادونـه وکړه، چې وزير بابا پکې ترکمنو ته شلـور پيکالـه ځمکـه ورکـړې، چـې اوس هم پرې مېشت دي. همداراز يې د "صدرآباد" کـلي اوسـېدونکو تـه چې پښتانه نه دي، هم ځمکې ورکړې، چې د همدې ورکړې له امله نـن په بلخ کې صدرآباد د يو کلي په توګه ودان دی.

نومړي وويل، چې له دوی يې هم زياته برخه ځمکه پـه مومنـدانو کـلي کې واخيسته او مندوزيو ته يې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له دې څرګندېږي، چې وزير بابا د يو انسان په توګه له خپل قوم سره مينه درلوده او غوښتل يې چې د خپل قوم له لارې هم خپل هېواد آباد کړي، چې آباد يې کړ؛ خو هيڅکله يې افغان واحد ملت ته زيان نه دی رسولی او ټولو افغانانو ته يې په يوه نظر کتلي دي.

له سياسي اړخه هم د محمد ګل خان مومند پلان ډېر مهم و، ځکه اوس په شمال کې داسې ولايتونه ولسوالۍ، کلي او کوڅې شته، چې ښنګ په ښنګ پکې بېلا بېل قومونه ژوند کوي. له يو بل سره راشه درشه لري، يو ډول دود او دستور لري. د يو بل په غم او ښادۍ کې سره شريک دي او داسې پيوندونه يې سره اخيستي، چې بېلول يې د هېڅ سياسي بدرنګې تګلارې د وس خبره نه ده.

يعنې په حقيقت کې د مرحوم مومند پلان د ملت جوړونې لپاره و او وخت ثابته کړه چې له ځينو مشکلاتو سره سره، په شمال کې تر ډېرې اندازې ملت جوړونه شوې ده.


د بلخ والي عطا محمد "نور" په دې برخه کې د ستاينې وړ دی، چې د هغه نوم يې د ځلورلارې په نومولو سره په ولسي سطحه ژوندی وساته. د کرکو دغه ماښامی همداسې څراغونو ته اړتيا لري، چې تياره وتښتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هېواد په شمال کې د مېشتو افغانانو په زړونو کې يو بل ته د مينې رڼاګانې ځای پر ځای کړې.

د هېواد دغه نوميالی، توريالی او خبرلوڅ خواخوږی د **۱۳۴۳**ل. د زمري په **۲۷**مه د سه شنبې په ورځ سهار مهال اته بجې د (**۸۰**) کالو په عمر په کابل کې وفات شو. جنازه يې د شاندارو مراسمو په ترڅ کې د کابل په شهدای صالحين کې خاورو ته وسپارل شوه.




*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ دیانتداره او فقیرمزاجه شخص و، ځکه خو یې له واک و ځـواک سره په کرایه کور کې ساه ورکړه.
- ✓ باتدبیره، لیرلیدی او ملی شخص و، ځکـه یـې د ملـت جوړولـو بهیر ته کلکه پاملرنه وکړه او یوازې پښتنو ته نه بلکې ټول ملت ته یې اخلاصمندانه خدمتونه و کړل.
- ✓ پر یوه لوړپوړي او هېوادوسته چارواکي سربېره یو لوړ لیکوال او فرهنګپال هم و.
- ✓ هغو پښتني دودونو ته یـې ډېـر اهمیـت ورکـاوه، چـې ټـولنیزې ښېګڼې لري.
- ✓ ولسونه به یې حجرو، دېرو او چارچوبیو جوړولو هڅول.

له شاهانه درباره نو ځان وساته، هغه دنیا چې په فقیری کې مو ندل کیږي، په قصرو نو او ماڼیو کې نشته، هسې نه اروادې د بغاوت او تکبر په وزرو د فرعون د ملکرو په کتار کې ودروي او حقایق دې له یاده وو ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# غلام رسول پرماچ

غلام رسول پرماچ د عبد الودود خان زوی پر ۱۲۸۱ل. د کابل په پغمان کې زیږېدلی دی؛ خو له اصلاً د نورستان ولایت( هغه مهال لغمان) د دوآب ولسوالۍ د "نیلاب" کلي په یوه بزگره کورنۍ پورې اړه لري. هغه د ماشومتوب کلونه د لوگر ولایت د کلنگار ولسوالۍ په "حکیم کلا" کې تېر کړي دي.

پرماچ لومړنۍ زده کړې د کابل د "خورد سالان عسکری " په ښوونځي کې وکړې او بیا یې په نظامي زده کړو پیل وکړ. په ۱۲۹۹ل. کې فارغ او د بریدمن په رتبه یې پوځي دنده پیل کړه. په خپل ژوندانه کې یې په بېلابېلو پوځي پوستونو کار وکړ، چې په دې ډول دي:

د ښې وړتیا ښودنې له امله د تورنۍ رتبه ورکړې شوه. د ۱۳۰۲ل. په پای کې د جگړنۍ رتبې ته لوړ او د لومړۍ فرقې په دویم کنډک کې پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنده وګومارل شو. بیا په قطغن او بدخشان (**۲۰**مه قوه) کې وګومارل شو. تر یو کال خدمت وروسته له خپل کنډک سره پکتیا ته ولېږل شو او تر**۱۳۰۶**ل. پورې په پکتیا کې پر دنده بوخت پاتې شو. له **۱۳۰۶-۱۳۰۷**ل. پورې د غزني په مقر کې د عبدالرحمن تره کي د بغاوت د غلي کولو لپاره وګومارل شو. بیا تر **۱۳۱۰**ل. پورې د حربي ښوونځي داخله مدیر و. په ۱۳۰۹ل. کې یې د ډګرمن رتبې ته ترفیع وکړه او له **۱۳۱۰- ۱۳۱۱**ل. پورې د لومړۍ فرقې(وروسته اوومه) د لومړي غونډ قوماندان و. له ۱۳۱۱-**۱۳۱۶**ل. پورې د لومړۍ فرقې د دویم غونډ قوماندان و او د افغانستان مرکزي برخې ته د خدمت لپاره ولېږل شو. په مرکزي سیمو کې یې د خدمت له امله په **۱۳۱۴**ل. کې ډګروالۍ ته ترفیع وکړه. له **۱۳۱۶- ۱۳۲۰**ل. پورې د ډګروالۍ په رتبه د غزني د **۱۴**قوې قوماندان و. په ۱۳۲۰ل. کې د بریدجنرال رتبې ته لوړ شو.

له **۱۳۲۰- ۱۳۲۵**ل. پورې د پکتیا تنظیمیه رئیس و. په **۱۳۲۵**ل. کې یې د تورن جنرالۍ رتبه واخیسته او له **۱۳۲۵-۱۳۲۶**ل. پورې د مرکزي قواو د لومړۍ فرقې د قوماندان په توګه دنده ترسره کړه. د همدې کال په پای کې حربي رئیس مقرر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د **۱۳۲۷**ل. له وروستيو د **۱۳۲۸**ل. کال تر پای د پوځ پېژندوال و.

له **۱۳۲۹- ۱۳۳۲**ل. پورې دويم ځل د پکتيا د تنظيميه رئيس پـه توگـه مقرر شو.

مدير شريف الله مرهون د پرماچ په اړه په لنډه توکه وايي:

(( غلام رسول پرماچ په گرديز کې تنظيميه رئيس و، هغه ډېر تاريخي سړی و او په افغانستان کې يې ډېر ښه نوم درلوده))

(c) ketabton.com: The Digital Library



د **۱۳۳۲**ل. کال له وروستیو تر **۱۳۳۵**ل. پورې د ملي دفاع وزارت معاون و.

د **۱۳۳۶**ل. کال له لومړیو- **۱۳۴۲**ل. پورې د بلخ ولایت نایب الحکومه و. کله چې غلام رسول پرماچ د نایب الحکومه په توګه مقررېده، په بلخ کې غلا، شوکې، وژنې او لوټنې ډېرې زیاتې وې؛ څرنګه چې غلام رسول پرماچ له دې مخکې په نورو ځایونو کې هم دندې ترسره کړې وې او ښه وړتیا یې ښودلې وه؛ نو له همدې امله هلته د سمون لپاره ولېږل شو.

په دې اړه عصمت الله پرماچ نورستانی وایي:

(( په بلخ کې د پرماچ لومړی کار دا و، چې د احتکار مخه یې ونیوله. کیسه داسې وه، چې په مزار شریف کې څو کسه لوی شتمن او محتکرین وو. هغوی به اړین توکي لکه غنم، اورلګیت، کلوشې او نور له بازاره پېرل، په خپلو ګودامونو کې به یې زېرمه کول او د خلکو د اړتیا پر مهال به یې پرې د خپلې خوښې نرخ ایښووده. کله چې پرماچ ولیدل په بازار کې ناڅاپه دغه اړین توکي ورک شي؛ نو د لامل موندنې په لټه کې شو. مخبرینو تر ډېر هڅو او څار وروسته دا راز ومونده چې څو کسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوداګر دغه توکي له بازاره پېري او بيا يې په خپلو ګودامونـو کـې زېرمـه کوي.

پرماچ تـه چـې دا راز معلـوم شـو، نـو لاړ، ګودامونـه يـې وليـدل. سمدواره يې يو پلاوی وټاکه او ورته ويې ويـل: زمـا لـه دې سره کـار نـه شته، چې دا ګودام د چا دی؟ خو توکي راوباسئ، پـه مناسـب نـرخ يـې وپلورئ او پيسې له ځان سره وساتئ، چې د هر چا مال وي، څښتن يـې پخپله پيدا کېږي.

همداسې وشول، څه موده وروسته پرماچ، ځينې مشران او سوداګر په يوه مېلمستيا کې ناست وو، چا پوښتنه ځنې وکړه، چې نايب الحکومه صاحب! د ګودامونو والا پيدا نه شول؟ دا خلک له ولس سره ډېـر ظلـم او خيانت کوي. ارواښاد پرماچ وويل:


((زه پوهېږم چې سوداګر خپل ملت او ولس ته د زيان رسـولو نيـت نه لري؛ خو دوی اصلاً د سوداګرۍ په اصولو نه پـوهېږي او کسـان يـې هم پيدا کېږي، ښايي ځينې يې زموږ پر ميز هم حاضر وي؛ نو پيسې خو يې ور رسېږي او خير دی که د زياتې ګټې پيسې ور ونه رسېږي))

هغه خپل دفتر ان په عام محضر کې لګاوه، چمن کې به يې چـوکۍ واچولې يوې خوا ته به د نايب الحکومه او بلې خوا ته به د قضا دفـتر و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړی خلکو دا ترتیب نه خوښاوه، څو ورځې به ډېر لږ کسان په کتار کې درېدل؛ خو ورو ورو خلک له دې ترتیب سره روږدي شول او دا کار یې ډېر غوره وګاڼه. څکه خلک به سیده ورتلل، خپلې عریضې به یې وړاندې کولې او ژر تر ژره به پرې اجراآت کېدل.



بیا یې د نظم او امنیت خوا ته مخه کړه، څکه د هغه د ورتګ پر مهال په بلخ کې کې غلا، شوکې، وژنې او لوټنې ډېرې زیاتې وې. وایي چې یو وخت به غلاوې کېدې او یو ځل خو غلو د یوې کورنۍ ټول غړي وژلي هم وو او یوازې یو ځوان ترې ژوندی پاتې و. کیسه داسې وه چې پر غلو کوروالا غږ کړی و، چې ومو پېژندئ؛ نو هغوی پسې بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راګرځېدلي او ټول کوروالا یې وژلي وو. یوازې دغه ځوان ترې چېرته د کټ لاندې پټ شوی و او د هغوی پرې سترګې نه وې لګېدلې.

اروابناد پرماچ چې هرڅومره هڅه وکړه، غله یې ونه پېژندل. تر ډېر چرت وهلو او د مخبرينو په مرسته پوه شو، چې د دې پېښې راز په زندان کې دی. یوه شپه پخپله زندان ته ورغی زندانیان یې وشمېرل؛ نو معلومه شوه، چې پنځه کسه زندانیان نه شته. همالته ورته منتظر پاتې شو او په پای کې د شپې ناوخته پنځه واړه زندانیان راغلل. هغه یې ونیول، سبا ته یې هغه ژوندی پاتې ځوان راوغوښت، ټول نیولي کسان یې د هغه له مخې تېر کړل. هغه په درې کسانو لاس کېښود، چې قاتلین دا دي. بیا یې هغه درې کسه په شادیان دښته کې په عام محضر کې اعدام کړل))

پرماچ یو مدبر انسان و، هغه مهال چې یې ښار وراناوه، ځینې کسان پاچا ته ورغلي وو، پاچا بېرته پرماچ ته ټلګراف کړی و، چې ښار مه ورانوه، هغه ورته په ځواب کې ویلي وو: پاچا صاحب سمه ده، پاتې به نه ورانوم؛ خو وران کړی بېرته جوړ کړم که نه؟ پاچا ویل ولې ښار دې وران کړی دی؟ اروابناد پرماچ ورته ویلي وو: بلی پاچا صاحب! لږ پاتې دی او نور مې ویجاړ کړی دی. په دې اورېدو سره نو پاچا ورته ویلي وو: ښه! نو ادامه ورکړئ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرماچ قاطع او توند سړی و، خپل صلاحیت یې ښه پېژانده او سـمه او معقوله گټه یې ترې اخیستله؛ وایي:

یو وخت د هغه یوه منځـنۍ رتبـې والا چـارواکي پـه کورنیـو چـارو وزارت کې څوک لوړ پوړی پېژانده، هغه له یوه بل کس څخه په دې اسره رشوت اخیستی و، چې زه به دې پر هغه لوړ پـوړي پـه دغـه پسـت کـې مقرر کړم. د مرکز څارنوالانو له نشاني شویو پیسو سره هغه کـس ونیـوه. کله چې پرماچ خبر شو، چـارواکی یـې لـه څـارنوالانو سره راوغوښـت، پیسې یې ترې واخیستې، پوښتنه یې تـرې وکـړه چـې رشـوت دې رښـتیا اخیستی و؟ هغه ویل: هو صاحب! پیسې یې بلې بخارۍ ته ورواچـولې او هغه یې ښه وواهه، بیا یې رخصت کړ او ورته ویې ویل چې نور دندې ته رانه شې.

څارنوالانو ویل: صاحب! تاخو سړی پرېښود، هغه مجرم و، دوسیه یې جوړه شوې ده، اوس نو موږ څه وکړو؟

اروانښاد پرماچ ورته وویل: تاسو څوک یاست، چې هغـه مـو نیـولی دی؟ لومړی به مو زه خبر کړی او بیا به مو هغه نیولی وای. دا په ما پورې اړه لري، نه په تاسو پورې. تاسو تللای شئ او که غواړئ چې تاسـو هـم ښه وټکوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرماچ په افغـاني دودونـو پـوه او تجربـه کـار چـاروا‌کی و. وايـي د نورستان د دوه قبيلو تر منځ دښـمني وه او ۱۴کسـان هـم تـر منځـه وژل شوي وو. پرماچ له خپل نفوذ او تجربې په ګټې اخيسـتنې د هغـو جـوړه وکړه؛ خو د ښه تضمين لپاره يې له يوه بېوزله لوري څخه دوه لکه افغانۍ او له بل زورور لوري څخه دوه سوه ميله وسله واخيسته؛ نـو هغـو قبيلـو بيا وروسته په خپلو کې د شخړې کولو زړورتيا ونه کړه.

غلام رسول پرماچ به هم له زندانيانو څخـه پـه ځينـو کـارونو کـې د بشري ځواک په توګه ګټه اخيسته. وايي چې د روضـيې د جومـات لپـاره يې د بلخ په بنديانو، سطرنجۍ او ځينې نور اړونـد شيزونـه جـوړ کـړل، البته يو په يوه مناسب قيمت يې ترې وپېرل.

هغه به خپل ټول مامورين په کلکه څارل، ان چې د هغـو شـــخصي کارونه به يې هم تر پام لاندې وو. وايي د هغه يوه مرستيال پـه شـــخصي پانګه په مزار کې يو کور وپېره، کله چـې پـرې پرمـاچ خـبر شـو، راويـې غوښت، پوښتنه يې ترې وکړه چې کور دې پېرلی دی، ويل: هو صاحب! اروابناد پرماچ ورته وويل: بېرته ترې پيسې واخله او کور مه پېره، ځکه ته ما مقرر کړی يې؛ نـو خلـک بـه وايـي چـې د نايـب الحکومـه مرسـتيال

(c) ketabton.com: The Digital Library



رشوتونه اخیستي او یا یې خیانت کړی دی. په دې ډول یې خپل مرستیال له کور پېرنې منع کړ.

اروابښاد پرماچ یو زیارکښ، هڅاند او نه ستړی کېدونکی نایب الحکومه و، شپه او ورځ به د خلکو په خدمت لګیا و. عصمت الله پرماچ وایي:

(( پرماچ د خلکو سړی و، تل به د خلکو په خدمت بوخت و، موږ به زیاتره نه لیده، ان د جمعې په ورځ به هم ډېر لږ په کور کې پاتې کېده، چې موږ به یوازې په همدغه وخت کې په کور کې لیده.



د بلخ ولایت پخوانۍ ودانۍ چې د "پرماچ"په دوره کې جوړه شوې؛ اوس ترې د اطلاعاتو او کولتور د ریاست ودانۍ په توګه ګټه اخیستل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خوړو کې به یې نورستانی پنیر، کورت او شورا خوښول. لږ خوراک یې کاوه؛ خو په کاسه کې به یې خواړه نه پرېښودل. په هر ډول خوړو به یې شکر ویسته.

متدین انسان و، د شپې به عبادت ته پاڅېده، خپل تسبیحات به یې په سجده کې پوره کول. زما مور به یې هم تهجد لمانځه ته راویښوله.

خلک یې د پوهې او تعلیم خواته هڅول او پخپله یې ښوونځي له نږدې معاینه کول.



(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د حکومت هر شیز له ځان سره امانت او په امانت کې لاسوهنه یې غیراسلامي عمل ګاڼه، ان موږ ته یې اجازه نه راکوله چې په دولتي موټر کې د شخصي کار ترسره کولو لپاره لاړ شو.

نظام او حکومت ته وفادار افسر و، یوه ورځ ترې ما پوښتنه وکړه، پلاره! په جنګ کې به دې څومره خلک وژلي وي، پنځوس- شپېته؟

له دې پوښتنې سره یې په مخامخ غره کې سترګې خښې کړې، دقیقه دوه چوپ و. زه په خپله پوښتنه پښېمان وم، بیا یې وویل: زویه! موږ جنګ ته د وژنو لپاره تللي نه یاستو، ښایي زیات، ښایي کم؛ خو حکومت اسلامي حکومت دی، پاچا د الله سیوری دی او څوک چې له اسلامي حکومته سرغړونه کوي، باغي دی؛ نو موږ د باغیانو پر وړاندې جنګ کړی، نه د بې ګناه خلکو پر وړاندې؛ نور نو واک له الله سره دی ))

اروانښاد پرماچ له عسکري مقرراتو سره سم په **۱۳۳۶**ل.کې له عسکري دندې تقاعد شو؛ خو د نایب الحکومه په پست یې دندې ته تر **۱۳۴۲**ل. پورې دوام ورکړ.

پرماچ په **۱۳۰۶** او **۱۳۰۷**ل.کلونو کې د عبدالرحمن تره کي د بغاوت د غلي کولو لپاره په مقر سیمه کې و ګومارل شو او هلته یې برې تر لاسه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له **۱۳۲۶- ۱۳۲۷**ل. پورې یې د کونړ د ساپو د بغاوت په غلي کولو کې فعاله ونډه واخیسته.

هغه د ګوډ ملا، د ناصرو او توخیانو، شینوارو، ابراهیم بیګ لقي، ځدرانو، کټوازیانو او شمالي د بغاوتونو په راملو کې فعاله ونډه واخیسته.

د دغسې دندو په بهیر کې یو ځل د مغولګي او بل ځل د پښتونستان د ازادۍ غوښتونکو د خود ارادیت په موضوع کې دنده وروسپارل شوه او دواړه ځل یې په بریالیتابه سره دغه دندې ترسره کړې او په خپلو لاسو یې د ازادۍ د لارې د **۱۴**کلن بهیر د یوه مهم مبارز الحاج میرزاعلي خان تویخیل سره د **۱۳۲۸**ل. کال د جدي په **۲۲** مه د وزیرستان په مرکز کې د یوې لویې جرګې په ترځ کې د پښتونستان توغ پورته کړ.

که څه هم د تولنپېژندنې په برخه کې یې مسلکي زده کړې نه وې کړې؛ خو هغه د نورستان د قبیلو په اړه له معلوماتو او د هغو له څېړلو سره لېوالتیا درلوده؛ نو د نورستان د قبیلو د اتنوګرافۍ په اړه یې هم ځینې کارونه ترسره کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حکومت له لازم ګڼې سره سم په **۱۳۴۲**ل. کې پرماچ له بلخ څخه کابل ته تبدیل شو. د ژوندانه په پای کې د پروستات د سرطان له امله فلج شو او شاوخوا اته کاله یې د دغې ناروغۍ رنځ وګاله.

اروابناد غلام رسول پرماچ د **۱۳۵۴**ل. کال د لړم پر **۲۲** مه د**۷۳** کلونو په عمر ومړ او د شاندارو عسکري مراسمو په ترځ کې د لړم په **۲۳**مه د کابل په قول ابچکان کې خاورو ته وسپارل شو.

پرماچ یو مدبر صاحب منصب، لیرلیدی قوماندان، غوره ملي او تولنیز شخصیت و. د هغه کارنامې د هغه نوم د ولسونو په سینو کې خوندي ساتي. پرماچ یو مجاهد و، چې د خپل نفس په مقابل کې یې جهاد کاوه. هغه د مزار په ښار کې هیڅ کور او جایداد نه لري. د هغه دربار تل د خلکو پر مخ پرانیستی و، هر کس ازادانه ورتلای شو او هر کس ورته په خپل لاس خپله عریضه وړاندې کولای شوه.

استاد امیر محمد "یکه" د اروابناد پرماچ په اړه وايي:

((غلام رسول پرماچ په بلخ ولایت کې د جدیده په نامه هم یادېده. لامل یې دا و، چې نورستانی و او نورستانیان د امیر عبدالرحمن خان په دوره کې د اسلام په مبارک دین مشرف شوي وو، نو جدید معنی دا چې نوی یې اسلام منلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرماچ د منځنۍ ونې، زېږې گونې، زېږو ويښتانو او ابي سترگو والا متدين، خدمتگار او مهربان سړی و. په **۱۳۳۶**ل. کې د بلخ د والي په توگه مقرر شو. هغه مهال افغانستان په اوه و ولايتونو ويشل شوی و، چې له ميمنې تر سمنگانو پورې د بلخ ولايت اړوندې سيمې وې. هغه مهال د مزار شريف ښار داسې ښه نه درلوده، بلکې ښار يوازې د روضې د بڼ په منځ کې و. سره له دې چې ښار په بڼ کې و، خو له **۲۵۰-۳۰۰** پورې کورنۍ هم د بڼ په منځ کې اوسېدلې. د بڼ شاوخوا لاندېني کلي پراته وو، چې ښار يې جوړاوه: يخدان، تيتاق، چغدک او عزيزآباد.

کله چې غلام رسول پرماچ د بلخ د نايب الحکومه په توگه مقرر شو، د هغه له دې سيمې او په ځانگړې ډول له روضې سره لېوالتيا پيدا شوه او ډېر اخلاص يې ورسره وښوده.

لږ وخت وروسته پرماچ د بلخ ولايت د پرمختگ او ښېگڼې لپاره ببرته کابل ته لاړ، د ښار نقشه يې برابره کړه، چې روضه مبارکه پکې ښرگنده معلومېده. بلخ ته له ببرته راگرځېدو سره په دې فکر کې شو، چې ښرنگه د يوه سم او منظم ښار بنسټ کېږدي. د دې لپاره يې د هغه ځای له نورو چارواکو لکه د ښارندويو، ژاندارمو، پوليسو او د دهدادي د **۱۸**مې فرقې له قوماندانانو سره مشوره وکړه. هغوی يې وگومارل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمعې تر لمانځه وروسته خلک وهڅوي چې د هغه خبرو ته غوږ ونیسي. د لمانځه تر ادا کولو وروسته "پرماچ" د روضې له جوماته راووت، چارواکو خلکو ته وویل: والي صاحب پسې شئ چې هغه درسره خبرې کوي. والي صاحب د خندق خواته روان شو، خلک ورپسې وو. د روضې شمال لوېدیځ ته چې دوه د اوداسه ځایونه دي بام والا یې پخوانی دی، له دې ځایه تر خندق پورې **۹۰-۹۵** پله واټن دی، هلته گرځنده کنارابونه وو او خلکو ترې گټه اخیسته. کله چې پرماچ خندق ته نږدې شو خلکو ته یې مخ راواړاوه، ویې ویل: ای د مزار خلکو! ای ایشانانو! دا څه شی دی؟ خندق ته یې اشاره وکړه چې د فضله موادو زېرمه تون و. خلکو وویل دا خندق دی، د کنارابونو د فضوله موادو زېرمه تون.

پرماچ بیا غبرگو گومبزو ته اشاره وکړه ویل: دا غبرگې گومبزې څوک دی؟ ویل: شاه اولیاء، د حضرت علی کرم الله وجهه روضه یا آرامځی دی. پرماچ وویل: ښه چې دومره پوهېږئ؛ نو چې دا روضه په داسې ځای کې وي ښه به وي، که په ښه ځای کې؟ ډېرو کسانو وویل: نه صاحب! چې په ښه ځای کې وي، ښه به وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د روضې د جومات د اوداسه پخوانۍ ودانۍ

پرماچ بیا ټولو خلکو ته مخاطب شو، ویل: نــو پــوه شــئ چــې زه دا ښار ورانوم او سم ښار جوړوم، تر درېو میاشتو پورې مو کورونــه خــالي او خپل څیزونه لیرې کړئ. بیا ملا امامانو له منــبره هــم دا اعــلان کــاوه، چې ای خلکو پرماچ دا ښار ورانوي، تر ټاکلي وخت پورې خپل کورونــه خالي کړئ.

په ټاکلي وخت یې ښار چپه کړ، په یوه میاشت کــې یــې خځلــې او زیاتي خاورې له ښاره وویستې او بالاحصار خواته یې یوړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې خلک راوغوښتل، د روضې ساحه په مشوره **۵۰۰** په **۵۰۰** مترو کې تثبيت شوه او د ښار نقشه يې واچوله.

د ساحې تر تثبيت وروسته يې مهم پانگوال لکه غلام محمد علاقه دار، حاجي صلاح الدين، عبدالجبارخان حاکم، عبدالقيوم خان ترابي، ياسين خان خوجه يين، حاجي فيض الله، ضياخان بايي، مندوزيان او نور راوبلل، جبراً يې ورته ځمکې قباله کړې، چې ځانته پرې ودانۍ جوړې کړي. ان د ځينو ودانيو په جوړولو کې يې تر **۳۰-۴۰** کسانو پورې يو لاس کړل، چې په شريکه يې جوړه کړي.

غلام رسول خان پرماچ **۱۳** وسله وال سپاره درلودل، چې کبير خان يې د ټولي قوماندان و. پرماچ به سهار په آس سپرېده او غرمه مهال ۱۱ بجې به ترې کوزېده. بيا به دوه بجې سپرېده او مازيگر مهال پنځه بجې به ترې کوزېده. په دې ډول تل گرځېده راگرځېده او پخپله يې د کار څارنه کوله.

د ښار د ويجاړونې پر مهال خلک خواشيني وو، خو د کار په پای کې د ښکلي او منظم ښار په ليدو خوشاله او خوښ وو.

په **۱۳۳۸**ل. کې پرې د مدير غني په سرای کې د ځينو خلکو له خوا بريد هم وشو. اروانښاد پرماچ هلته د ولايت په نامه وداني جوړه کړې وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغې پرانیسته یې کوله. کریم خان مستغني د ۱۸ فرقې قوماندان سمدواره د یرغلگرو مخه ونیوله او بیا وروسته غلام رسول خان پرماچ خلکو ته قناعت ورکړ.

هغه ښار چې د پرماچ په دوره کې جوړ شوی و، ډېر کوچنی و، ان اوسنی ښار د هغه تر سل برابره هم زیات دی؛ خو نقشه هماغه ده، چې ارواښاد غلام رسول پرماچ یې بنسټ ایښی و او ورځ په ورځ پراخېږي.

ارواښاد پرماچ د هېواد د امنیتي چارو د ښه سمبالښت له امله د دې نښانونو او مډالونو په اخیستو نمانځل شوی دی: شجاعت، خدمت شمالی، خدمت قطغن، درېمه درجه ستوری، د پکتیا د خدمت نښان، صداقت، د دویمه درجه ستوري نښان، د سردار عالي نښان، د پوهنې نښان او د خدمت نښان.




په مزارشریف ښار کې د "پرماچ" په نامه نومول شوی واټ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د هېواد په هره سیمه کې یې د امنیت راوستنې لپاره نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې او هر ډول سربښندنې ته چمتو و.
- ✓ رښتینی پوځي او د قوماندې تابع افسر و.
- ✓ د مزار شریف د نوي ښار بنسټ ایښودل یې د ملکي خدمتونو یوه بېلګه ده.
- ✓ دیانت او سپېڅلتیا یې له دې هم ښه ترا جوتېږي، چې په مزار شریف یا لویه پکتیا کې هیڅ شخي جایداد نه لري.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# گل پاچا الفت

گل پاچا الفت د میرسید پاچا زوی او د سید فقیر پاچا لمسی پر ۱۲۸۷ل. کال د لغمان د عزیز خان کڅ په منصور کلي کې زیږدلی دی.

زده کړې یې په نارسمي مدرسو کې او د خپل وخت متداوله علوم لکه صرف، نحوه، منطق، تفسیر، حدیث، معاني او بیان یې د ننګرهار او کابل له مشهورو استادانو څخه لوستي دي.

د الفت مورنۍ ژبه پښتو وه، خو دري یې هم په ښه او لوړه کچه زده کړې وه. په دري کې یې په لوړه کچه شاعري هم کولای شوه. عربي ژبه یې هم ښه زده وه او مقالې یې پرې لیکلای شوې. په مستعارونو نومونو یې هم ډېرې مقالې لیکلي او خپرې کړې دي، هغه مستعار نومونه دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ظریف افغـان، کجـوروال، علاقمنـد، محتـاج، سـتمدیده، نوآمـوز، نادار، آرزومند، نکته رس، نکته دان، منتظـر، مشـاهد، حقبـین، منصـف، حق پسند، دلسوز، امنیت خواه، لغت دان، پارلماني وکیل، دقـت پسـند، اعتدالي، ملتفت، قانوني، خپل، بې زړه او ا.ط. گ.

دغه رسمي او نارسمي دندې یې ترسره کړي دي:

په **۱۳۱۴**ل. کې د انیس ورځپاڼې کاتب(د وړې رتبې مامور) و.

په**۱۳۱۵**ل. کې د "انجمن ادبی" د تألیف او ترجمې غړی و.

په **۱۳۱۶**ل. کې دپښتو ټولنې له جوړېدو سره د "زېري"جریدې مدیر و.

په **۱۳۱۸**ل. کې د پښتو ټولنې د صحافت د مدیر مرستیال و.

په**۱۳۱۹**ل. کې د پښتو ټولنې د لغاتو او قواعدو د څانگې مدیر و.

په**۱۳۲۰**ل. کې د "اصلاح" ورځپاڼې مشاور او په همدغه کال بیـا د پښـتو ټولنې لوی مبصر او د "کابل" مجلې مسوول مدیر و.

په**۱۳۲۵**ل. کې د ننگرهار د "اتحاد مشرقي" جریدې مسوول مدیر و.

په**۱۳۲۷**ل. کې د ننگرهار د قبایلو عمومي مدیر و.

په**۱۳۲۸**ل. کې د جلال آباد د خلکو له خوا د ملي شورا په اوومه دروه کې وکیل او بیا په ملي شورا کې دویم معاون و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په۱۳۳۱ل. کې د لغمان د کرغیو د خلکو لـه خـوا د مـلي شـورا د اتمې دورې وکیل و.

په **۱۳۳۴**ل. کې د جلال آباد د خلکو له خوا د لویې جرگې وکیل و.

په **۱۳۳۵**ل. کې په لومړۍ رتبه د پښـتو ټـولنې رئـیس او پـوهنې وزارت د عالي شورا په غړیتوب ومنل شو. همدارنگه د کابل پوهنتون د حقوقـو او ادبیاتو د پوهنځیو د پښتو استادي هم ورتر غاړې شوه.

په **۱۳۳۸**ل. کې د افغان شوروي د دوستۍ د ټولنې له جوړېدو سره سـم د دغه ټولنې رئیس شو.

د **۱۳۳۰**ل. له جوزا د **۱۳۳۲**ل. د لـړم تـر پایـه د ویښ زلمیـانو د نشــراتي ارگان "اولس" جریدې د امتیاز خاوند هم و.

په **۱۳۴۲**ل. کې د قبایلو د مستقل رئیس په حیث د کابینې غړی شو.

په **۱۳۴۴**ل. کې د جلال آباد د ښاریانو له خوا د ولسـي جرگـې دولسـمې دورې ته وکیل وټاکل شـو او د وکالـت لـه څلـور کلنـې دورې وروسـته متقاعد شو.

الفت پر خلکو او ولس یـو زهـیر، دردمنـد، شـاعر او لیکـوال و. د هېواد په ټولنیز او سیاسي بهیر کې یې هڅه کوله، چې د خلکو پـه گټـه تر وسه وسه برخه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کار او ملازمتونو په دغه اوږده بهیر کې د ښو خدمتونو، نوښتونو او جدیت له امله د مقاماتو له خوا ستایل شوی او نمانځل شوی هم دی. د خوشحال خان ادبي جایزه، د ابوعلي سینا ادبي جایزه، دویمه درجه تقدیرنامه، د ستوري درېیمه درجه نښان، د پوهنې دویمه درجه نښان، د وکالت د دورو نښانونه او د لویې جرګې یادګاري نښان یې تر لاسه کړي دي.

نوموړی د ویښ زلمیانو د ډلې له مخکښانو څخه دی. کله چې دی په **۱۳۲۵**ل. کال د "اتحاد مشرقي" جریدې مسوول مدیر و، هغه جریده یې د ویښ زلمیانو د لومړنیو اثرونو، فکرونو او نظریو چاپولو ته وقف کړې وه. الفت د پارلمان د وکالت په ټولو دورو کې د خلکو خوا نیولې او په پارلمان کې دننه او بهر یې په ژبه او قلم د خلکو د حقوقو د خوندي کولو لپاره مبارزه کړ ې ده.

د **۱۳۳۴**ل. کال په لویه جرګه کې د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د نهضت د ملاتړ او دوستۍ د لا ټینګولو لپاره ګل پاچا الفت ډېرې هلې ځلې کړي دي.

الفت دغه لاندې هېوادونو ته سفرونه کړي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۳۳٦ل. کال د وري په**۳**مه د یو پلاوي د مشـــر پـه توگـه پېښـور تـه د عبدالرحمن بابا د قبر جوړولو او په پر هغه د پښتو ټولنې له خوا د ډېـرين پوښ لگولو لپاره.

د **۱۳۳۶**ل. کال د غوايي پـه **۲۸** مـه د پخـواني شـوروي اتحـاد د کولتـور وزارت په بلنه د يو کولتوري پلاوي په مشرۍ هغه هېواد ته.

د **۱۳۳۶**ل. کال د زمري په **۲۹**مه د ختيځ پوهانو پـه ثلیریشـتم کـانگرس کې د برخې اخيستلو لپاره د يو پلاوي په غړيتوب مونشن ته. په دې سـفر کې يې د خوشحال خان خټک او پښـتو ټـولنې پـه اړه دوه کنفرانسـونه ورکړي دي.

د **۱۳۳۷**ل. د تلې په **۳**مه د يو پلاوي په غړيتوب د آسيا او افريقا د ليکوالو په لومړني مؤسس کنفرانس کې د گډون لپاره تاشکند ته.

د **۱۳۳۹**ل. کال د غوايي په**۸** مه د شوروي ـ افغان دوستۍ ټولنې په بلنـه د يو پلاوي په مشرۍ پخواني شوروي اتحاد ته.

د **۱۳۳۹**ل. کال د زمري په **۱۵**مه د ختيځپوهانو په پنځه ويشـتم کـانگرس کې د برخې اخيستلو لپاره د يـو پـلاوي پـه مشـرۍ مسـکو تـه. پـه دې کانگرس کې يې د خوشحال خان خټک او عبدالرحمن بابا د شاعرۍ پـه اړه کنفرانس ورکړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د۱۳۴۰ل. کال د غوايي په ۹مه د شوروي ـ افغان دوستۍ ټولنې په بلنه د يو پلاوي په مشرۍ شوروي اتحاد ته تللی دی.

الفت د پښتو او دري ژبو شاعر او ليکوال و. په عربي ژبه يې ځينې ليکنې هم چاپ شوي او له عربي څخه يې هم ترجمې کړي دي. د زرو په شاوخوا کې مقالې يې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوې دي.

آثار يې دا دي:

د پسرلي نغمه، ښه لمسون، عالي افکار، د آزادۍ پيغام، غوره اشعار، د زړه وينا، بله ډيوه، نوی سبک او نوی ادب، غوره نثرونه، څه ليکل يا ليکپوهه، املاء او انشاء، ليکوالي(املاء او انشاء) لغوي څېړنه، پښتو سندرې، ملي قهرمان، منطق، پښتو کيلي، لوړخيالونه او ژور فکرونه، احمد شاه بابا، نوی څرک، څه ګورم او څه اورم، اجتماعي نظريات، د ټولنې علم، د موفقيت لار، د ټولنې په جوړولو کې د اسلام نقش او...

د شعر يوه بېلګه يې دا ده:

زما ګناه

نه مې د چا مال خوړلی نه مې څوک وژلي دي
نه مې چا ته ورک شه يا ګم شو کله ويلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـوره ګنـاه نـه لـرم پـه دې ګنـاه مـې مـه نيسـه
زړه کې چې مې پټ ظالم ته بد غونـدې کـتلي دي
وخـــت د اعـــتراف دی ګنـــاه خپلـــه درتـــه وايمـــه
نـــه يمـــه منکـــر پـــه مظلومـــانو مـــې ژړلي دي
دا ګنــــاه د ســــترګو کــــه د زړه ده نــــه پوهېږمــــه
بد مې چې ليدلي خـدايږو بـد مـې هـم ګـڼلي دي
زه يـــې پـــه ليـــدلو او ويلـــو ګنـــاه ګـــار شـــومه
نـور يـې پـه کولـو او عمـل بانـدې ښـاغلي دي
نـــه يمـــه خـــاين پـــه خيانـــت د نـــورو پـــوه يمـــه
پوهـه کـه ګنـاه وي خلـق ټـول اوس پوهېـدلي دي
داچـې ډېـر کـاږه درتـه ولاړ دي ټيـټ سرونـه هـم
ستا مخکې چې سم نه شو سـم کلـه چلېـدلي دي
هيڅ اميد ترې مه کړه که څوک ځان د تا غلام ګڼـي
مـــــا غلامانـــــــه ذهنيتونـــــــه پېژنـــــــدلي دي
لـــوړ مقـــام تـــه رسي چـــې بوټونـــه پـــاکوي د بـــل
ډېـــر پـــه دغـــه شـــغل رياســـت تـــه رســـېدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروانباد الفت په۱۳۵۶ل. کال د ليندۍ په اتـه ويشـتمه لـه دې فـاني نړۍ سترګې پټې کړې او د کابل- جلال آباد د عمـومي سرک پـر غـاړه د لغمان په عزيز خان کڅ کې خاورو ته وسپارل شو.




پر ځان د بل د نيو کې درناوی وکړئ، ځکه چې دا ستا نيمګړتيا په ګوته کوي او د شخصيت جوړوني لارې ته دې سموي.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ الفت تر هر ډګره زيات د ولس د يوه رښتيني خادم او د ولس په درد د دردمند مشر په توګه په افغاني ټولنه کې پېژندل کېږي.
- ✓ هغه ټولنيز حقايق په ډېره ښکلې او په زړه پورې لهجه په خپلو ليکنو کې منعکس کړي دي، چې د رښتيا ويلو يو اتل ګڼل کېږي.
- ✓ د پښتنو او بلوڅو د ملي ازادۍ د نهضت د ملاتړ او دوستۍ د لا ټينګولو لپاره يې ډېرې هلې ځلې کړي دي.
- ✓ په ادبي- فرهنګي برخه کې د افغانستان نوميالۍ څېره ده.

ناپوهان او احمقان فکر کوي، چې تر ټولو زيات پوه او ښاغلي دي، لۀ احتياطۀ کار و اخلئ، کۀ نۀ پۀ لويۀ بلا بۀ ورسره اختۀ شئ.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# احمدعلي کهزاد

نـــامتو عـــالم او مـــؤرخ احمـــدعلي کهـــزاد د( **۱۲۸۷**ل. د غـــوايي ۸مه=**۱۹۰۸** اپریل **۲۸**مه) د کابل په چنداول کې د میرزا محمد عـلي کـره زېږېدلی دی. لومړنۍ مروجه زده کړې يـې پـه ډېـر کوچنيـوالي کـې لـه سيد عبدالحمید نومې ښوونکي څخه پیل کړې او د رسمي زده کړو لپاره په اووه کلنۍ کې په ښوونځي کې شامل شو. په خافیانو، اتحاد، حبیبیـه، جبل السراج او استقلال ښوونځیو کې يې زده کړې سرته ورسـولې او پـه **۱۳۰۸**ل. کال يې د استقلال لیسې د لومړۍ دورې په فارغانو کې د ممتاز فارغ بریلیک تر لاسه کړ.

نوموړي رسمي زده کړه د هغه وخت له شرایطو سره سمه د بکلوریـا تر درجې پورې ورسوله؛ خو له علم، پوهې او څېړنو سره د زیـاتې مینـې له امله يې خپله ژوره مطالعه د ژوند تر پای جاري وساتله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ځانګړي ذوق له مخې یې د هېواد د تاریخ او لرغونو آثارو د څېړنو درانه او له ستونزو ډک کار ته ملا وتړله. نوموړی په دري، پښتو، عربي، فرانسوي، ایټالوي او انګرېزي ژبو پوهېده.

کهزاد لومړنۍ رسمي دنده د ترجمان په توګه د هغه فرانسوي پلاوی له مشر" موسیوکول" سره پیل کړه، چې په کابل کې د ارګ دروازې د ګومبزې په جوړونه بوخت و. په همدې ورځو کې یې د وطندوستۍ په نامه مقاله په فرانسوي ژبه وکښله، همدغه مقاله د استقلال ښوونځي مدیر (مسیوژ رار) محمد نادر خان ته وروړه چې د انعام وړ وګرځېده او کهزاد یې د خپل لیاقت او اهلیت له امله په شاهي دارالتحریر کې د فرانسوي ژبې د ژباړن (۱۳۰۹- ۱۳۱۲ل) په توګه وګوماره. د دغه کار تر څنګ یې د فرانسوي کیندن پلاوي سره اوږه په اوږه کار کاوه او د هېواد ټولو ولایتونو ته په سفرونو کې له هغو سره ملګری و.

پر۱۳۱۲ل. کال په ایټالیه کې د افغاني سفارت د سکرتر په توګه مقرر شو. که څه هم دا ماموریت ډېر اوږد نه شو؛ خو استاد کهزاد ته یې دا ګټه درلوده چې ایټالوي ژبه یې هم زده کړه. په ایټالیه کې یې د افغاني سفیر سره مناسبات خراب شول، بېرته خپل هېواد ته راستون او سمدواره د سفیر د پلمې له مخې زندان ته ولېږدول شو. ۱۱میاشتي یې په بند کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېرې کړې؛ خو هلته هم له خپل هېواد او تاريخ سره زياتې مينې ارام پرېنښود، خپلو ليکنو ته يې ادامه ورکړه. ويل کېږي چې د افغانستان د پخواني تاريخ لومړی ټوک يې په زندان کې په باطلو کاغذونو ليکلی دی، چې د ژوند تر وروستيو پورې يې د هغه مسوده په خپل کتابتون کې د يادګار په توګه ساتلې وه.

له بند څخه تر خلاصېدو وروسته کهزاد د معارف په وزارت کې لومړی د تأليف او ترجمې د څانګې معاون مدير او بيا له **۱۳۱۹**-**۱۳۲۸**ل. د کابل موزيم مدير و.

په**۱۳۲۱**ل. کال د هغه د هلو ځلو په نتيجه کې تاريخ ټولنه "انجمن تاريخ" جوړه شوه او د رياست چارې يې هم ده ته وسپارل شوې. دا مهمه او له مسووليته ډکه دنده يې**۱۹** کاله سرته ورسوله. په خپله يې هم زيات شمېر تاريخي آثار وليکل او نورو ته يې هم د افغانستان د تاريخ د بېلا بېلو دورو او لرغونو مدنيتونو په اړه د څېړنو او ليکنو لپاره لارې چارې برابرې کړې. په نتېجه کې ډېر تاريخي کتابونه چاپ، خپاره او زموږ د هېوادني تاريخ ډېر تياره ګوټونه روښانه شول.

په همدې وخت کې زموږ په هېواد کې د عنعنوي تاريخ ليکنې پر ځای په منل شوې علمي او اساسي طريقه د هېواد د بېلابېلو لرغونو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسنیو دورو تـاریخ لیکلـو رواج مونـدلی، چـې د دې علمـي اصـولو د رواجولو افتخار تر هر چا زیات د کهزاد په برخه دی.

له ۱۳۲۹-۱۳۳۶ل. پورې د کابل موزیم او لرغونپېژندنې رئیس او بیـا تر ۱۳۴۰ل. پورې د تاریخ انجمن رئیس و. تر دې وروسته د پوهنې وزارت علمي- فرهنګي مشاور وټاکل شو، تر ۱۳۵۰ل. پـورې یـې دې دنـدې تـه دوام ورکړ او په همدې کال متقاعد شو.

ارواښاد کهزاد د هېواد په ګوټ ګـوټ کـې وګرځېـد، د نـړۍ ډېـرو هېوادونو ته لاړ، په علمي سیمنارونو کې یې برخه واخیسته او هلته یـې د خپل هېواد لرغونی مدنیت، تاریخي اهمیت او افغان ملي هویت څرګند



ارواښاد کهزاد د ایران د پخواني پاچا رضاشاه پهلوي سره په لیدنه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړ. لیکنې یې تولې په حقایقو ولاړې، په علمي او تحقیقـي اصـولو برابرې او له هر ډول ژبني، مذهبي او منطقوي تعصب څخه پاکې دي.

کهزاد د خپل ګټور عملي- فرهنګي ژوندانه په اوږدو کې له اسـترالیا پرته د نورو څلورو واړو لویو وچو ځینـو هېوادونـو لکـه ایټالیـا، هنـد، د امریکا متحده ایالتونو، انګلستان، فرانسې، ایران، پخواني شوروي اتحاد، پاکستان، چین، مصر او ترکیې ته سفرونه کړي دي.

همدارنګه یې د نړۍ د ځینو علمي- فرهنګي ټولنو لکه د واشنګټن د جغرافیایي ټولنې، د لرې ختیځ د آسیایي- فرانسوي ټولنې، د فرانسوي



له ښي لوري: استاد کهزاد، پوهاند رشاد، پوهاند میرحسین شـاه او د هنـد پـه دهـلي کې د نظام الدین اولیاء د زیات ځایناستی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځپاڼه لیکونکو د ټولنې، د بنګال د آسیایي ټولنې او د آسیایي شاهي ټولنې غړیتوبونه هم درلودلي دي.

په خپل علمي کاري ژوندانه کې یې د ښې وړتیا ښودنې او صداقت له امله دا جایزې، نښانونه او مډالونه هم تر لاسه کړي دي:

د پوهنې وزارت د سرو زرو نښان، د ۱۳۴۲ل.کال د لویې جرګې نښان، د پوهنې دویمه درجه نښان، د فرانسې د جمهور رئیس جنرال دوګول له خوا په هنر او ادب کې د شوالیه نښان، په ایټالیایي ژبه کې د ښه مهارت له امله د هغه دولت نښان، د آریانا مطبوعاتي جایزه او د خوشال خان مطبوعاتي جایزه.

د کهزاد د چاپ او ناچاپ آثارو شمېر ۶۰ شاوخوا ته رسېږي چې دا دي:

مسکوکات افغانستان، تاریخ افغانستان، بالاحصار کابل و پیشامدهای تاریخی، رجال و رویدادهای تاریخی، در زوایای تاریخ معاصر افغانستان، افغانستان در پرتو تاریخ، لشکرگاه، فروغ فرهنگ، بگرام، آریانا، تاریخ ادبیات افغانستان، افغانستان در شاهنامه، غرغشت یا گرشاسب، افغانستان چهار راه تمدن و تهذیب مسکوکات قدیم افغانستان، مسکوکات افغانستان در عصر اسلام، شاهنامه ها و مقایسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



میان بعضی پهلوانان آن و اوستا، رایان کابلی، کنیشکا، روابط فرهنگی افغانستان و هند، سپرلو، درفش ملی جمهوری، رهنمای بامیان، تایان، گلدستهٔ عشق، عرف و عادات افغانها، رتبیل شاهان، کوشانیهای خورد یا کیداریها، امپراتوری کوشانشاهان، ممدوحین شاهنامه، پادشاهان اولیهٔ آریانا، مدنیت اوستایی، مدنیت ویدی، موزهٔ کابل، شابهار، کابل، تاریخ برای صنف هفتم، از چنگیزتا تیمور، منظرهٔ افغانستان، سرخ کوتل، زمانشاه و فعالیت دستگاه استعمار، د افغانستان پخوانی تاریخ، افغانستان قبل از اسلام( په زندان کې یې کښلی) روئین تن و تهمتن در جنگ در وادی هیرمند، سربن، تهمتن و پشتون او نور.

**یونلیکونه:**

گزارش سفر هیئت کاروان زرد در۱۳۱۰ش. در امتداد کوه بابا و هریرود، از سروبی تا اسمار، از گلبهار تا سروبی، مردان پاروپامیزاد، سکندر در آریانا (په فرانسوی ژبه) اسلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په بهرنیو ژبو آثار:**

Men and Events

In the Highlight of Modern History of Afghanistan

Guide to Kabul with Nancy Dupree

Alexander au Afghanistan

Afghanistan Custom

Culture (In Italian)

**ژباړې:**

بابر، هنر قدیم افغانستان، بامیـان، سـکندر در آریانـا، صـنعت بـودایی باختر، یونانی ها در آریانا.

تر تقاعد وروسته د هغه روغتیا ښه نه وه؛ د ناروغۍ پر مهـال یـې سره لـه دې چې ژبې او لاسونو یې ښه کار نه شو کولای، بیا یې هم د (افغانستان در شاهنامه او غرغښت یـا گرشاسـپ) غونـدې گرانبیـه کتابونـه افغـاني ټولنې ته وړاندې کړل.

ارواښاد کهزاد نه یوازې په هېواد کې پېژندل شـوې څېـره وه، بلکـې په نړیوالو علمي ټولنو کې یې هم ډېر شهرت درلـود. هغـه د افغانسـتان هرې څنډې او گوټ ته د علمي څېړنو لپار سفرونه وکـړل. د هېـواد هـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه او هر ولایت یې مطالعه کړ، هره کنډواله او هره ډېرۍ یې وڅېړله. د دې څېړنو لپاره هغه له ژېړ کاروان سره د **۱۳۱۰**ل.کال په وري کې د افغانستان او ایران له سرحد څخه د هرات، فراه، گرشک، کندهار، غزني، کابل او جلال آباد له لارې تر ډکې پورې سفر وکړ.

په **۱۳۱۱**ل. کې له یوه فرانسوي او یوه سویسي سره د کونړ د اسمار-بریکوټ له لارې نورستان ته ننوت او د کامدېش، منډه گل په درو کې د نورستان تر وروستیو سیمو پورې ورسېد.

بل ځل یې د فرانسي د کیندنو له پلاوي سره د **۱۳۱۲**ل. په تله کې **۲۷** ورځې د **۳۰۰۰**زره کیلومترو په مزل سره د ایبکو، شکاري درې، مزارشریف، بلخ، کابل، اندخوی، میمنې، بالامرغاب، هرات، فراه، گرشک، بست، کندهار، مقر، غزني او کابل له لارې د افغانستان د ولایتونو یو بشپړ سفر وکړ.

لنډه دا چې د لرغونپېژندنې د پلټنو په برخه کې به د افغانستان داسې کنډواله، غونډۍ او څوکه نه وي، چې اروابښاد کهزاد پرې پل نه وي ایښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروابناد کهزاد د لیکوالۍ تر څنګ شاعر هم و، په شعرونو کې یې هم هېوادنۍ مینه په څپو ده او له ورایه پکې ځلېږي. دا هم د اروابناد کهزاد د شعر یوه بېلګه:

## افغانستان

ای کشـــــــور افغـانســـــتـــان
ای ســــرزمیــــــن باســـتـــان
مـهـــــد فـــــروغ آریـــــان
پـایـنـــــده نـامـــت جـــاودان
پـایـنـــــده نـامـــت جـــاودان

ای کـشـــــــــور آزادگــــــــان
ای مـهـبـــــط فـــرزانـــــگان
خـــاکـــت کهـــن بختـــت جـــوان
زی شـــادمـــان، زی کـامـــــران
زی شـــادمـــان، زی کـامـــــران

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای مــرکــز مشــــرق زمـــین
فــر تـــو بـا شـــوکـــت قـــریـــن
کانـــون رســــم راســـتیـــن
در پــیـکــــــــر مشـــــــرق روان
در پــیـکــــــــر مشـــــــرق روان

ای قـــلـــــب پـــاک آســــیـــا
ای منبــــع صـــــدق و صــــفا
خـــاک تـــرا چـــون تـــوتیـــا
در دیـــده مـالـــم هـــــر زمـــان
در دیـــده مـالـــم هـــــر زمـــان

حـــب تـــو باشـــــد دیـــن مـــن
عشــــق تــو شـــد آئیـــن مـــن
ای مــــادر شـــیریــــن مـــن
ای کشــــــور بـــا عـــز و شـــان
ای کـشـــــور بـــا عـــز و شـــان

(c) ketabton.com: The Digital Library



افــغـانـــــی افـــغـــان دیـــــــار
آزاده ای در کـــهســـــــــــــــار
دارم بنـــامـــــــت افـتـــخـــــار
تـــا زنـــــده باشـــــــم در جــهـــان
تـــا زنـــده باشـــــــم در جــهـــان

تـــا پـــرچـــم فـتــــح و ظـفـــــر
محــــــراب و مـنــبـــر را بـبــــــر
دارد عقـــابـــی جـــلـــوه گـــــر
در مـطلـــــع مشـــــــرق عـیـــــان
در مـطلـــــع مشـــــــرق عـیـــــان

دغه نامتو مؤرخ، عالم او د هېواد ملي خدمتگار د( **۱۳۶۲**ل. د لیندۍ پر **۳**مه =**۱۹۸۳**م ) د چهارشنبې په ورځ له دې فاني دنیا سترگې پټې کـړې او په کابل کې د شاه دو شمشېره زیارت تر څنگ خاورو ته وسپارل شو.

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د هغه د هلو ځلو په نتيجه کې تاريخ ټولنه (انجمن تاريخ) جوړه شوه.
- ✓ رښتينی مؤرخ او ملي نظره افغان و، د قومونو د ځلونې پر ځای يې د ملت جوړونې بهير ته کار وکړ.
- ✓ د خپل هېواد لرغونی مدنيت، تاريخي اهميت او افغان ملي هويت يې څرګند او عامو ته يې وښود.
- ✓ د لرغونپېژندنې د سترياو په ګاللو او خولو تويولو يې د علم ډيوه روښانه او په پايله کې يې د ملي تمدن او ملي تاريخ تياره ګوټونه روښانه کړل.
- ✓ هره څېړنه يې د ملت جوړونې پر مفکوره سربېره په نړيوالو علمي موازينو هم برابره ده.
- ✓ د افغانستان په معاصر تاريخ کې د ځيرک او اکاډميک مؤرخ وياړ ورپه برخه دی.
- ✓ د تاريخ ليکنې په برخه کې د علمي اصولو د رواجولو وياړ تر هر چا زيات د کهزاد په برخه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# حسن خان گردېزی

حسن خان د محمد زوی او د عبدالمجید سلېمانخېل لمسی، له آره د پکتیکا دی؛ خو کورنۍ یې بیا په گردېز کې استوگنه غوره کړه. حسن خان د امیر حبیب الله خان په دوره په گردېز کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې یې د امان الله خان په دوره کې په گردېز کې پیل کړې او د ظاهرخان په دوره کې فارغ شوی دی. حسن خان ډېر ځیرک او لایق شاگرد و، له پیله تر پای د خپل ټولگي اول نومره و. لومړنۍ دنده یې د پکتیا ولایت د بهرنیو اړیکو په اداره کې د مامور په توگه پیل کړې ده. ورپسې په ځائیو کې د ولسوال او بیا د ارگون د لویې ولسوالۍ ولسوال ټاکل شوی دی.

د والي په توگه لومړی ځل په لغمان کې ټاکل شوی دی. څه وخت د لوگر والي هم پاتې شوی او تر لغمان وروسته د بغلان والي هم پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی دی. د محمد داؤدخان په دوره کې د لغمان د خلکو د پرلپسې غوښتنو له امله له بغلانه را تبدیل او بیا د لغمان والي وټاکل شو.

د غوایي تر کودتا پورې د لغمان والي و، تر کودتا وروسته ونیول شو، څه وخت بندي و، خو د لغمان د خلکو د پرلپسې غوښتنو او سپارښتنو پر بنسټ له بنده خلاص شو. د هغه وخت دولت ورته د دندې اخیستو وړاندیز وکړ؛ خو هغه د بوډاتابه عذر وړاندې کړ، د دولت وړاندیز یې ونه مانه او تر ۱۳۷۰ل. پورې پر کور ناست و.

حسن خان ګردېزي غریبانه او پاک سپېڅلی ژوند تېراوه، له تجملي ژونده بېزاره و، څکه خو یې تر مرګه شخصي موټر هم نه و پیدا کړی. وایي چې زوی یې له امریکا څخه ورته ویلي وو، چې تا ته به د موټر اخیستو پیسې درولېږم، موټر واخله او موټروان ونیسه زه به ستا تر ژونده ستا میاشتنی لګښت او د موټروان معاش درلېږم، چې هوسا واوسې؛ خو هغه دا خبره ونه منله، ویل چې د هغه پیسې به حلالې وي، که څنګه؟! نو زه په دې تېر عمر ځان په مشتبهاتو کې نه راګېروم. په دغه دوره کې د کابل په خیرخانه کې په خپل یوازیني کور کې اوسېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن خان گردېزی دوه ځله د لغمان د والي پـه توگـه دنـده تـر سره کړې ده. هر لغمانی د هغه د خدمتونو یادونه کوي، د هغه د یاد پر مهال د هر لغماني لاسونه هغه ته د دعا لپاره لپه کېږي.

ښاغلی تورن محمدسلیم چې په "یـاور" سره مشـهور دی، پـه دواړو دورو کې د والي حسن خان گردېـزي یـاور و. یـاور صـاحب د ارواښـاد گردېزي د ژوندانه د هر اړخ په اړه ډېر معلومات لري. هغه وایي:

تر والي حسن خان د مخه په لغمان کې "قاضي قـادر" والي و. کلـه چې حسن خان د والي په توگه لغمان ته راغی هغه مهال د لغـمان بـازار په تېرگړیو کې و، د اوسني ولایت شاوخوا زراعتي ځمکې وې او یـوازې یو سماوار دلته و، چې مامورینو ته به یې چای ورکاوه، دلته نور بـازار نـه و. والي حسن خان دلته د بازار بنسټ کېښود، له تېرگړیو یـې بـازار دلتـه راولېږداوه. دولایـت ودانـي یـې جـوړه کـړه، اوسـنی جـامع جومـات او دکانونه یې جوړ کړل.

دا نقشه د هغه ارواښاد له خوا جوړه او تطبیـق شـوې ده. د گردېـزي دروازه تل د ولس پرمخ پرانیستې وه، ولسي خویونه یې درلودل، د هر چـا سره د هغه په سویه گړېده، جرگه مار سړی و. د کونـډې رنـډې، یتـیم او لوی واړه سره یې یو ډول چلند کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د لغمان ولایت ودانی چې والي حسن خان جوړه کړې ده

د دربار خاص پروا یې نه لرله، ان چې سرک یې دربار و، د سرک په سر به یې هم عریضې اخیستې. یاور صاحب وایي چې یوه ورځ مو په مرکزي جومات کې کار کاوه، والي صاحب پخپله ولاړ و، د کار لارښوونه یې کوله، یوه ښځه راغله، ویل دا والي چېرته دی؟ چا ورووښود، هغې ویل دا خو والي نه دی، مانډس دی. والي صاحب ماته مخ کړ، ویل ورشه دا ښځه څه عرض لري؟ چې ورغلم ویل دا عریضه لرم. عریضه مې ترې واخیسته، ورمې وړه، والی صاحب ژر کرغیو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



راجع کړه. هغه د خانانو او ملکانو انډيوال نه و، د غريبو او بېوزلو ملگری او خادم و.



د مهترلام جامع جومات چې د گردېزي په دوره کې جوړ شوی و او په دې وروستيو کې بيا په اساسي ډول ترميم شوی دی.

والي صاحب ډېر سرکونه وغځول لکه دولتشاه ته سرک ده وغځاوه، الينگار ته يې سرک وغځاوه، بيا يې د کچور سرک جوړ کړ. همدا رنگه يې د کرغيو هر کلي ته سرک تېر کړ. د بابا صاحب د زيارت لور ته يې سرک جوړ کړ. د بادپښ لور ته يې تر تبۍ سرک تېر کړ، چې له همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرکه اوس تر "بادپښ" پورې د موټرو او نـورو وسـایلو د تـګ لپـاره ګټـه اخیستل کېږي. که کودتا نه وای شوې، هغـه دا سرک سروبي تـه ویسـته، ځکه چې ډېر لنډ دی او بله دا چې د وریښمین تنګي لاره به بچـه شـوې او هلته بـه د برېښـنا د ډېـرو بنـدونو جوړولـو امکـان پیـدا شـوی وای. اروانښاد حسن خان ډېر فرعي سرکونه هم جـوړ کـړل، چـې اوس زیـاتره هماغه سرکونه قیر شوي او خلک ترې ګټه اخلي.

پلونه یې جوړ کړل مثلاً د زیارت پول یې له هیڅه جوړ کړ. د الینګار د چینچار پول او داسې نور پلونه یې جوړ کړل. د "سراج کـلا" انګـړ یـې وغورځاوه، نغاره خانه یې ورته ورانه کړه او د باغ نقشـه یـې پکـې ښـه او منظمه جوړه کړه. باغ داؤد هغه جوړ کـړی و، چـې اوس اوس غاصـبانو غصب او شخصی دکانونه یې پکې جوړ کړل.

همدارنګـه د مخـابراتو، زراعـت، قومانـدانۍ، مسـتوفیت او فوایـد عامې ریاستونو ودانۍ هغه جوړې کـړې دي. تـر هغـه دمخـه دلتـه څـه خاص دولتي ودانۍ نه وې. هغه هڅه کوله چې د ښـوونځیو ودانـۍ پـه دولتي ځمکه کې جوړې کړي او د ځمکـې پېرلـو پیسـې یـې پـه ودانـۍ ولګوي. په ډیوه، میا عبدالکریم، شـامه ګـل او شـیخ صـاحب کـې یـې ښوونځي جوړ کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمعلم محمد حسن، چې په بزرگ مشهور دی، وایي:

د والي حسن خان دویمه ورځ وه، چې مـوږه معلمـین ورغلـو، څـه گورو چې دی د محکمې د ودانۍ دوه منزلې تـه ختلـی و، کـارگر لگیـا وو، هغه یې سپړودله او ده یې لارښوونه کوله، وداني یې سپړودله او انگړ یې ورته روغ پرېښی و. موږ ډېر ساعت ودرېدو، بیـا چـې راکـوز شـو او موږ ورسره معرفي شو، سترې مه شې مو وکړل. موږ ته یې ډېر نصـیحت وکړ او خدمت ته یې وهڅولو. د ده د راتگ تر وخته په لغمان کـې پنځـه ښوونځي وو: په چارباغ، تیرگړیو، سنگر، اسلام آباد او شمسه خېلو کې. دا نور زیاتره ښوونځي د والی حسن خان په دوره کې جوړ شول. د ده پـه دوره کې معارف ښه انکشاف وکړ.

نه یې تحفې اخیستې او نه یې رشوتونه خـواړه. کـوم سـړي ورتـه د تحفې په نامه څه پیسې راوړې وې، څه کار به یې و، والي صاحب ورتـه کړه چې ستا پیسې اخلم دا د بنده حق دی، الله یـې نـه بخښـي، نـو د الله حق ولې نه خورم چې بخښي یې. زما د پلار هم دومره زکات کېږي، هغه به نه ورکوم، الله یې راته بخښي؛ نو په مخه دې ښـه چـې بیـا داسـې ونـه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمعلم بزرگ وايي: زما ماماخسر چې د امنيه قوماندانۍ تحويلدار و، هغه راته کيسه کوله چې د پولچکونو لپاره څه بودجه منظور شوې وه، هغه مصرف شوه، مصرف يې هم تېر شو او زما سره دوه لکه افغانۍ پاتې شوې، ما ويل چې دا والي صاحب ډېر حکاک سړی دی، داسې نه چې کوم ياداشت يې اخيستی وي؛ نو ما هغه پيسې وروړې په مېز مې ورته کېښودې، په زړه کې مې ويل چې څه نيمې خو به ماته راکړي. کيسه مې ورته وکړه، ويل له ځان سره يې وساته، بيا يې درڅخه غواړم. له اليشنګه چې دولتشاه ته سرک وهل کېده او ورسېده، مخابره يې راوکړه چې کابل ته لاړ شه په هغو پيسو چاى او بوره واخله، په هره خلته کې يو من بوره او يو پاو چاى بند کړه، همداسې ټولې خلتې برابرې کړه او ماته يې راورسوه. هماغسې مې وکړل، چې مې وړورسولې د خلکو هر يوه کس ته يې يوه يوه خلته ورکړه.

حاجي عبدالشکور چې د حسن خان ګردېزي پر مهال لر وخت لپاره د لغمان ښاروال و، وايي: ګردېزي به د سرکونو او نورو ودانيو په جوړولو کې زياتره په معابرو يا قواى کارو، بنديانو او لږه اندازه په ولس هم کار کاوه. سند يې ورکړی و، چې که بنديان وتښتېدل زه يې ذمه وار يم. په دې اړه ياور صاحب وايي: يوه ورځ په شل کلن بند محکوم بندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وتښتېد، دلته په مرکز کې د چینارو لاندې دربارو، پلاوی راغلی و، امنیه قوماندان راغی، ویل چې بندیان مو خوشې کول نو اوس یې ځواب وواياست. ما ویل قوماندان صاحب ولې؟ ویل بندي تښتېدلی دی. زه سمدواره والی صاحب ته ورغلم، خبر مې کړ چې موضوع داسې ده او له موږه ځواب غواړي. هغه کړه ورشه قوماندان ته ووایه چې پلاوی سوال شخصاً ما ته راجع کړي. سوال چې یې والي صاحب ته راجع کړ، هغه په ځواب کې ولیکل:

(( دغه بندي شخصاً والی حسن خان خوشې کړی دی))

ویل دا یوسه او امنیې قوماندان ته ووایه، پا م کوه چې چای- ډوډۍ ورنه کړې، له سرخکانو یې تېر او رخصت کړه. پلاوی لاړ، له دې پېښې پاچا خبر شوی و، مازیگر یې ټلیفون راوکړ، ویل:

(( والي صاحب! بندي تښتېدلی دی؟))

والي صاحب ورته په ځواب کې وویل:

((شاهزاده صاحب بندي تښتېدلی دی؛ خو لغمان تر درونټې راپورته او تر فرشغان راکښته زندان دی، له دې نه شي وتلای همدلته به وي))

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه میاشت وروسته تښتېدلی بندي بېرته راغی، چې ومې لیده ما ویل وه هلکه! ته چېرته وې؟ ویل چا رخصت نه راکاوه او سرکونه یې راباندې جوړول نو...

زه ورغلم والی صاحب ته مې احوال ورکړ، چې تښتېدلی بندي بېرته راغی، ویل رایې وله. چې مې وروست ویل: وه بچه چرا گریخته بودی؟ هغه کړه: والی صاحب! سرکا را جور میکدیم و کسی رخصت نمیداد، مجبور شدیم. والی صاحب وخندل، ویل: ((الی خو گریخته ای، الی برو رخصت استی)) بندي ویل: ((نه صاحب ما بندی استم، زندان میرم، بند خوده تیر میکنم)) د بندي له ډېر ټینگار وروسته مو هغه بېرته زندان ته ولېږه.

ښاروال صاحب وایي: والي صاحب ډېر ساده ژوند درلود، گارگر او زیارکښ سړی و. په خپله به له گارگرو سره حاضر و، د تیږې په سر یا لوړ ځای به ناست و، کار به یې څاره. د کار په مهال به یې همالته له کارگرو سره سوکړک او تروې یا یو دوه دانې جوش هگۍ په هماغې تیږې یا لوړ ځای خوړلې.

یاور صاحب کیسه کوي، چې یو وخت د سرک جوړولو کار روان و، یوه خان ویل چې زه درته ډوډۍ کوم، له والي صاحب اجازه واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما چې والي صاحب ته وویل، ویل ښه ده. خـان چـې ډوډۍ راوړه والي صاحب کارګرو ته امر وکړ، چې کښېنئ، خان ته یې ویل: خان صـاحب ډوډۍ ورخپره کړه. په دې باندې خان صاحب تور واوښت؛ خـو امـر و، نو عملی شو. والي صاحب ما ته ویل زویه! دلته به لږ جـواری او ماسـته پیدا نه شي؟ ما ویل صاحب پیدا به یې کړو. ما رانږدې کوچې تـه وویـل چې ماسته لرې که نه؟ ویل هو! ما ویل چې سوکړک شته که نـه؟ ویـل د تبۍ دی. ما ویل رایې وړه. چې را یې وړل په کاسه کې مو میده کړ، ما او والی صاحب وخوړ.

خان صاحب ته یې وویل: خـان صـاحب دا د دوی حـق دی، چـې کار کوي، موږ څه کوو؟! زموږ همدا بس دی.

یو ځل ماسخوتن له الیشنګه راتلو په یوه ځای کې سرک لـږ خـراب و، موټر یې وداروه راکوز شو، شاتنی موټرې هم ودرېـدې، ویـل: سـلیم خانه صدا کو که ګیسا را بیاره! ما په منډه ګیسونه راوړل هغه سرک مو ژر ژر جوړ کړ او بیا مخ په ولایت وخوځېدو.

له ولس سره یې ډېر په هنر او حکمت چلند کاوه، ولسـي جرګې بـه یې کولې، رسمي چوکاټ ته یې هر څه نه اچول او رسمیات یې ډېـر کـم کارول، عریضه به یې څیروله، ویل به یې: ځئ لاړ شئ خپلو کې په ولس

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې جوړ شئ. که هغسې به ونه شول؛ نو ځو ورځې به یې بندیان کړل، چې ځو ورځې به یې پرې کار وکړ، پخپله به سره جوړ شول، رابه غلل، ویل به یې چې: والي صاحب موږ سره جوړ شوي یاستو، گوره چې لاس تر لاسه ستا مخ ته راغلو؛ نو بیا به یې خوشې کړل.

ځوک یې نه ځورول نو ولس دومره زړور و چې ان کونډې هم له هغه نه خپل حق غوښتلی شو. یوه ورځ مو په کرغیو کې سرک جوړاوه د یوې کونډې په پټي کې سرک تېرېده او هغې یوازې همدا یو پټی درلود. کونډه رقیه نومېده، راغله ویل: والی صاحب! چې مړه نه یم زما په پټي کې سرک نه شي تېرولی. ما والي صاحب ته وویل: والي صاحب تاسو دفتر ته ځئ زه به له دې کونډې سره څه جوړ جاړی وکړم. والي صاحب لاړ، ما رقیه راوغوښته په خندا مې ورته وویل: راځه زه به یو کار وکړم، یو پرزه به درکړم، انکشاف دهات به مواد( وریجې، غوړي، بوره او...) درکړي.

دا خبره پرې ښه ولگېده. "ملا"موټروان ته مې وویل، دا ولایت ته ورسوه چې مواد ورکړي. هغوی چې مې رخصت کړل، ما په بیړه سره کار پیل کړ، چې هغوی رارسېده، ما کار خلاص کړی و. رقیه چې راغله او ویې لیدل چې کار خلاص شوی او په پټي کې یې سرک تېر دی؛ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې خندل ویل: نوش و جان، رښتیا چې پښتون یې. کله چې والي صاحب راغی رقیه مې راوغوښته، والي صاحب ته یې ویل: والي صاحب زه کونده یم پوه نه شوم، چې څه مې درته ویلي چې خفه نه شې، زه اوس پوه شوم، چې دا سرک زموږ په ګټه دی، نوره درخخه لاړم.

ګردیزي به په اوړي کې د الیشنګ "شاهي چینې" ته دربار نقلاوه او دوه میاشتې به هلته و. یاور صاحب زیاتوي، چې ګردېزی بیا له دې ځایه بغلان ته تبدیل شو. دویم ځل چې والي صاحب حسن خان دلته راته زه هغه مهال د بادغیس په جوند ولسوالۍ کې امنیه قوماندان وم. د **۱۳۵۳**ل. کال د جدي **۲۶**مه وه، چې هغه بېرته دلته د والي په توګه راغی. حسن خان ګردېزی د محمد داؤد خان ډېر کلک ملګری او اندیوال و، هغه حسن خان ګردېزی ډېر نازاوه. هغه د داؤدخان د جمهوري حکومت تر پای پورې دلته والي و.

د لغمان په خلکو دومره ګران و، چې د هغه هر امر یې مانه. یوه ورځ محمد داؤد خان لغمان ته راغلی و، چې خبرو ته ورپورته شو، خلکو شور ځوږ کاوه، د خلکو د ګڼې ګونې له امله بې نظمي وه. داؤدخان څو څله د آرامېدو اشاره وکړه؛ خو خلک غلي نه شول، حسن خان ګردېزی ورپورته شو، ویې ویل:((حسن خان ګردیزی میګوید که

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهبر صاحب گپ میزند آرام باشید)) لـه دې سره ټـول خلـک سـمدواره غلي شول، په دې سره داؤدخان هم محسـوس کـړه چـې حسـن خـان د خلکو په منځ کې ځومره محبوبیت لري.

تشریفات یې نه خوښول، ساده مزاجه او پـاک انسـان و، د هـر چـا ډوډۍ یې نه خوړه په ځانگړي ډول د دولتي چارواکو او خانانو- ملکانو. ښاروال صاحب وایي: کله چې هغه د لغمان والي مقرر شو شـفر راغـی چې یوازې رئیسان تر کا کځ مخې ته راشئ. موږ ورغلو، هلته یې هرکلي ته مکتبیان هم ولاړ وو، چې راغی د پوهنې مدیر"مدین خـان وردگ" تـه یې وویل: په دې گرمۍ کې متعلمین په تکلیف کول او لـه سـبقه ایسـتل ښه کار نه دی. چې راروان شو له سرخکانو ورهاخوا یې په لاره ویل چې انجینر فضل الله کوم سرک ویستلی، راځئ چې ویې گورو.



یاور محمد سلیم، مشوانی او شاروال عبدالشکور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخ په ولسوالۍ ورتاو او په يوه لويه باغچه کې کښېنته شولو. والي صاحب ويل: يوه خبره کوم خفه کېږئ خو نه؟ موږ ويل نه صاحب! مهرباني وکړئ. ويل: فکر وکړئ چې نن مو روژه ونيوله.

مستوفي وويل: ((والی صاحب! ولسوال بسيار مصرف کده)) والي صاحب وويل: ((ولسوال صاحب از ملکا پيسه جم کده آلی که از ملکا نان بخوريم، صبا چه رقم کار کنيم)) ورغلو، والي صاحب د صديق پاچا ډېر احترام کاوه، هغه يې خواته کښېناوه. خبرې اترې چې ختمې شوې نو والي صاحب پاڅېده، ډوډۍ يې ونه خوړه او ولسوال "قهار" حيران دريان پاتې شو.

هغه د پوهنې ودې ته هم کلکه پاملرنه کوله، مکتوب يې صادر کړ چې له دفترونو دې ټولې ښځينه معارف ته ولېږل شي، چې هلته د کوچنيانو په زده کړه کې ونډه واخلي.

په شخصي ژوندانه کې متدين سړی و، کورنۍ يې همدلته ورسره وه، کلک ستر يې درلود. سهار وختي به پاڅېده، لمونځ چې به يې وکړ، ځانگړی خوش مزه چای به ورته چمتو و، هغه به يې وڅښه. بيا به ووت، روان کارونه به يې وڅارل، چې دفتر ته به راغی خانه سامان به بيا ښه معطر چای ورته کېښود او يو ډول ډبله پسته ډوډۍ به يې ورته راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډوډۍ به يې په چايو کې خيشتوله او خوړه به يې. عريضې به يې کتلې او احکام به يې ورکول؛ خو زياتره احکام به يې د شپې له خوا پــه کــور کــې ليکل.

چې د ځمکې به اړه بــه کومــه عريضــه وه، هغــه بــه يــې ځنـډې تــه اينښوده، ځکه چې هلته به پخپله ورته او ځای به يې ليده؛ نــو بيــا بــه يــې حکم ليکه. ماسپښين به يې يو ساعت قطعې (ټيکه) کولې. په ټيپ کې به يې نرمه موسيقي لکه د سرآهنګ، اولمير او.. اوريدله. چلم به يــې څکــه او پر سګرټو متعاد و.

د مظاهرو او اعتراضونو په وړاندې يې لــه شــدته کــار نــه اخيســت، بشرمل او نورو چې به مظاهرې کولې، په مظاهرو کې بــه يــې بــدې ردې ويلې او خوشکې به يې کولې؛ خو ده به ويل خير دی، کوي دې يې. يوه ورځ مظــاهره ورځ وه، همداســې اپلتــې او ردې بــدې ويــل کېــدې، يــو کامه وال سرمامور و، هغه په مظاهره پسې روان و، غوښتل يې چې ځينې کسان ونيسي. والي صاحب ورته غوسه شو، ويــل راځــه کــار ورسره مــه لره. لږ مخکې چې لاړو، سرمامور ته يې وويل: (( چتی زنبورها را بــه مــا تور ميتی، بگويه، تمام روز بگويه، چه ای مرا کده ميتانه))

(c) ketabton.com: The Digital Library



زور ته نه تسليمېده، يو مهال لـه مرکـزه د کنټـرول او پلټنـې پـلاوی راغلی و، چې مکتوب يې هغه ته ورسېد، هغه يې په مېز کـې قلـف کـړ، موټر يې وويسـت او چېرتـه د کـار څـارنې تـه لاړ. دوه درځـې وروسـته مستوفي وارخطا راغی ويل: والي صاحب! کـه پـه هغـه مکتـوب بانـدې احکام ورکـړې، چـې هغـه پـلاوی خپـل کـار پيـل کـړي. مکتـوب يـې راواخيست د عرايضو کاتب عصـمت الله د "سـه سـدې" تـه يـې وويـل، وګوره له کومه ځايه راغلی، هغه ځای ته وليکه! کاتب قلـم ونيـوه، ويـل وليکه! ورته پيل يې کړه:

((محمدحسـن گرديـزی همـه روزه از تمـامی امورمـالی و اداری شعبات مربوطهٔ ولايت لغمان وارسي ميکند ضرورت بـه تفتـيش مرکـزی ديده نه شد، وسلام))

په کينې لاس به يې ډېر ساده لاسليک کاوۀ، مکتوب يې لاسليک کړ، وارده او صادره يې راوغوښتل، له مستوفي يې تسـليمي واخيسـته، ورتـه ويې ويل:

(( برو بچيم که نان چاشت درخانهٔ خود بخورد))

اداري پرنسيپ يې په کلکه مراعاتاوۀ، يو مهال پـه منـدروړ کـې پـه سرک اوبه راغلی وې، والي صاحب ورغلی و، هلتـه يـې خلکـو تـه لـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشکه کړې وه، قوماندان چې د ده تر شا روان و، خلک یې لمسول ویل یې: په قانون کې بیګار منع دی او تاسو لګیا یاست. دا خبره والي صاحب اورېدلې وه، دی په موټر کې کښېناست، موټروان "صمد" ته یې ویل ځه! هغه ولایت لورته روان شو، ویل:

(( بچیم طرف کابل برو)) مازیګر یې د امنیه قوماندان د برطرفۍ مکتوب راوړ.

دغه سپېڅلي انسان او د وطن رښتیني معمار د **۱۳۷۰**ل. کال په کب کې له دې نړۍ سترګې پټې کړې او همالته د خیرخانې په هدیره کې خاورو ته وسپارل شو.



د ګردېزي وراره اتفاق احمد "نیک" او مشوانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د ډېرو دولتي دندو له اجرا سره سره يې په هيڅ ځاى کې خيانت نه دى کړى. نېک اخلاقه، متدين، هېواد دوسته او سپين نيتى انسان و.
- ✓ تل يې د وطن جوړولو ته په ډېر هنر اوږه ورکړې ده، ان له بنديانو يې د هېواد په رغاونه کې ښه او معقوله ګټه اخيستلاى شوه.
- ✓ هغه خپله هوساينه او خپله ښکلا د هېوادوالو په هوساينه او د هېواد په ښکلا کې لټوله.
- ✓ د لغمان ډېرې پخوانۍ ودانۍ او زياتره سرکونه او څو مهم پلونه د هغه له نامه سره تړلي دي.
- ✓ د بغلان د نوي ښار پلان او نقشه هم د هغه له نوښتونو څخه دي.

*** *** ***
*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library







# غلام محمد فرهاد

غلام محمد فرهاد د سید احمدخان زوی د ولي محمد خان لمسی په ۱۲۷۹ل= ۱۹۰۰م. کال د میدان وردگو د نرخ ولسوالۍ په ابراهیم خېلو کې زېږدلی دی. فرهاد لومړنۍ زده کړې د خپل وخت له امکاناتو او شرایطوسره سمې د میدان په ابراهیم خېلو کې تر سره کړې دي. په ۱۲۸۹ل. کال یې کورنۍ له میدانه کابل ته کډه وکړه او فرهاد په حبیبیې ښوونځي کې شامل شو. د حبیبیې ښوونځي تر فراغت وروسته فرهاد په هغو لومړنیو افغاني فارغینو کې و، چې په ۱۳۰۰ل. کال کې غازي امان الله خان د لوړو زده کړو لپاره خارج ته ولېږل. فرهاد په دې ډله کې له څو کسو نورو ملگرو سره جرمني ته ولاړ. هلته د "مونشن تخنیکي پوهنتون" د الکتروتخنیک په څانگه کې شامل شو او په ۱۳۰۷ل. کال یې د برېښنا په برخه کې د انجینرۍ ډیپلوم تر لاسه کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۰۷**ل. کال چې فرهاد تر زده کړې وروسته هېواد ته راستون شو، په اماني ښوونځي کې يې درس ورکاوه او په ماشينخانه کې د الکتروتخنيکي څانګې آمر و. فرهاد له دغه وخت راهيسې د خپلو ښو خويونو او نېکو عادتونو له امله خلکو له ډېرې مينې په "پاپا" يعنې پلار ياداوه.

وروسته د فوايدعامې په وزارت کې د برېښنا لوی مدير شو. د جبل السراج د برېښنا فابريکې چارې هم ده ته ورترغاړه وې. په **۱۳۱۳**ل. کال جرمني ته ولاړ، چې د "چک" برېښنا فابريکې لپاره ضروري سامان آلات برابر کړي.

په **۱۳۱۸**ل. کال کې د برېښنا لوی رئيس وټاکل شو. په **۱۳۲۶**ل. کې جرمني ته ولاړ، چې د سروبي د برېښنا فابريکه په جرمني توربينونو سمباله کړي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه چې د فرهاد اصلي ځانګه برېښنا وه؛ نو ده وطن ته د خدمت په لاره کې زيات کار په همدغه برخه کې کړی دی. د اسمايي او شېر دروازې غرونه د فرهاد په وخت کې رڼا شوي وو. تر هغه وخته پورې چې د برېښنا چارې فرهاد ته ورترغاړه وې، د خلکو د ارامۍ او هوساينې لپاره يې هر راز کوښښونه کړي او ډول ډول کړاوونه يې ګاللي دي. د ده د زيارګالنې يوه بېلګه د کابل د يوې شپې د برېښنا د نشتون هغه مشهوره پېښه ده، چې په ګز ګز واورو کې د شپې د چک برېښنا فابريکې ته ورغی او برېښنا يې چالانه کړه.



د سروبي بند کاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کابل ښاریانو سره د هغه لومړنۍ پېژندګلوي هغه مهال وشوه، چې فرهاد او محمدعظیم"په عظیم جان مشهور" په **۱۳۰۷**ل. کال لـه جرمنـي څخه افغانستان ته راغلل، عظیم جان له فرهـاد سره یـو ځـای پـه امـاني ښوونځي کې درس ورکاوه. عظیم جان د هغو بمبـاریو لـه املـه سـخت خپـه او خواشـینی و، چـې پـه پښـتني قبـایلو کېـدلې. دا سـپېڅلی او احساساتي ځوان په باغ بالا کې د انګلستان سـفارت تـه ورننـوت، نایـب سفیر او د سفارت څو کسه نور کارکوونکي یـې پـه تمانچـه وویشـتل او ویې وژل. له همدې امله بیا عظیم جان اعدام شو. د هغه پـه اعـدام کـې فرهاد ودرېد، یو شمېر نور کسان هم ورسره شول، د عظیم جان مړی یـې را جګ کړ، په درناوي یې خاورو ته وسپاره او د ښار په یوه جومات کـې یې د هغه فاتحه واخیسته. دا لومړی ځل و، چې د فرهاد شهامت او لـوړ شخصیت ته د کابل د ښاریانو پام شو.

په **۱۳۲۶**ل. کـې د ښـاروالیو د انتخابـاتو قـانون راووت او وروسـته عملي شو. په **۱۳۲۷**ل. کې فرهاد په جرمني کې و، چې د کابل ښـاریانو د هغه په غیاب کې هغه په خورا زیات اکثریـت د خپـل ښـاروال پـه توګـه وټاکه. په دې ترڅ کې د برېښنا مؤسسو عاملې شورا پرېکـړه وکـړه، چـې فرهاد دې د برېښنان لوی رئیس هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد چې دا وار له جرمني بېرته هېواد ته راستنېده، پر ایـران راغـی. په هرات کې یې ښاروال او ښاریانو تود هر کلی وکړ او همدغـه ډول پـه کندهار کې. چې کابل ته رارسېده نو زښت زیات خلک یـې مخـې تـه د ارغندۍ چوک ته د هرکلي لپاره وروتلي وو.

فرهاد د خپلې ښاروالۍ په وخت کې خلکو ته وروښودله، چـې یـو ښار ځنګه وي او ځنګه جوړېږي. د ده له ښاروال کېدو سره د خلکـو پـه منځ کې د "جادې" او د "جادې جوړولو" کلمې راژوندۍ شوې. د میونـد جاده فرهاد جوړه کړه، چې په خپل وخت کې یو ډېر ستر کار ګڼل کېده.

فرهاد د انګلېسي استعمار د زمانې نښه ورکه کړه، چې نقلیه وسـیلې او موټر به په چپ لاس تلل. ده د عرادو چلول ښي لاس ته کـړل. د ده د ښاروالۍ په وخت کـې ترافیکـي اشـارې مـنځ تـه راغلـې. د ښـاروالۍ جریده "پامیر" هم د فرهاد د ریاست په دوره کې تأسیس شـوه. د فرهـاد د ښاروالۍ په وخت کې ځینې نومونه راژوندي شول لکه"دارالامان" چې په "دارالحبیب" اړول شوی او وروسته "دارالفنون" او بیا "نوی کابـل" شـوی و.

ده د ځایونو په نومولو کې هغه له ویاړ او افتخاره ډک نومونـه غـوره کول، چې ولس ته خپل تېرعظمت وریه زړه کاندي لکـه: شـهاب الـدین

(c) ketabton.com: The Digital Library



میدان، میرویس میدان، احمد شاهي واټ، شېرشاه مېنه، غزنوي مېنه او...

فرهاد په **۱۳۳۳**ل. کې له ښاروالۍ استعفا وکړه او ټوله پاملرنه یې د برېښنا خوا ته واړوله. د هغه تر استعفا وروسته انتخابات نه کېدل او خبره سرپرستۍ ته ورسېده.

یو وار په **۱۳۳۴**ل. د کابل خلکو فرهاد لویې جرگې ته د خپل وکیل په توگه وټاکه. بل ځل په **۱۳۴۳**ل. کې په لویې جرگې د کابل د خلکو وکیل شو، چې دغه جرگه د اساسي قانون د څېړنې او تصویب لپاره جوړه شوې وه.

په **۱۳۴۶**ل. د کابل خلکو فرهاد صاحب د ولسي جرگې لپاره خپل وکیل کړ. څنگه چې د ولسي جرگې کار دومره موثر او اغېزناک نه و، په **۱۳۴۸**ل. کال کې یې له ولسي جرگې څخه د اعتراض او احتجاج په ډول استعفا وکړه.

فرهاد په **۱۳۴۱**ل. کې د **۶۲**کسو نورو افغانانو په ملگرتیا، افغان سوسیال دیموکرات گوند (ASDP) تأسیس کړ، چې د "افغان ملت" په نامه مشهور دی او د گوند نشراتي خپرونه یې هم د "افغان ملت"په نامه یادېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرهاد لا په هلکتوب کې د غازي امان الله خان له ترقي غوښتونکو افکارو سره اشنا شو، بیا نو د امان الله خان په وخت کې جرمني ته د تحصیل لپاره لاړ. کله چې امان الله خان د **۱۳۰۶**ل. په وروستیو وختو کې د اروپا په دوره وتلی و او جرمني ته ورسېده، د امان الله خان او د جرمني د جمهور رئیس فیلډ مارشال (هینډنبورگ HINDENBURG) د ویناو ترجماني هم فرهاد کوله. نو د فرهاد په زړه کې د پاچا امان الله خان د مترقي افکارو، نظریو او په زړه پورې پلانونو مینه پرته وه او د بشرپالنې لېوالتیا خو یې له هیچا پټه نه وه.

کله چې پاچا امان الله خان له وطنه لاړ وروسته بیا د مطبوعاتو له لارې د فرهاد صاحب له کار او فعالیته خبرېده. وایي چې یو لیک یې ورته رالېږلی و. دا هم ویل کېږي چې دوی یو ځل په خپل منځ کې سره لیدلي هم دي.

د حفیظ الله امین په وخت کې د ریشخورو فرقه پاشېده، د **۱۳۵۸**ل= **۱۹۷۹**م.کال د اکتوبر په څوارلسمه یې فرهاد په دې تور ونیو او بندي یې کړ، چې د دغه قیام مشري یې کوله. د **۱۳۵۹**ل. کال په لومړیو وختونو کې چې خلک یې په عمومي ډول خوشې کول، فرهاد هم له زندانه راووت. له زندانه د خلاصون په ورځ زښت زیات خلک محبس ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورغوند شوي وو او فرهاد ورغلیو کسانو ته د تل په څېر یوه له ملي احساساتو او وطنپالنې ډکه وینا وکړه.

فرهاد پر مورنۍ ژبې پښتو سربېره په فارسي، عربي، جرمني او انګلیسي ژبو هم ښه تسلط درلود. فرهاد د خپلو ښو خدمتونو په پایله کې د دولت له خوا نمانځل او ستایل شوی هم دی، چې دا نښانونه یې اخیستي دي: صداقت نښان، عالي نښان او د جرمني تر ټولو لوړ نښان.

د افغانستان نومیالۍ علمي او سیاسي څېره ښاغلی ډاکټر انورالحق "احدي" د فرهاد د شخصیت په اړه وایي:

(( فرهاد ډېر غریبنواز شخص و، له ټولو ولسونو سره یې ناسته پاسته کوله. هغه به آن کله کله داسې امر هم ورکاوه، چې[ که ممکن نه وي؛ نو یو ګروپ ورکړئ] هغوی متعهد خلک وو، لایقه خلک وو، روشن فکره خلک وو، له وطن او خلکو سره یې مینه درلوده، د وطن پر وړاندې تعهد ورسره و او په ملي وحدت باورمن خلک وو))

اروابناد فرهاد د **۱۳۶۳**ل =**۱۹۸۴**م. کال د نومبر په اوومه نېټه په کابل کې مړ او په شهدای صالحین کې خاورو ته وسپارل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د ښار جوړونې او ښاري انکشاف لـه نومونـو سره ولـس اشـنا کول، چې په کابل کې د میوند جادې جوړول یې د کـار پیلامـه وه.
- ✓ ارواښاد فرهاد د برېښنا په برخه کې د افغانستان په کچه تـر ټولـو غوره خدمتونه کړي دي.
- ✓ په لومړي ځل په افغانستان کې ترافیکي اشارې نصبول.
- ✓ د کیڼ لاس پر ځای د موټرو د تګ لپاره ښي لاس غوره کول.
- ✓ په کابل ښار کـې د مـلي اشخاصـو پـه نومونـو د ځینـو ځـایونو نومول.
- ✓ په رښتینې مانا د افغان واحد ملت د تشـکل لپـاره عمـلي هڅـې کول

د ډېرو چارواکو او شتمنو په سرو نو کې د کبر، طغیان او بغاوت نښه وي، هڅه وکړئ چې له اړتیا پرته ور سره ناسته پاسته ونه لرئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# سیدجگړن هزاره

سید محمدحسن مشهور په سیدجگړن د سـیدمؤمن زوی د غـزني د ناورو په گومران کلي کې دنیا ته سترگې غړولي دي. پلار یې د سیمې لـه مخورو او مهمو شخصیتونو څخه و. سید جگـړن پـه کوچنیـوالي کـې د پلار له نعمته محروم شو، خو لومړنۍ زده کړې یې په خپله پلرنـۍ سـیمه کې وکړې.

نادر خان د خپل حکومت په دوره کې د مرکزي سـیمو حـاکمانو تـه فرمان صادر کـړی او پکـې راغلـی وو: (( د هغـو هلکـانو لپـاره چـې د مرکزي سیمو له لویو او بانفوذه کورنیو څخه دي، د پوځي زده کـړو لاره هواره کړئ)) نو له همدې امله د ناور په ولسوالۍ کـې لـه هغـو کسـانو څخه چې پر وړتیا او لیاقت سربېره د هغې سیمې له مخورو کورنیو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼل کېده او د پوځي زده کړو د ښوونځي شرايط يې پوره کـولای شـول، ښاغلی سيدحسن و.

هغه په ملکي او پوځي ښوونځيو کې تر زده کړو وروسته په پای کې له حربي پوهنتون څخه د فراغت سند تر لاسه کـړ. لـومړی د قرغـې پـه پلې فرقه کې د افسـر په توګه او بيا نور **۱۷** کاله د کلات په (**۶۳**مـې) لـوا او کندهار کې د جکتورنۍ تر رتبې پورې دندې ترسره کړې.

وروسته کابل ته تبديل او د شاهي ګـارډ پـه غونـډ کـې پـه خـدمت بوخت شو. په **۱۳۵۰**ل. کې يې د جګړن په رتبه تقاعد واخيست.

تر تقاعد اخيستو وروسته خپلې سيمې ته ستون شـو او پـه **۱۳۵۲**ل. کې يې د خلکو د استازولۍ لپاره ټاکنو تـه چمتـووالی ونيـوه. د ولــسي جرګې له ټاکنو سره هممهاله د چنګاښ په سپينې کودتـا سره دغـه شـورا ملغا اعلان شوه. سـيد محمـد حسـن پـه خپلـه سـيمه کـې د خپـل تـره "سيد مبين" په څنګ کې پاتې شو او له هغه سره يې په ټولنيزو کارونو کې مرسته کوله. سيد مبين يو مېړنی او سوله دوست مخور سپين ږيری و، تل به ولسي پېچلي مسايل د حل لپاره هغه ته راتلل.

د **۱۳۵۷**ل. کال د غوايي د اوومـې تـر کودتـا وروسـته جګـړن سـيد محمد حسن د غـزني ولايـت پـه نـاور ولسـوالۍ کـې د جهـاد لـومړني

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوځښتونه پيل کړل. د قياق په جبهو کې يې ګروپونه جوړ او د ديني عالمانو تر لارښوونې لاندې يې جهاد پيل کړ.

د**۱۳۵۷**ل. په وروستيو کې يې د خلکو په پراخ ګډون سره د ناور او جغتو ولسوالۍ ونيوې. څرنګه چې پوه شو، خپرې ورې جبهې دومره اغېزناکې نه دي، نو د نورو مشرانو په مرسته او ګډون يې د **۱۳۵۸**ل. په ورې کې د اتفاق اسلامي سرتاسري شورا رامنځ ته کړه. په هماغې لومړۍ غونډه کې د رايو په اتفاق د همدغې شورا د عمومي پوځي قوماندان په توګه وټاکل شو.

جګړن سيد محمد حسن د جهاد په دوران کې ډېر شهرت وموند او د ځو جهادي مشرانو له خوا ورته د هغه مهال له معمول سره سمه د جنرالۍ رتبه ورکړې شوه، چې بيا په جنرال آقا مشهور شو.

د **۱۳۷۱**ل. د غوايي په اتمه د اسلامي دولت په رامنځ ته کېدو سره څه وخت د دفاع وزارت لومړی معين و. په همدې وخت کې د سترجنرال رتبه هم ورکړې شوه؛ خو دغه منصب ورته ډېر پاتې نه شو.

هغه د اتفاق اسلام د شورا تر رنګېدو وروسته د کورنيو تنظيمي جنګونو او ورور وژنو پر مهال په ډول ډول شعارونو او سرو او شنو باغونو ونه غولېده، خپلې پلرنۍ سيمې ته ستون او د خپل ولس تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته پاتې شو. د چوکۍ او قدرت په سر د ورور وژنو، کابل ویجاړونو، ملي شتمنیو لوټنو او نورو جنایاتو کې ونډه وانه خیسته او همالته یې له خپلو سیمه والو سره ژوند تېراوه.

د بن تر غونډې وروسته ښاغلي کرزي هغه د خپل نظامي مشاور په توګه وټاکه؛ خو د هغه سپېڅلتیا، ملیتوب او هېوادپالنې هغه ولس ته دومره نږدې کړی، چې درنښت یې پر خپل ځای پاتې دی.

**ګاندي وايي اووه څيزونه او وير پرته خطرناک وي:**

لــــه زيــــار پرتـــــه شــــتمني
لـــه شخصـــيت پرتـــه پوهـــه
لـــه انســـانيت پرتـــه علـــم
لـــه شـــرافت پرتـــه سياســـت
لـــه وجـــدان پرتـــه لـــذت
لـــه اخلاقـــو پرتـــه تجـــارت
او
لـــه سرښـــندنې پرتـــه عبـــادت

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ سيد جګړن له مذهبي، قومي او ژبنيو تبعيضونو پر ځنډه افغان دی.
- ✓ ملي مفکوره لري او د ملت خدمت خپل وياړ ګڼي.
- ✓ هغه د مذهبي، ژبنيو او قومي شخړو پر مهال خپل ملي توب څرګند کړ.
- ✓ هغه د ځينو نورو قوماندانانو غوندې شخصي پانګې راټولې نه کړې او د هغو پر ځای يې د آخرت ګټلو لاره غوره کړه.
- ✓ سره له دې چې پوځي شخص دی؛ خو په ولسي نرخونو او دودونو ښه پوهېږي او تل يې د خپل ولس په روغو جوړو کې هڅې کړي دي.

له زور او ځواک سره مينه يو ډول لېونتوب دی، نفس له دغې ناروغۍ څخه د پرلپسې روزنې په تمرين روغېدای شي.

*** *** ***

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library





# ډګروال جمال الدین

جمال الدین خان د غوث الدین خان زوی په ۱۳۰۷ل. کې د میدان وردګو ولایت د سید آباد ولسوالۍ د اونخي درې د حکیم خېلو په کلي کې زیږېدلی دی.

په ۱۳۱۶ل. کې د شهرآرا په "احضاریه " ښوونځي او په ۱۳۲۰ل. کې په حربي ښوونځي کې شامل شوی دی. په ۱۳۲۶ل. کې په حربي پوهنتون کې شامل شوی دی. د ۱۳۲۹ل. کال په تلې کې د حربي پوهنتون د استحکام له پوهنځي فارغ شوی دی. په همدغه کال د استحکام په غونډ کې د ټولي د قوماندان په توګه مقرر شو، چې تر ۱۳۳۳ل. کال پورې یې همدغه دنده ترسره کړه.

په ۱۳۳۴ل. کې چې د کابل- تورخم سرک جوړېده؛ نوجمال الدین د غارو تنګي د کار د قواو د یونټ قوماندان وټاکل شو. دوه کاله وروسته په غارو تنګي کې د ټولي د قوماندان او د کار د قواو د پنځم یونټ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشینرۍ د مدیر په توګه وټاکل شو. په **۱۳۳۷**ل. کې د ختیځو ولایتونو د لویو لارو د ساتنې او څارنې د لوی مدیر په توګه وټاکل شو.

اروابناد دا دندې په ډېر صداقت سرته ورسولې او په پایله کې د سالنګونو پروژې ته تبدیل شو. دا په هېواد کې تر ټولو ستره ملي او اقتصادي پروژه وه. تر **۱۳۳۹**ل. پورې په سالنګونو کې د سوېلي سالنګ د کار د قواو قوماندان او تر څنګ یې د ټرانسپورټ لوی مدیر هم و.



په **۱۳۳۹**ل. کې بېرته کابل ته راتبدیل شو او تر**۱۳۴۱**ل. پورې په تنګي غارو کې د ماهیپر د لویې لارې د لومړي یونټ دکار د قواو قوماندان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library





بیا په **۱۳۴۲**ل. کې د نورو لوړو زده کړو لپاره یوگوسلاویا تـه ولېږل شو. تر زده کړو وروسته هېواد ته راستون شو او له **۱۳۴۴-۱۳۴۶**ل. پـورې د هرات، کندهار او تورغونډۍ د تعمیراتو مرستیال و.

په**۱۳۴۶**ل. کې د افغانستان په کچه د کار د قـواو د ټرانسـپورټ لـوی مدیر مقرر شو.

په **۱۳۵۲**ل. کې په ننگرهار کې د کار د قواو پرمختیایي آمر و.

له **۱۳۵۲**- **۱۳۵۴**ل. پورې په بلخ کې په همدغـه دنـده بوخـت و. پـه **۱۳۵۵**ل. کـې د کـار د قـواو پـه احتیـاط کـې و. بیـا پـه **۱۳۵۶**ل. کـې د سمنگانو په صوف دره کې د ایبکو د یونټ د کار د قواو قوماندان و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په **۱۳۵۷**ل. کې د کابل د ښرخي زندان او د مرکز د کار د قواو د دویم یونټ قوماندان و.



محمد داؤد خان، ډګروال جمال الدین او... د نغلو د دهن قول په (باغ داؤد) کې

په **۱۳۵۸**ل. کې یې د ملي دفاع وزارت د دیوان حرب د رئیس په توګه دنده ترسره کړه. تر **۱۳۵۸**ل. وروسته د ساتنې او څارنې د لوی رئیس په توګه وټاکل شو.

جمال الدین خان په پوځ کې تر برید جنرالۍ پورې ترفیع کړې وه. هېواد دوسته، خدمتګار او بې پرې افسر و، په هیڅ ګوند او حزب پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library




تړلی نه و. د تره کي، امين او کارمل په دورو کې درې ځله بندي شو، خو بېرته راخوشې شو.

جمال الدين خان تر هرڅه زيات د سالنگونو په لاره کې شپه او ورځ، اوړی او ژمی خدمت کړی دی. پخپله يې ستونزې او کړاوونه گالل؛ خو هېوادوال يې په دې لاره کې له ستونزو او کړاوونو ژغورل. هغه به په سپينو وارو او توپانونو کې گز گز واورې پاکولې او د موټرو لاره به يې خلاصوله.

د خپلو مهمو او ارزښتناکو خدمتونو له امله د دولت له خوا په نښانونو او جايزو هم نازول شوی دی. په **۱۳۳۷**ل. کې د ختيځو ولايتونو د لويو لارو د ساتنې او څارنې د لوی مدير په توگه د ښو خدمتونو له امله"د وړتيا نښان" ورکړی شوی دی. له **۱۳۴۴-۱۳۴۶**ل. پورې چې د کندهار، تورغونډۍ د تعميراتو مرستيال و، د خپلو رښتينو خدمتونو له امله په" څلورمه درجه ستوري نښان" نازول شوی دی.

همدارنگه د هغو صادقانه او ارزښتناکو خدمتونو له امله چې په سالنگونو کې يې تر سره کړي وو، له درباره د يو ميل تمانچې په اخيستلو بريالی شوی دی.



دارالتحریر شاهی

باراده سنیــــه اعلحضرت معظم همایونی !

برای ښاغلی جمال الدین خان مدیر ماشینري حصه

دوم سالنگ که حسن خدمت وفعالیت وي در امور مربوط بحضــــور

همایونی مشهود گردیده است بتاریخ ۳۱–۳–۱۳۳۸ یك میــــل

تفنگچه نمبر ( ۵۰۰۰۴۹ ) چکوسلواکی معه پنجاه عدد کارطــوس

طور بخشش اعطــــاء گردیده –

دارالتحریرشاهی بدین وسیله اعطای تفنگچه مزبـــور

را به مشارالیه تصدیق وتائید می نماید . ( )

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . . (کفیل سرمنشی حضور)

جمال الدين خان متدين انسان و، د هغه د کورنۍ له خوا په بغلان ولايت کې يوه يتيم خونه او جومـات ودان شـوي او لگښـت يـې هـم د دوی د کورنۍ له خوا ورکول کېږي.

پـه خپـل کـلي حکـيم خېلـو کـې يـې روغتيـايي کلينيـک، د هلکـانو دارالحفاظ، د نجونو دارالحفاظ، يتيم خونه، د نجونو لومړنۍ ښوونځی

(c) ketabton.com: The Digital Library




او د هلکانو منځنی ښوونځی(اوس لیسه ده) جوړ کړي دي.



د سالنگ تونل

په **۱۳۶۵**ل. کې د مجاهدینو په جامه کې د قاتلو خادیـانو لـه خـوا د بغلان د خنجانو ولسوالۍ په "باجگه" نومې ځای کې شهید کړای شو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغه جسد پـه **۱۳۸۵**ل. کـې د هغـه د کـورنۍ لـه خـوا راوړل او د وردګو د اونخې درې د حکیم خېلو په کلي کـې د یـوې غونـډۍ پـه سر خاورو ته وسپارل شوه.



ډګروال جمال الدین خان د تاشقرغان تنګي د سرک ډمبرولو پر مهال له ملګرو سره

له زور او ځواک سره مینه یو ډول لېونتوب دی، نفس له دغې ناروغۍ څخه د پرلپسې روزنې په تمرین رغېدای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځانګړې کارنامې:

- ✓ د ماهيپر په ترنګونو کې د تور ښامار په څېر کږه وږه تـوره کرښـه تېرول



- ✓ د هېواد د نښلولو لپاره د سالنګ په زړه کې روښانه او ډاډمنه لاره تېرول.
- ✓ د کار د قواو د ټرانسپورټ د لوی مديريت په دوره کې ويجـاړه او بېکاره مشينري ترميمول او کار ته چمتو کول.
- ✓ له مجاهدينو سره يې هم کلکه همکاري او همدردي لرلـه ځکـه خو يې هغه روسي سلاکاران له مجاهدينو راخوشـې کـړل چـې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی نیولي وو او ده ورځخه په سالنګونو کې د ابزاري وسـیلې په توګه کار اخیست.




له ښي لوري موټروان ایوب خان، امان الله امان، مشوانی، سیدروان نورزی او فرهاد

پهٔ کعبهٔ کې د ډېرو طوافونو لهٔ ثوابهٔ پهٔ زړونو کې د ځالو جوړولو ثواب لوی دی.

*** *** ***

*** *** ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ماخذونه

۱- احساس، ذبیح الله، بلخ او مومند بابا، پرخه مجله (اتـم کـال لـومړۍ گڼه – ۱۳۹۱ل وری).

۲- ارغنداوی، عبدالعلی، ژوندۍ خـاطرې، د بي بي سي پښـتو څانگـه، پبلک آرټ پریس پېښور، ۱۹۹۷م.

۳- اکرم، داکتـر عاصـم، نگـاهی بـه شخصـیت، نظریـات و سیاسـت هـای سردار محمدداؤد، ۱۳۸۰ش.

۴- اوسني لیکوال، عبدالرؤف بېنوا، ترتیب او زیاتونې مطیع الله روهیـال، علامه رشاد څېړندویه ټولنه، کندهار، ۱۳۸۸ل.

۵- پښتانه شعراء، څلورم ټوک، څېړندوی عبدالله بختـانی، د افغانسـتان د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه، ۱۳۵۷ل.

٦- پنهان، فضل محمد، شهید محمدداؤدخان د تـاریخ پـه هنـداره کـې، ۱۳۸۷ل.

۷- ځولۍ مجله، کامه وال عبدالله، دویمه کالگڼه، پرلپسې ۱۱-۱۲ گڼه.

۸- حبیبی، عبـدالحی، جنـبش مشـروطیت در افغانسـتان، انتشـارات کمیتـه دولتی طبع و نشر ج.ا، مطبعهٔ دولتی، ۱۳۶۷ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- حسینی، نعمت، سیماها و آواها، اطلاعات و کلتور، مطبعهٔ دولتی، **۱۳۶۷**ش.

۱۰- حلیم، حیات الله، د وردگو مشاهیر، لومړی، دویم او دریم ټوکونه، پخپله لیکوال، بهیر چاپخونه، **۱۳۹۱**ل.

۱۱- د مومند بابا یاد، د مقالو ټولگه، دپوهاند رښتین مقاله، د ساپی د پښتو څیړنو او پراختیا مرکز، **۱۳۸۳**ل.

۱۲- دانشنامه آریانا: کهزاد، احمدعلی/**۲۰۱۵۲/۲۳**

۱۳- روهی، کاندید اکاډمیسین، د پښتو ادبیاتو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، **۱۳۸۴**ل.

۱۴- ریان، بشیراحمد، مترجم عزیزاحمد ریان، زندگینامه مختصر شاهان افغان،اداره انتشارات صدیقی، **۱۳۸۹**ش.

۱۵- زرملوال، غلام محمد، د محمدآصف صمیم په اهتمام، افغانستان تر وروستی افغانه، دانش خپرندویه ټولنه، **۱۳۸۳**ل.

۱۶- سون ارا، معاون سرمؤلف سلیمان، نورستان، انتشارات کتب بیهقی، **۱۳۹۲**ش.

۱۷- شفیق، محمدموسی، دا په یاد د محبت درسره واخله، د شهرت ننگیال په اهتمام، دانش خپرندویه ټولنه، دویم چاپ، **۱۳۸۶**ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- طنین، ظاهر، افغانستان در قرن بیستم، عرفان، محمد ابراهیم شریعتی افغانستانی، تهران، ۱۳۸۳ش.

۱۹- عبدالرحیمزی، عبدالملک، ارمغان زندان (یاداشتهای) شمشاد مطبعه، کابل، ۱۳۸۸ش.

۲۰- غبنتلی، حفیظ الله، گوربت مجله، لومړی کال، لومړۍ گڼه۱۳۷۸ل.

۲۱- فراهی، عبدالغفار، افغانستان د دیموکراسۍ او جمهوریت په کلونو کې، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۱ل.

۲۲- قیومی، څېړنوال عبدالشکور، د پښتني کلتور په بډاینه کې د عبدالرحمن پژواک دریځ، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۸۹ل.

۲۳- کرخی هروی، محمدوزیر اخی، هرات در عهد ملکیار، انتشارات احراری، هرات- افغانستان، ۱۳۹۰ش.

۲۴- لوډویک آډامیک، ژباړن نثاراحمد صمد، د شلمې پېړۍ تر نیمایی د افغانستان د بهرنیو اړیکو تاریخ، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ل.

۲۵- له پیله تر۱۳۵۷ل پورې، د افغانستان کالنۍ بېلابېلې گڼې.

۲٦- مراد مجله، د شهید محمد موسی شفیق د علمي سیمینار په وياړ ځانگړې گڼه، درېیم کال درېیمه گڼه ۱۳۸۷ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲۷- نایـل، محقـق حسـین، کهـزاد و پـژوهش هـای او، اکـادمی علـوم جمهوری افغانستان، مرکز علوم اجتماعی، کابل، **۱۳۶۶**ش.

۲۸- ننګیال، شهرت، ګندهارا مجله، **۱۳۷۹**تله- ورغومی، **۱۳- ۱۴** ګڼه.

۲۹- وردګ، روښنا، ګودر مجله، اووم کال، پرلپس ۍ **۲۳** ګڼه زمری.

۳۰- هیله مجله، اووم کال، دویمه ګڼه**۱۳۸۲**ل، پرلپسي **۳۸**مه ګڼه.

۳۱- http://www.jadidonline.com/story/۱۲۰۱۲۰۰۹/frnk/goharshad_mosque

۳۲- http://database-aryana-encyclopaedia.blogspot.com/۲۰۰۹/۱۰/blog-post_۲٦.html

۳۳- ttp://database-aryana-encyclopaedia.blogspot.com/۲۰۰۸/۱۲/blog-post_۱۰.html ۸/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرکې:

۳۴- اتفاق احمد، نېک(د حسن خان گردېزي وراره) گردېز، **۶۰**کلن.

۳۵- احمدجان د فیض محمدخان (مشهور په رئیس فیضو) زوی، گردېز، پکتیا.**۷۲**کلن.

۳٦- انور الحق احدي، د افغانستان د مالیې پخوانی وزیر او د افغان ملت گوند مشر.

۳۷- حاجی انارگل د گل نذیر زوی، قاضی کلا، کرغیو ولسوالي، لغمان ولایت، په **۱۳۳۹**ل کې د خورد ضابط په رتبه فارغ.

۳۸- حاجي ولي اکبر ځدراڼ، نادرشاه کوټ ولسوالي، خوست، **۷۶** کلن.

۳۹-حبیب الرحمن د میرمحمدخان زوی، گرمکیو، خوست، **۷۰**کلن.

۴۰- حسینی، څېړنپوه ډاکټر سکندر، د زراعت انستیټیوټ آمر، د ا فغانستان د علومو اکاډمي.

۴۱- سرمعلم بزرگ، محمدحسن د محمدنذیر زوی، گل بېله، لغمان مرکز، **۹۵**کلن.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۲- شاروال، عبدالشکور د عبدالقادر زوی، علی خېل، لغمان مرکز، د کابل د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي فارغ، ۶۹کلن.

۴۳- صدرگل(په وجک مشهور) د سیفو زوی، سماوات کلی، مندوزي، خوست، ۶۱کلن.

۴۴- صمیم، استاد محمدآصف د صمیم الله زوی، اخون کلا، کامه ننگرهار، ۶۳ کلن.

۴۵- عصمت الله د غلام رسول پرماچ زوی، نیلاب کلی، دوآب ولسوالي، نورستان ولایت،۶۱ کلن.

۴۶- هاند، انجینر هارون د محمدنعیم زوی، ننگرهار، جلال آباد، د زراعت پوهنځي فارغ، د سیمه ییزو ارگانونو کارمند، ۳۱کلن.

۴۷- یاور، محمدسلیم د علي احمد زوی، ده زیارت غونډۍ، لغمان مرکز، د پولیسو اکاډمۍ فارغ،۷۰ کلن.

۴۸- یکه، استاد امیر محمد، مزارشریف، بلخ، ۶۳ کلن.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library